

3
Copy
SMITHSONIAN INSTITUTION
WASHINGTON 25, D.C.

پریشان افکار :

پښتنو !!!

ترکله به ....

دنایوهی له تروږ مې ځانونه نه باسی ؟

ترکله به ددنیا اوما فیهانه ناخبره یاست ؟

ترکله به ځان اوجهان نه پیژنی ؟

ترکله به‌دتش «پښتون» په‌نامه مغروره یاست ؟

ترکله به دا سلافو ترانې و ایی اودا خلافو لاڅه چه دځان غم هم نه کوی ؟

ترکله به مو «نولس» نه «شل» کیږی ؟

ترکله به لوڅ لپړ او وږی تږی گرځی ؟

ترکله به دخپل ورور اوعزیز سره روغه نه کوی ؟

ترکله به بې سده بېخوده، بیعقله ، بیعلمه ، بې ژبې او بې نظامه یاست ؟

ترکله به‌په وطن کښې بې وطنه اوله خپلو نه پردی یاست ؟

ترکله به په خرافاتو غولېږی، اودحق اوحقیقت سره دښمی کوی ؟

ترکله به په خپل خبرو شرنه پوهېږی، اوخپل دوست ودښمن نه پیژنی ؟

ترکله به ددرداحساس نه شی کولای اوخپل اجتماعی در دونه نه تشخیصوی ؟

ترکله به ناروغه ، نا پوهه ، ناداره یاست !

ترکله به دخپلی طبعی‌اوفطری قواؤ نه پخپله کار نه آخلی ؟

ترکله به دژوند په راز نه پوهېږی، اودژوند له مزایاؤ اوحقوقونه برخه نه آخلی !

واوری ! ویښ شی ! فکرو کړی ؟ !!!

ترڅو به بې کوره ، بې اوره ، بې‌حقه ، بې اتفاقه ، په خواری ، اوفلاکت‌سره ژوند تېروی ؟؟؟

ای پښتنو !!!

ستاسی ورور : عبدالله «بختانی»

(۱۸ کال)　　د عقرب ـ ۱۰ ـ ۱۳۲۷　　(۱۶ گڼه)

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره مجله

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

د پښتو ټولنی له خوا نشرېږی

لوی مدیر : عبدالرؤف « بینوا » د پښتو ټولنی مشر

داخلی مدیر او مهتمم : یارمحمد « نظامی » د صحافت مدیر

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ

تلگرافی پته : کابل ، پښتو ټولنه

اشتراك

کابل :	۳۶	افغانی
د ننه مینه :	۴۰	«
د باندی :	۱	«
د باندی :	۱	سترلنگ پونډ
د ښوونځیو زده کوونکو ته :	۱۸	افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
دبیدیا ګلونه	ښاغلی «راښین»	۱
ویښ محلمی او عمل	« « شفیق »	۹
یادونه	« « بینوا »	۱۳
دښځو دتعلیم ضرورت	« د« ګران» ترجمه	۱٤
وژاړی عالمه	« اخلاص»	۲۰
برچی له اور بتره	« « جرار »	۲۱
زه او زړه	« نوری »	۲۲
خزان	« « سلیمی » وردك	۲٤
هغه پښتانه څه شو	« «احمدی »	۲۵
دبهو پال مولانا برکت‌الله	« د« سیفی » ترجمه	۲٦
پښتو ټولنه	« « قاضی عبدالعلیم	۳۵
سیرة‌النبی (ص)	« برهان الدین خان کشککی» ترجمه	
دپښتو متلونه	ټولوونکی ښاغلی « نوری »	
عکسونه (٤) قطعی		

دراديواه کنفرانسو څخه :

دبيديا گلونه

ښاغلی صديق الله رشتين :

په دې ورځو کښې دبيديا گلونو په نامه دپېښور دنو ميالی پښتون شاعر سيد رسول «رسا» داشعارو يوه مجموعه په پښاور کښې چاپ شوی اوزمونږ گو نوله راغلی ده نو غواړو چه دغه لوی شاعر اودهغه اشعار گرانو اوريدونکو ته معرفی کړو .

سيد رسول «رسا» دپېښاور يو مشهور شاعرا وادیب دی ټول پښتانه اديبان دده له خوازه نامه سره آشنا دی اوديو لوی شاعر په حيث ئی پېژنی . ده دپېښور په کالج کښې تحصيل کړی اويو خورا منور ځلمی دی دده ډېر خوندورا شعار دخيبر په مجله او پښتون مجله کښې نشر شوی اوزمونږ له نظرنه تير شوی دی .

دده مشهور شعر د «خيبر له خوا ماښام» دومره شهرت موندلی دی چه څوڅو ځله بيا بيا نشر شوی دی، حقيقت دادی چه درسا دغه يوشعر هم دده شعری مقام اولوړه قريحه په ښه شان څرگندوی اودی دپښتو ادب په لوړو اوپخو شاعرانو کښې شمېری، پاتی لادبيديا گلونو مجموعه ـ ښاغلی سيد رسول رسا سږ کال داستقلال په ۳۰ جشن کښې دپېښور دادبی جرگی سره کابل ته هم راغلی ؤ اودلته ئی دپښتو ټولنی له اديبانو سره په ډېر وادبی بحثونو اوشعری څېړنو کښې برخه واخسته .

«رسا» دژوندانه په ټولو برخو کښې دصحيح اورسا فکر خاوندی، په هره موضوع کښې پوخ اوعلمی بحث کولای شی، په تېره دعلم وادب له دنيا سره ډېره آشنائی لری اوپه شعر

اوشاعری باندی پخی تبصری کوی «رسا» د۳۵ کالو په عمر یو دردمن اوحساس شاعردی، دپښتو اوپښتو تولی مینه اوجذبه، پکښی ډېره قوی ده، اوپه همدې رنګ رنګ دی. څومره درد، سوز، دضمیر پاکی اوصفا ئی، دخیالاتو او احساساتو سپېڅلتوب چه دیو حقیقی اورشتینی، شاعر دپاره په کاردی، هغه ټول په پوره او کافی اندازه په ده کښی موجود دی اوپه ټوله معنی یو طبیعی رسا شاعرا ودعالی روح اولوړ همت خاوند دی.

«رسا» دپېښور په ادبی ټولنو او مجالسو کښی لوی نوم لری، دده شعر ته ټول شاعران داولیت حق ور کوی په زیاتو مشاعرو کښی ئی برخه اخستی ده اوبریالی وتلی دی.

د کابل دراډیو په مشاعره کښی چه دسږ کال په جشن کښی وشوه دده شعر ډېر خوښ کړی شو.

«رسا» مستقل چاپ شوی آثار یو (ښاغلی پښتون) نومېږی چه دخوشحال خان خټك په شاعری باندی یوه پخه اوخوندوره تبصره ده اودمحمد نواز خټك په کوښښ په پېښور کښی چاپ شوی ده اوبل اثرئی همدا (دبیدیا ګلونه) دی چه اوس ئې معرفی کېږی.

ښائی چه ښاغلی رسانور قلمی آثار هم ولری.

د«رسا» شاعری یوه مسلکی شاعری ده، دده په اشعارو کښی یوزبردست قوی روح، پاکه جذبه، صداقت اوبو نصب العین لیدل کېږی. دده په اشعارو کښی دفکر اوخیال تشتت او ګډو ډی نه ښکاری اونه هرڅه هرڅه وائی.

درسا اشعار دستاینی یعنی ثنا صفت او خوشامندو څخه بیخی خلاص او پاك دی، دده په اشعارو کښی قومی، اجتماعی اوعشقی اشعار زیات دی اودا داسی خیالات دی چه دلوی نه لوی شاعر دپاره هم دهغو ښکاره کول یو لوی مقصد دی. داوجه ده چه رسا دفطرت دنورو شاعرانو په څېر دعشق په لوی دریاب کښی هم ښې غوټی وهلی او ښکلی مرغلری ئی تری را ویستلی دی کله چه ددې دریاب له چپو څخه راوتلی دی نو بیائی دپښتو نولی په دنیا کښی دخوشحال، میرویس، احمدشا، اوشیرشاه سره هم خوږې خبری را اخستی دی.

درسا په اشعارو کښی رباعی ګانی (څلوریځی) قطعی، غزلونه، لوبی لنډی اونور هرډول اشعار شته. دادی اوس مونږ دده داشعارو له بن څخه یو څو ګلونه راټولوو اودهغو خوږه وږمه دهوا چپو ته سپارو.

عشقی برخه :

دټولو شاعرانو دزړه څخه ړومبی ړومبی دعشق آواز خېژي، او دحمید غوندی د سوز او محبت غوښتنه کوی :

الـهی دمحبت سـوزو گـدا ز را په دا اور کښی دستی سمندر ساز را

هو ؟ رحمان بـابـا هم‌عشق دټولو مخلو قاتو پلار بولی :

دادنیا ده خدای له عشقه پیدا کړی د جمله ؤ مخلو قـا تو پلار دی دا

نورسا هم حق لری چه ددې لویو مقدسو شاعرانو په پیر وی کښی په دغه ژور دریاب ور گډیږی اووائی :

الهی مینه کښی زړه لـکه شـر ر را چه‌په زړه کښی اور بلی‌هغه دلبر را

دشب تـاب‌رڼا اوسوز دپتنگ غوا ړم د بلبل سوی چغا ر او شور شر را

دزر کـانو ښکارمی کـاردی زه‌شاهین‌یم دشاهین په‌شانی ستر گی تیزنظر را

چه سخت زړونه‌دخو بانولکه‌موم کړی په ژړا کښی د سحر هغه اثـر را

بل ځای وائی :

په دنیا ئی را له وښـود و قیـا مـت لیو نتوب دمحبت دی لـوی آ فـت

امید شته چه‌دبـا درولیونی روغ شی روغ بـه‌نشـی لیـو نـی د محبت

* * *

په دی څلوریځه کښی دعشق زورښئی :

دنمر گو نه گرم دعا شق په و ینو سرو شول دستوروزړونه‌ویلی‌دمین‌زړه‌یه‌نمر وشول

دنمر په‌مخ چه خړه‌وریځ راغله په آسمان کښی وریځ نه‌ده، پټ هر څه دمین په‌اسویلو شول

* * *

دیو ښکلی محبوب سره څومره خوندور خطاب کوی او وائی :

نه می کـار شته ستـا په‌حسن نه‌می کـار ستـا په نخر و شته

گلبدنه ستـا په عشق کښی، اوس ژړامی په شیبو شته

ته په تلو کښی خوری تالونه، په قدم قدم ناز و نه

داسی ښکلی خرامونه، دکوم زرك په سر دار وشته

لکه ستا نظر دستر گو ، چه زړه څیری وبری یو سی
داسی سری خو نکاري پنجی ، نه دباز نه د باښو شته
زه تري څه جوړ کړمه ربه ، سرنگون دوجاله ناست یم
نه تری زړه شم صبرولی ، نه څه شان اوس دور تلو شته
نه لبان دي گلابی دی ، نه چشمان دي خماری دی
خو دحسن سیال دي کله ، په وطن دښا پیرو شته
تا په نیمو پټو ستر گو ، داسی زړه می نیم پخته کړ
نه امید شته چه به روغ شی ، نه امید ئي نور د سود شته
ته تر اوسه پرې پوه نشوی ، وصال عشق لره یو مرگ دی
که دعشق حیات دي غواړی دهجران په سرو لمبو شته

د کاینا تو وصال او دځان یوازی توب ، په څه ښه رنگ کښې بیا نوی :

شین آسمان دستورو ډیه غره راتیت شو — اسپوږمی رڼا دسین غږ کښی ویده شوه
د ماښام دباد چپو گلونه ښکل کړل — په دنیا تیاره خپریږی توره شپه شوه
زه یواځی ځانته ناست ستا انتظار کړم — که ته رانشی دژوندونه څه فایده شوه
ژوند نواڅه دی ستا په غیږ کښی څوخبری — بی له تانه جهان واړه اد یره شوه

* * *

اوس دخوند مجلس او خوږه مر که شروع کیږی او دخوشحال خان او رحمان مره دخیال په دنیا کښی داسی لگیا کیږی :

که ځوان او خان شاعر راز دان په یو انسان کښی گوری
نو دا همه صفت ، خو له په خوشحال خان کښی گوره
که پښتون پیژنی ، پښتو گوري غیرت لټوی
نو در ته ښایم راشه داخټک افغان کښی گوره
که قومیت او شجاعت او حمیت زده کوی
نو دا همه دخوشحال خان ښکلی دیوان کښی گوره
دقوم خادم دقوم سردار ، دقوم لیډر په رشتیا
دغه صفت دپښتنو مرد میدان کښي گوره

مغل هغه دی چه آزاد پښتون غلام شمیری څوك
دغه‌سبق دخوشحال خان په‌هر زمان کښې کوره
توره یه‌لاس چه آزاد اوسی ، آزاده رگ خوښوی
دخان معیار دغه‌دځوان دی‌داپه ځوان کښې کوره
جانان هغه دی خان به وی چه په‌غیرت ښایسته وی
له بی غیرت امان . امان! غیرت جانان کښې کوره

رحمان بابا ته داسی خطاب کوی :

هغه‌ته وی چه خبر دې کړم له رازه — چه جلا حقیقت نه دی له مجازه
نه‌پوهیږې وصال څه وی هجران څه‌وی — نه‌خبر کې دهجران دسوزو سازه
نه شاعرئې نه نباض ئې ، نه عاشق ئی — نه دحسن ثنا خوان ئی نه صادق ئی

* * *

دبلبل په ژبه تا د گل خبری — په عجب شیرین اندرز کښې بیان کړی
په‌رنگ رنگ دنی اوچنگ په‌خوږه‌ژبه — تامخلوق پخپل کلام عاشقان کړی
تادعشق او حسن پټ نهان رازونه — درست‌جهای‌ته‌ښکاره کړی‌عریان کړی
لکه شمع دیر عالم دې ژړولی — لکه گل مخلوق‌عالم‌دی‌خندان کړی
گمان نکړم چه په‌بل‌څوك داسی وکړی — صفتونه چه کوم تادجانان کړی
دعشق جام جهان نما دستا دیوان دی — عالمونه دی کلام ته حیران کړی
ستا شعر معرفت دی ښه پوهیږم — تا دشعر په زور دیر عارفان کړی
شمعې ووې پټ پتنگ ترچا عاشق کړی — پتنگ ووې دادرسونه رحمان کړی
کوم گلونه چه کرلی تا پښتو کښې — هم هغې گلونو ژبه بوستان کړې
نه دعشق په دردو غم کښې بیتاب — خونې وې په‌داور کښې لوغړن اوعرقاب خونې وی

* * *

دشیرشاه سوری له خولی نه پښتنو ته هسی چغی او نارې وهی .

دشیرشاه په‌قول‌عمل کړه ځان بیدار کړه — قبیلی‌واړه یوځای کړه‌ځان تیار کړه
نوم دقوم اخله وری خبرې پریږده — دخپل‌قوم مریوخادم‌شه‌ځان‌سر دار کړه

د پښتون فقیر غنی دې آزاد اوسی خوک پښتون به نه مړی نه خدمتگار کړه
لکه سروه دا فرزند د کهستان آزاد اوسی آزاد مړ شی په جهان

❀ ❀ ❀

اوس د شیر شاه د شاهانه دبدب سره په خطاب لگیا کیږی او اویی ـ :

ای شیرشاه ته د پښتون د خوی مثال ئی ستا پشان شاهی سپاهی نشته جهان کښی
په مړانه ، په غیرت کښی په بدل کښی یو شانی ستا خوشحال خان دی په افغان کښی
ستا عدل ، شرافت، شاهی کارونه لا تر اوسه نمونه دی هندو ستان کښی
ستا نظام د حکومت او سیاست هم لا تر اوسه بی مثال دی په دوران کښی
هغه ستا نقل دی ، حاصل د دوی ته ئی چه څه وینی جهانگیر او شاهجهان کښی
څه کمی د خوان او خان او سلطان نشته د پښتون دې مردم خیزه کهستان کښی
اوس هم دا خاموشه غرونه خالی نه دی له زمرو ځنگل خالی نه وی جهان کښی
که بابردی بیا په قارلو دهی پښتون ته خوک شیرشاه به رب پیدا کړی همایون ته
د افغان په ننگ به بیا وتړی توره تاج و تخت په بیا په سر کاندی پښتون ته

❀ ❀ ❀

دمیرویس نیکه سره هم یوه خوږه اوله جوشه د که مخاطبه کوی او وایی :ـ

میرویس بابا د م ئی د افغان د آزادی وطن کښی تا روښان کړل چراغان د آزادی
دمرگ په تیاره شپه کښی بل خوک نه وو د پښتون یو ته وی تا سحر کړ و شبستان د آزادی
میرو یسه په تا ختم سیاست او شجاعت ؤ په نوم باندې یادیږی ته سلطان د آزادی
غیرت او سیاست او قومیت کښی داسی خوک ؤ چه تا سره به سیال شی په جهان د آزادی
گفتار کښی دې گرمی او سیاست کښی دی نرمی وه جهان کښی پښتانه کړل تا شاهان د آزادی
سردار وی ته امام وې ته رشتیا لیدر دقام وې په ملک کښی د افغان وی ته جانان د آزادی.
که ته نه وی پښتون کله لیدی شول په ژوندون کښی
باغونه ، چمنونه ، گلستان د آزادی
غلجی مور که پیدا کړل یو میرویس بل په وطن کښی
پښتون به بیا دوران شی په آسمان د آزادی

د احمد شاه ابدالی په برخه کښی هسی وایی : -

در ددرامیانو ابدالی هغه تورزن افغان ‌ ‌ ‌ څومره لوی غازی ؤ مجاهد ؤ شمشیرزن افغان

فخر دوطن ؤ دا پښتون مردمیدان زموږ ‌ ‌ ‌ ځوان ؤ، مسلمان، دملت په غم غمجن افغان

دا یوابدالی ؤ، چه ئې یو کړو افغانی ملت ‌ ‌ ‌ بحر ؤ طوفان ؤ بیکران ؤ داموجزن افغان

هم دقوم سردار ؤ هم سالار و، هم خادم سپاهی ‌ ‌ ‌ داسی به بل څوك وی همه تن فولادبدن افغان

پوه ؤ چه وحدت دملت زورلری قوت لری ‌ ‌ ‌ دین دوحدت نوم دی وحدت توره طاقت لری

سربیره پردی درساددیوان دمکالماتو برخه هم ډیره خوږه اودپخوافکارواولوړو معنی گانو څخه ډکه ده په دی برخه کښی دشیطان او انسان ،

د موسی او فرعون ، دگل اولعل ، د مرگ شپه او دژوند شمع ، سپین ږیری او ماشوم مرگ او آبشار ، روح او گیډه ، ټیگور اواقبال . باز او کارغه ، زه او د غیب آواز ډ ېر خوند ور مضمونونه او د ویلو اوریدلو وړ دی رساد یو غریب بزگراو زمیندار له حاله هم ځان خبر کړی او دشعرپه ژبه پرې نورخلك هم خبرول غواړی نو وایی :

خدای زما اوستا خو یو دی ، مونږه واړه بندگان یو

ته په څه باندی مالك شوې ، مونږه ولی فقران یو

ته د خدای دلویی مزکی میراث خورشوی مونږشووږی

اوس سجدې موستا په دردی چه بی وسه عاجزان یو

یوزورظلم دفرنگ دی ، بل ستالاس په وینورنگ دی

تاسو واړه شرمخان یی ، مونږ بې ژبی ټول گډایان یو

دخدای مځکه دخدای تخم ، درحمت باران دخدای وی

دمحنت حاصل می ستاشی رحم و کړه مظلومان یو

مونږ دهاړغرمو کښی سوځو ، په یخنۍ کښی ټول گړبیږو

ته اوستا اولاد مزې کړی ، مونږه گډپه هی سوران یو

سر سرتورپه پښو پښی ابله ، بال اوبچ زمونږ نهروی

ستا موټربنگله په خیرشه مونږدی قتل کړوخواران یو

دشر شم ډیوه هم نشته ، زما کور کښې تل تیاره وی

ته زمونږ وینې بجلۍ کړل ، تل ئې سیزی چراغان یو

ستا داسپین لا سو نه رنګ دی ، په حنا زمونږ د وینو

سپین څراغ مخ به وی نه دی ، څه کړو مونږ پتنګان یو

نه سود خورئی که فرنګ ئی ، که هندو ئی که مسلم ئی

دحرامور وزی پرېږده ، کښې مرګ باندی حیران یو

په غوجلۍ کښې مونږ اوسو ، دچار پایو په شان خلقه

ته زمونږ په کار مزې کړی ، مونږ جوب کړی ستا غوبان یو

جام زمونږ دسر نه جوړ کړی ، زمونږ وینې سره شراب کړی

مونږ پر اته یو ستا تالی کښې ، حلال کړل سره چرګان یو

شته زمری تا ګیدړان کړل ، سپین باز و نه دی مرغان کړل

ته دبل د درمرئی شوې ، مونږه واړه ستا مریان یو

دغه مځکه نه د ستاده ، دغه مځکه نه زما ده

دغه مځکه د هر چاده ، مونږه ټول ئی مالکان یو



به سکندری (آگره) کښی د اکبر د مقبری یوه دروازه



به اجمیر کښی د خواجه معین الدین چشتی درگاه



دفتح پور سیکری دجامع مسجد په صحن کښی دشیخ سلیم چشتی مزار

ویښ ځلمی او عمل

ښاغلی محمد موسی « شفیق »

دڅه‌مودی راهیسی چه‌دپښتون‌قام داقبال اوسعادت نورد پوهی‌او حس ، علم اودرد دافق نه راپورته شوی اوځلاندو پلوشوئی دبل ځل دپاره دپښتونخوا دهسکو اوجبزو غرو څو کی ښکل کړیدی ؟ په‌دوی کی‌دمخکی تلواواو چتیدو رازراز فکرونه پیداشوی ، ددی‌تاریخی قام دیری ډلی په‌مغزو کی‌دی مقدسی اوعالی ارزو « چه‌مونږ بایدویښ‌شو » ځای‌نیولی‌دی .

دپښتون قام چه لکه بی وزرو مرغه ، وږی‌تږی ، تودو سړوزپلی ، لوڅ لپړ ، دلاس او پښونه کلك تړلی ، دلوئی لاری‌په سر په‌مزمن مرض رنځور پروت دی‌نه‌پاڅیدیء ، شی او نه دتلو توان اوقدرت لری ، نه‌بل ملګری اومدد ګارلری اونه‌ئی څوك غم خوری .

دده دامیدځای چه‌ده ورته ستر ګی نیولی فقط اوفقط «ویښ ځلمی» دی . پښتون په‌دې تمه‌دی چه‌دغه‌دی نن‌سبا به‌ویښ ځلمی‌راځی ماله به‌دخیره سره وزرونه جوړوی ، لاس اوپښی به‌می ایله کوی . جامی به‌را اغوندی په ګیډه به‌می مړوی اوپه‌دی‌لویه لار به‌می د نو رو کاروانو سره سالاری کوی .

رشتیا ده دپښتون قام تمه اوامید هم په ځای‌دی که‌ویښ ځلمی وغواړی چه‌ددې رو سته پاتی اوبدبخت ، دزمانی څو کړو اوشکنجوز پلی‌قام دپاره کار و کړی‌نو کولی شی چه‌بیا هغه دسلو کلو رنځور پښتون دلوی خدای (ج) په‌فضل اوملګرتیا په‌خپوو دروی .

همدا تمه‌ده چه‌ویښ ځلمی‌نن دهرپښتون دخولی ورد و وظیفه ګرزیدلی اوهرڅوك ئې

نوم په‌بسم‌الله یادوی . ځکه‌داهغه ځوان‌دی چه‌دیوې پاکی اومقدسی آرزوعملی کولو ته ئې په تینګه ملاتړلی اوددې قام داعتلاوترقی بیرغ په‌ډیر جدیت اوفعالیت سره دم په‌دم یوه نیزه جګوی .

دلته نوسړی حتمی په‌دې مطلب پوهیږی چه‌ددې مطلب سرته رسول اوددې آرزو عملی کول په‌ځانله‌خبرو ګران‌دی، ځکه‌نود تولو نه ړومبی وینې ځلمی عمل ته‌ډیره اړه لری .

هغه ورځ په‌یوه مجلس کی یومشر سړی داراز پښتنه وکړه چه‌دا څو وخته کیږی زما غوږو ته‌دیوی نوی ډلی‌نوم رارسیدلی‌چه «وینې ځلمیان» ورته وائی مګرزه‌ئی په‌مفهوم او حقیقت پوزه نه‌یم پوهیدلی اونه‌یم‌خبر چه‌داډله څوك اودځه‌مقصد دپاره کار کوی ددوی غایه اومقصدځه‌اود کوم هدف‌تعقیب ئې مقصددی ؟؟؟ ماورته وویل وینې ځلمی هغه حساس درد مند اوپه‌زړه زخمی ځوان‌دی‌چه‌ددې قام له‌غمه دزړګی په‌سر په‌زړ ګونو داغونه‌لری دده داعتلاء اپاره ئې شپه‌اوورځ په ځان‌یوه شمارلی اوتل‌په کاربخت اولګیادی، وینې ځلمی پښتون ته‌د ننګ اوغیرت سندری وائی، پښتون له‌درانده ارخطر ناك غوب نه راپاځوی . خپلو هغو معایبو اونواقصو ته‌ئې چه‌دده دادومره موده روسته پاتی کیده اوانحطاط دهمدغو نواقصو دسر خیرات دی . ورپام کوی، اوپه‌ډیره چابکی‌سره تری ددغه راز عیبونو ورکول غواړی مثلاً نن په‌پښتنو کی‌د ښځو په‌باب له‌دور کولو نه نیولی ان‌ترو دولو اوساتلو پوری قسم قسم ظلمونه، تعدا کانی اود حق نه تجاوزات موجود دی چه‌دا تول د پښتون دابدی انحطاط اولویدو دپاره موثر عوامل ګڼل کیږی . وینې ځلمی پښتون نه ددې دودو نو او رواجونو دمځه ورکول غواړی‌اودارسوم‌ورته دناپوهی اودجهالت‌نتیجه اوزاده معرفی کوی . ترهغی پوری دسوی‌زړه نه دغسی ناري سوري، شوراو فریاد، زوږ اونغمی راوباسی تر څو چه پښتون قام دلوی خدای (ج) په‌فضل له‌دغسی ناولتوب نه‌بالکل پاك اوسو چه شی . دوینې ځلمی په مذهب کی خیانت اوچل‌ول، دچاغولول بالکل نا روادی دی په داسی برابره اوپاکه‌لار روان دی چه هیڅ خارو خنډ یکی نه‌حس کیږی دی هر کارته ملاتړی مګر داجتماعی اوعمومی منفعت دپاره، شخصی‌اغراض اونفسانی خواهشات‌ئی‌ترپښو لاندی کړی

اودتولنی د کټی پلاره کی هغی ته اعتناء هم نه کوی، حق وائی اوهرچاته، خوار اوغریب، غټ اوواړه خلك ورته یوشان وی، د یوزلو ملګری دی، اوددوی نه هروقت دفاع اوحمایه کوی د نوی ژوندراز راز مفید اوصایب فکرونه چه دیوی اسلامی اوپښتنی جامعې له حال سره مناسب وی ورسره وی دوطن دغم نه یوه ګړی هم بی غمه نه وی دمعنی لحاظ کوی په ظاهری فریبونو لکه کف وکالر اونور فیشن دومره پابند نه وی اونه هسی دخولی چغی وهی فدا کاری ته به حاضروی لنډه داچه دویښ ځلمی د کار غایه افغان او افغانستان لوړتیا ده اوبس مشرسړی چه دا زما خبری دغوراودقت په غوږ وواوریدی نومخ ئی راواړوه او په نصیحت آمیزه لهجه ئی وفرمایل چه: یره دامطالب اودا مقاصد خوبیشکه ډیر جګ اوډیر عالی دی لیکن ماته خود اویښتیا ځانله دخبرو ویښتیا ښکاره شوه داعجبه ویښتیا اوعجبه بیداری ده داځنګه ویښ ځلمی دی چه بل ته ټول عمر په نصیحت اوخبرو ستړی شواو پخپله په یوه خبره هم عمل نه کوی هغه کارونه چه بل تری جداً منع کوی دی پخپله پرې لیګادی. مثلاً دغه ویښ ځلمیان چه ځانونه رشتیا ددې وطن حقیقی خادمان بولی اوتل ئی پښتنوته په وعظ اونصیحت خوله پرانیسی ده دوی پخپله خپله کومه خبره عملی کړه؟»

لکه چه تاوویل: دوی وائی چه دسړی په کور کی لور، خور پیغله شوه نودواړه دی ور ته دیو صحیح میړه کوشش کوی. او دموافقت په صورت کی دی دشرع اورشتیانی پښتو نولی دقانون سره سم په شریفانه اوساده طرز سره ورواده کړی ښه نو کوم ویښ ځلمی دا قانون په خپلی خور، لور عملی کړو؟ نن به دهرویښ ځلمی صاحب کره دوه درې سر توری پیغلی اودواده صالحی جونی ناستی وی. چه دودو لواو ور کولونه به ئی پرته له نفسی اغراضو بل کوم مانع هم نه وی. مونږ خو ونه لیده چه یوه ئی هم چاته لکه څنګه چه وائی هغسی ور کړی اویا واده کړی وی. همدا رنګه ډیرویښ ځلمیان می ولیده چه داودونه لاده د مصافو په زیا تولو او د رواج په سختولو کی پړی شکول، په ګنډوئی ظلمونه کول او . . . . ښه نو دداسی ویښ ځلمی خبره به څه تاثیر وکړی او یو قام چه دویښ ځلمی ئی دا حال وی هغه به دترقی پسی په غبر ګوړوند نه؟؟.

ما چه دمشر صاحب دا بیان واوریدا او ښه ځیر شوم ورته نو دواړه می تصدیق کړو

او ورته ومی ویل چه یره رشتیا ده چه ویښو ځلمو اوسه پوزی خپل ځان لانه دی اصلاح کړی ځکه داسی ویښ ځلمی ماته هم معلوم دی چه هغو لاد خپل پرو گرام نه بد رواجونه او ناوړه رسمونه نه دی لری کړی که څوك ئی دروغ گڼی نو گوته په گوته ور ته ښیم . (دا ځکه مشکله ده چه دلته هیچا دویښ زلمی توب علانیه دعوه نده کړی) دی مطلب ته توجه په کارده ویښ ځلمی ده تو لونه ړومبی په دی مجبور دی چه عملاً پښتو ته ددوی او دبدو رواجونو او ملاماتونکو رسوماتو وخیم عواقب او ناوړه نتایج خاطرنشان کړی او په دی ئی عملاً ښه پوه کړی چه که سړی ځان د دغسی ناوړو او ناروا کارونو نه وساتی نو یودم به ورته د ژوندانه د ټولو سعاداتو او نیکبختیو مخه شی .

صرف ددې لپاره چه ویښ ځلمی باید دعمل نه غفلت ونکړی مادا څو کړ ښی ددوی پنا مه ولیکی او دا تری جداً غواړو چه د خدای په لحاظ او د خپل وجدان او موقعیت کمال او فضل له مخی دی دخپلو گران بهاوینا وسره عمل هم ضمیمه کړی هره خبره چه عمل او هر مطلب چه کړن ور سره ملگری وی هغه هیڅکله یی ښی او صحیحی نتیجی نه پاتی کیږی ځکه مونږ وایو چه که ویښ ځلمی غواړی لکه څنگه چه وائی رشتیا ددی قام سعادت او ترقی اعتلاء او مخکی تله غواړی او دیښتنو په موجوده حالت ئی دزړه پردی درد کوی نو ددی امید د سرته رسولو په لارکی لومړی مهم او وسیع گام دده خپل عمل او کړن وی ځکه نو دپښتون قام یو رته تله او راویښده دده دخبرونه اول دده عمل ته زیات ضرورت لری والسلام (پای)

یادونه

وروره شفیقه :

ستا اوستاد مشر افکار د قدر اودقت وردی ، رشتیاهم په دنیا کی هره ډله چه جوړیږی باید خپل ځان نمونه اوخپل افکار او وینناوی عملاً ثابتی کړی، ښائی چه دوینبوزلمیانو ډله به لاهغه تکمیل ته رسیدلی نه وی ، خوبیا هم ستاسی داغائبانه فیصله چه وینې ځلمی موبی علمه بللی دی لږ له انصافه لیری خبره ده او که نه خوابدی کیږی زمابه خیال تاسی ته به تراوسه لا داهم پوره معلومه نه وی چه وینې ځلمیان څوتنه دی او کوم کوم اشخاص دی ؟ ځکه چه تراوسه لاوینبو زلمیانو دامناسبه نه ده ګڼلی چه خپل ټول پروګرام یا خپل غړی او ملګری اعلان کړی ، نوپوه نشوم چه تاسی اوستاسی مشرله کوم ځایه وینې زلمیان و پیژندل ؟ او که داچه تاسی له هرچا واروبده چه فلانی او فلانی وینې زلمیان دی،اوفوری مو و منل نو په دی کی دوینبوزلمیانو ګناه څه ده ؟! داچه ستامشر ویلی چه : « هر وینې ځلمی به څو خوندی اوڅو لونی لری چه دخپل پروګرام سره ئی چاته نه ور کوی»لو مړی خو داخبره له حقیقته لیری ده ، ځکه چه ښائی اکثروینې زلمیان به خور اولور لا څه چه هیڅ هم نلری او که ئی ولری نوهغه څوك چه په حقیقت وینې زلمی وی هغه هیڅکه له خپل پروګرامه تجاوزنکوی . مثلاً ماته یو وینې زلمی معلوم دی چه دوه کاله دمخه ئی خپله لوریوه اخلاقی ډاکتر ته بی له دې چه هیڅ شی دولور یاخرڅ یانورو په نامه و اخلی ور واده کړه ، اوماته ئی وویل چه : « ددې کارلوی باعث هغه وجدانی اوایمانی عهد و ، چه ما دوینبو زلمیانو سره کړی دی » نوځکه په ډاډ ویلای شم چه حقیقی وینې زلمی بی عمله نه دی اونه به وی ، خوهر عمل خپل وخت لری .

مګر وروره ! ښه کارونه کول اوخپله لورنه خرڅول داڅه یوازی دوینې زلمی وظیفه نه ده . دهر انسان اوهر مسلمان وظیفه ده ، نوښه داکسان چه پروینبو زلمیانو تنقید لویانصیحتونه ورته کوی دوی پخپله ولی ددې بدو کارو مرتکب کیږی ؟ (بینوا)

دښځو د تعلیم ضرورت

له حکمت عملی څخه :

دښاغلی امیرخان (گران) ترجمه

ددنیا په موجوداتو کښې کوم یو شی ترهغې وخت پوری کامل نشی گڼل کیدی، ترڅو چه دهغه ټول اجزاء کامل نوی که دیواریکین ښیښه ماته اویا خیرنه وی، نو که پخپله داار کین ډیر قیمتی او اوښکلی وی. لاکن دهغه رڼا صافه او اوښکلی نوی، هم دغه راز که یو انسان ددیری لوی اوجگی کو رنۍ څخه وی، او دولت اوثروت اوحکومت په لحاظ هم ددیرجگ مقام خاوندوی، نودشرافت اوداخلاق په لحاظ دی ترهغې وخته پوری کامل نشی گڼل کیدلی ترڅوچه ددی دماغ دعلم په رڼا نوی روښان شوی، ترڅو پوری چه دیو انسان اخلاق اوفضائل ښه او دستائنی ورشوی نوی هیڅ انسان که ډیر پیوړی هم وی، ددی صحت کامل نشی گڼل کیدی، ترڅوچه ددی ټول اعضا خپل خپل وظائف په ښه ډول سره ادا نکړی شی هم دغه رازحال دیوملت هم دی یعنی دیوملت تمدن اوتهذیب ترهغې وخته پوری نشی گڼلی ترڅوچه دهغې ملت اکثر افراد دیورا قابلیت خاوندان نوی او هیڅ یو ملت شریف اوغوره او مترقی نشی گڼل کیدی ترڅوچه دهغې قام اکثر افراد د روښانی خیال اوښو صفاتو او دهوښیاری خاوندان نشی.

که دغه ملت دښځو او دنارینا ؤ څخه جوړشوی وی، او دهغو تعلقات پخپلو منځو کښې داسی ټینگ او قوی وی چه دیوژوندون پرته دبل څخه ممکن نوی اوهر یو خپله خوشحالی او انتظام او بقادبل په وجود کښې منحصره گڼی ام دغه راز هیڅ یو کور چه په هغه کښې دوه تنه ووسی ترهغه کورنشی گڼل کیدی ترڅوچه یو دهغو څخه ښځه نوی نو دانسان تولنه

ترهغی وخته پوری مهذب او دترقی خاوند نشی کیدلی ترڅو پوری چه دا دواړه انسانی افراد یو ځائی ترقی و نکړی ښځه اونارینه د تصویر دوه مخونه دی اوددواړو ښه والی هم ددغه یوعکس ښه والی دی څرنګه چه دانسانی قواؤ تهذیب دپاره دزړه اودد ماغ دواړو قوتونو شته والی ضروری دی هم دغه راز دیوملت او دټولنی دتهذیب دپاره ښځه و او دنارینا ؤ تعلیم ضروری دی ښځه اونارینه دژوندانه دګاډی دوه ارابی دی او دی دپاره چه منزل مقصودته دواړه صحیح اوسلامت ورسی ددواړوارابو جوړوالی اواستحکام لازمی دی کوم خلك چه داخبره غواړی چه یوازی دنارینا ؤ په تعلیم دی ملت ترقی و کی نو داخیال داسی دی لکه چه یوسړی ءدافکر ولری چه یومرغه دی په یووزر آسمان ته اوخیژی او یادی یو ګاډی په یوه ارابه منزل مقصودته اورسیږی .

که څه هم دښځه و کارونه دنارینا و نه مختلف دی، لیکن ام دومره ضروری دومره اهم اومشکل دی، لکه چه دنارینا و، اودی کارونو دپاره دتعلیم اودروزنی اودعقل وفراست هم دومره ضرورت دیء څومره چه یونارینه دخپل کارو باردپاره حاجت ګړیل، د ښځه و کارونه نارینه نشی کړئی اودنارینه کارونه ښځی نشی کولی، او که دافرق اوویښ دمنځ نه پورته شی، نودتمدن نظام به خراب شی، نولدی کبله باید هریو خپل خپل کار په ښه صورت سره وکی، اودی دواړو فریقین دپاره دقوم بلکه نسل انسان دبهبودیء او دترقی دپاره دمساوی تعلیم ضرورت دیء، ښځه دنارینه ملګری رازدار اومشیر اودکور میرمنه اود ژوندانه په ټولو مشکلاتو کښې دنارینه سره برابر اوسمه برخه لری، که څه هم ښځی دنارینا و نه په قوت اوطاقت اوپه وجود کښی کمزوری وی، اوددوی په مقابل کښې نارینه قوی او غړی ددوی په نسبت ډیرزیات قوی او لوی وی، او که هم دغه راز دنارینه د ماغی قوتونه دښځو په نسبت ډیر دی، نو دښځو دزړه جذبات ډیرزیات او قوی دی، او که هم دغه راز ښځی دنارینا و سره په دوراندیشی کښی برابر ندی لیکن ددوی په زړه کښی دنارینا و په نسبت، مینه، رحم، غم، خوشحالی، اودانفعالاتو احساسات ډیرزیات دی، که نارینه دیوماحول مشر دیء، نو ښځه دزړه دجذباتو مشره ده، اولکه څرنګه چه د شخصی تهذیب دپاره دزړه او دماغ دقواو تهذیب یوضروری شی دی، هم پدغه ډول دنوعی تهذیب دپاره دنارینا و اوښځو تعلیم هم ضروری دیء، اویوازی داخبره ضروری نده، چه دنارینا و ددماغونو اوښځو د زړونو دروښانه کول

اومهذب کولو دپاره کوشش ووشي، بلکه ددي په عکس دښځو ددماغ او نارینا و دزړو نو دتهذیب دپاره کوشش لازمي شي دي، او داز که چه په کوم زړه او دماغ کښي دخدائي ویره او انساني همدردي، او انصاف نوي، نو هغه انسان یو خو دغرض او آزاري انسان وي، او هم دغه راز که د کومي ښځي په دماغ کښي عقل ذکاوت نوي، نو که هغه ډیر ښکلي او ښائسته هم وي نو مثال ئي دچیني څخه دیو جوړ شوي بت وي، لدي کبله دښځو عقلي قوت ته ترقي ورکول ډیر ضروري او لازمي شي دي، او دا به دتعلیم څخه په بل شي نکیږي:

ځکه چه دتعلیم په اثر دانسان باطني قواء داسي مکمل شي، چه هغه دخپلو مشاهداتو او تجربو څخه صحیح نتیجي لاس ته راوستلي شي، او کوم واقعات چه ور باندي راځي، دهغو په نسبت یو صحیح رأي قائم ولي شي برسیره پدي دتعلیم په رڼا کښي انسان دخپل ژوندون د مهمو وظائفو په حقیقت پوهیدلي شي، او هغه په ښه شان سره ترسره کولي شي، لدي کبله دښځو او د نارینا ؤ دواړو دپاره تعلیم یو ضروري او لازمي شي دي دتعلیم مقصد داندي، چه دتعلیم پذریعه دي دانسان فطري خاصیتونه بدل کړي شي، بلکه دتعلیم مقصد دادي چه دتعلیم په ذریعه د انسان فطري خاصیتونه جلا او صیقل کړي شي، لدي کبله دتعلیم نه وړاندي ددي خبري فکر پکار دي، چه ښځو ته خدای پاك کومه مرتبه ور کړي ده، او دوي ته کوم کارو ته سپارو شوي دي، او دوي ته کوم راز تعلیم ورکول پکار دي، که څه هم ښځي دنارینا ؤ مینځي ندي، لاکن نارینه په هغو باندي فضیلت لري، په جامعه کښي قدرتاً دښځو رتبه دنارینا ؤ څخه کمه ده، لکه چه پاك خدای ویلي دي (الرجالو قوامون علی النساء بما فضل الله بعضهم علی بعض) دا ځکه چه نارینه پخپلو پښو دربدلي شي، او دخپلو موټو او کسب او کار په مرسته خپل زان د پاره گټه کولي شي، او نه دچا دمرستي خپل کار کولي شي، او دخپل دژوندانه ضروریات پوره کولي شي، لیکن ښځه دغه چاري نشي کولي او بي دبل اعتماد او دمرستي څخه نه کوم کار کولي شي، او نه دخپل ژوندانه څه ضروریات پورا کولي شي بلکه دژوندون ضروریات پورا کول څه، که دا دبل دسوري لاندي نوي، نو ددي ژوندون به په لگه مد کښي خوار او برباد شي، او دا ځکه چه ښځي ددنیا دحوادثو او تکلیفونو مقابله بالکل نشي کولي، او بله دا چه نارینه دښځي محافظ دي، او ښځه دنارینا ؤ معاونه ده، نو لدي کبله د ښځو دپاره هغه تعلیم ضروري او مفید دي، چه په ښځو کښي دمعاونیت قابلیت زیات کړي، چه هر څوك دخپل دنظام

قوام او ساتلی شی او هر جنس خپله خپله وظیفه په ښه ډول سره انجام کړی شی ، د ښځو څخه دا راز معاونت د محبت او د مهربانی په خدمتونو کښی ظاهر یګی ، د کوچنیو کوچنیو اولادونو لویول او روزنه کوم آسان کار ندی ، او پرته له ښځو دا وظیفه بل هیڅ څوك په ښه او صحیح ډول سره نشی ادا کولی . او هم دغه راز په کوم شان او ډول سره چه ښځی د رنځورانو او د ناروغانو خدمتونه کوی په هغی ډول نارینه بالکل نشی کالی .

هم دغه راز د خفګان او مصیبت او افلاس او سختی په وخت کښی کوم تسکین او ډاډ ګیرنه چه د ښځو له خوا نارینا ؤ ته رسیږی ، بل هیڅ څوك نشی رسولی ، او په کوم استقلال او اسپیڅلی زړه ښځی د نارینا ؤ ملګرتیا کوی او په کوم صبر او تحمل سره چه ښځی د نارینا ؤ تکلیفونه ګالی ، بل هیڅ څوك نو کوی او نه ګاللی شی) هم دغه راز د کور انتظام هم کومه معمولی خبره نه ده ، بلکه د کور انتظام هغه مهم شی دی چه په هم دی مهم شی پوری ، د ټول ژوندون راحت او خوشحالی بلکه ټولی کامیابی تړلی دی ، او د کومو خلګو چه د کور انتظام خراپ وی نو که هغه شته مندوی ، او یا خوار ، په هیڅ صورت کښی بیغمه او آرام نشی کیدلی .

ښځی تش د نارینا ؤ د زړه د خوشحالولو د پاره ندی پیدا شوی ، بلکه د دنیا په انتظام او د خلګو په امن او آسائش کښی هم برخه لری ، او دوی د خپل او د نورو د حیات سعادت د پاره هم وسیله دی خدای پاك دوی ته صحیح دماغ او قوت متخیله ور کړی دی ، که څه هم دا قوتونه د نارینا ؤ د قوتونو ځینی کم وی ، لاکن دا کمی کمی نه ګڼل کیږی ، د ښځو تش دا کار ندی چه هغوی ئی خپل ټول وخت د ځان په جوړولو او په آرائش کښی تیر کاندی ، او که کومی میرمنی چه ځان جوړول خپله وظیفه ګڼی نو شاید د دې کار په اثر به د هغو ښائست زیات شی ، لیکن دا کار د هغو په کار او عمل باندی هیڅ قسم تاثیر نشی اچولی ، بلکه د استعداد او معنوی ښائست ګټلو د پاره جګ او اعلی تعلیم حاصلول ډیر ضروری شی دی او د جګ تعلیم مطلب داندی چه ښځو ته دی هم کټ مټ د نارینا ؤ غوندی تعلیم ور کړ شی بلکه پدې مقام کښی د اعلی تعلیم څخه مراد د هغو فنونو زده کړه ده چه د ښځو د پاره ضروری او د کور او د روزنی او دغه راز د ښځو په نورو مخصوصو وظائفو کښی د هغو پکار یږی ، که څه هم د ښځو او د نارینا ؤ د تعلیم په مضامینو کښی اختلاف وی ، مګر

سره ددې هم تعلیم عقل روښانه کوی او په قواؤ او دماغ کښی روښانتیا پیدا کوی ، او د کور هیڅ یو کار داسی نشته دی چه په هغو کښی دعقل رڼا او ددماغی قواؤ روښانتیا ضروری نوی ، تعلیم په ښځو کښی اعلی خیالات او پیش بینی پیدا کوی .

او د تعلیم په مرسته ښځه دا کولی شی چه هغه ددغی فراست په رڼا کښی دخپل کور انتظام په صحیح ډول سره ترسره کړی ، او دخپل دغه روښان عقل او صحیح تدبیرونه دنورو ورانی هم ودانی کړی ، تعلیم دښځو قواء داسی تقویه کوی لکه څرنګه چه دنارینا ؤ قواء تقویه کوی ، تعلیم ، ښځی د فریب او د جهالت څخه شغوری ، او دډیرو جاهلانه چارو او اوهام پرستیء څخه محفوظ ساتی ، او داځکه چه څه هغه واثی او یائی کوی ، هغه دویلو او د کولو وړوی او که ښځی ناپوه وی ، او دهغوی اخلاق کمزور وی او د ماغونئی تیاره وی ، نو پدغه صورت کښی نارینا دهغو د اثر نه نشی خلاصیدل ، تعلیم یوازی دشخصی مفاد دپاره ضروری ندی ، بلکه دقومی مفاد دپاره مهم عامل او دترقیء دپاره لمړی پوړیء ده ، تر کومی اندازی چه دښځو او د نارینا ؤ دواړو تعلیم مکمل او عقلی او غضبی قواء مهذب او ښائسته نشی ، او تر کومی اندازی چه دهغو زړونه دجهالت دخیرو څخه پاک نشی ، او تر څو چه دهغوی د قواؤ واګیء دعقل لاسونه ورنشی ، هم په هغه اندازه به په ټولنه کښی دبهبودیء او آسائش پورا اثر ښکاره نشی او نه به ټولنه دتمدن اعلی درجی ته او رسیدی شی ، لدې کبله ښځو ته تعلیم ور کول په حقیقت کښی نارینا ؤ ته تعلیم ور کول دی ، او د ښځو دعقل او دماغ روښانه کول کټ مټ دنارینا ؤ دماغ روښانه کولای ، په کومو ځایو کښی چه دښځو حالت خراپ وی په هغو ځایو کښی به ارومرو دنارینا ؤ حالت هم خراپ وی ، او ددې معنی داده چه د هغو افراد به ښه نئی روزل شوی ، او میندی بئی د روزنی په اصول نه پوهیدلی او داځکه چه د کوچنیانو روغتیا اخلاق ابتدائی تعلیم ټول دمیندو دنګرانی لاندی ترسره کیږی ، او په تیره بیا دروغتیه مسئله خو داسی یو مهمه مسئله ده چه اخلاق او تعلیم هم پدې کښی شامل دی ، کومی ښځی چه دروغتیا داصولو نه خبر نوی او یا داخلاقو په اصولو نه پوهیږی ، هغوی هیڅ کله خپل کوچنیان په صحیح او حقیقی ډول سره نشی روزلی ، او هم لدغی وخت څخه دخرابی روزنی آثار دانسانانو په ټول عمر کښی خپل رنګ ښکاره کوی ، او پوهی ښځی له ابتدا څخه د خپلو اولادنو په زړونو او دماغونو کښی دښو اخلاقو او دصحیح روزنی اساس ایږدی .

دهر شی دجوهر څخه خلک دهغه شی په خصوصیت سره تعبیر کوی دلمر تودوالی او ډیر روښان والی دهغه خاصه ده، دشپوږمیء لږه اوسړه رڼا خلک خوښوی او هم دغه شی ددی دښائست والی باعث دیء.

او که د شپوږمی د اخاصیت ولاړ شی او دادلمر سیالی و کړی نو دشپی ښائست والی او راحت به ختم شی او شپوږمی به بی قدره شی، هم دغه راز که کوم یو تعلیم د ښځو څخه د ښځی توب جوهر محوه کی نو پدغه صورت کښی به دغه تعلیم د ټولنه راحت او آرام بر باد کړی. او یوازی سړی نه بلکه ښځی هم دډیر ومشکلاتو سره مخه مخ شی؛ کوم شخص چه پدنیا کښی د کوم کار د پاره پیدا شوی دی که دغه شخص دغه کار په صحیح او پورا ډول ترسره کړی نو دغه کار به ددی د عزت او د سعادت باعث شی او لدی مقرره څخه د افراط او د تفریط په صورت کښی تجاوز کول او دنورو تقلید کول دخپل عزت بربادول دی که کومه ښځه کوم یو داسی کار و کړی چه په عمومی ډول سره هغه د ښځو برخه نوی نو په عمومی ډول سره د غلط فهمی په صووت کښی په ځینو وقتو کښی ځینی خلک هغه کار ته دقدر په ستر گو گوری او خوشحالی ورباندی ښکاره کوی لیکن هغه په حقیقت کښی تش د تعجب اظهار دی داهم ته هغه وخته پوری چه یوی یادوه ښځو دغه کار کړی وی په ټولنه باندی ښځی پورا حقوق لری او له هغو حقوق څخه ډیر لوی او مهم حق دادی چه دوی ته تعلیم ور کړی شی (طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة .....) لیکن فرض هغه تعلیم دی چه د ښځو ذاتی جوهر ته ترقی ور کړی اول دښځو له پاره مذهبی تعلیم ضروری دیء داز که چه دمذهبی تعلیم په اثر په انسان کښی دخدای څخه خوف ایمانداری صداقت پرهیز گاری عصمت رحمدلی انصاف فیاضی دزړه رقت صبر او توکل پیدا کیږی او داهغه او صاف دی چه باید ارو مرو په هره ښځه کښی دا موجود وی.

ادبیات

وژاړی عالمه چه پښتون د ژړاوړ دی نن

عبدالخالق اخلاص :

پری می زده څو ترنګه چه لږ سر په ګریوانه کړمه
او ښی دلیمو تو یه په دو د دبسا رانه کړمه

مه پریږده څوك ماته نن دغم په کور میلمه یمه
نه غواړمه څوك چه ئی په غم کښی میلمانه کړمه

ویر ژړا ارمان زما خوراك دی نور څه نشته دی
څکل د وینو زوو د خپل سوی لړ مانه کړمه

زړه می مقناطیس داند ښنو او یخسا کو نوشو
غم کړ او می تیرشی زه ئی بیرته را لقانه کړمه

ژوند خواسان نه دی که ژوندون وی دژوندون په شان
ژوند دی که زندان چه ئی بیوواله ژوندانه کړمه

کوټ می ونیو پټ چه له دې ژوندمړی ښه یمه
ښه یم له دی ننګه چه سر پټ په کفانه کړمه

خلکو ټول دځان کړ بحرو بر فضا او زه ایله
غم لکه ورکوټی دکوټ بوټ د پتلانه کړمه

واړه شهبا زان شو ښکار په غاښی دافلاکو کا
زه لااوس ټیوس غوندی پرواز په ډیرانه کړمه

وازه خوله یم ناست کارو صنعت ته دبل ګورمه
خپل کمال می دا کباب د ورور له پتانه کړمه

جوړ درزم بزم اسبابونه رنګ په رنګ شو ټول
نه شرمیږم سپین صورت دبل په چابانه کړمه

ستن اوتار دبل دی دجامې سپړ دی پرې نیسمه
و وهم په خو له پر دی پوډ را وحیانه کړمه

سان ټوټه لاڅه تنی تکمی له نورو غواړمه
مخ ته مخامخ دبل آئین په زنګانه کړمه

ټینګ عزم دهمت پخوانو پښتنو څه ټواوس
ویښ به په طعنو څه رنګ دانوی پښتانه کړمه

وژاړی عالمه چه پښتون دژړاوړ دی نن
مړه شو ننګ غیرت ځکه ماتم دبیلتانه کړمه

غم دپښتانه دی لا په دې ارمان به مړ شمه
هم به پس له مرګه دا ارمان په مړ پستانه کړمه

څو لکه طاؤس به خپلو پښو ته پښتون ګوری ټیټ
کله به شی خدا یه چه سرجګ د پښتانه کړمه

ویښ نه شو اخلاصه پښتانه په چر بانګو نو هیڅ
وی به چه را ویښ ئې دسبا په اذانه کړمه

برچې له اور تېره

ښاغلی (جرار)

یوزل نه دی چه څو زلـــې ماستا په غم ژړلـــی
له ځانه بې خبره دا دې څنګه بنګ خوړ لې

له ځانه بې خبره
چه پوه نه ئی لـــه سره

❀❀❀

چه پروت ئـــې لکه ګـــر ګـــه
دا ستا غوندې ژوندی دی دژوندو له صف وتلی

دا ژوند دې بدله مرګه
بې علـم بې هنره

❀❀❀

ژو نـــدی لا ړل هـــو ا تـــــه
تا ایښی دی لا سونه لکه ړوند دبل په ولې

زه فکر وړی تا ته
چه بچ شې له ټکره

دا مرګـــ دی کـــه هستی ده
دبل په در وازه کښی دواړه لاس په سوال نیولی

دا ننګ دی که پستی ده
ما ښام نه تر سحره!

❀❀❀

مونږ څه کوو د وی څه کړی ؟
په دی مسابقه کښی مونږ یو پاتې دوی وتلی

مونږ بد کوو دوی ښه کړی
د مخی لـــه ډګـــره

❀❀❀

پتا پورې خندل کړی
یو نه چه بی څو واره تا په دوی پوری خـــندلی

نن هغه پردی خپل کړی
پښتو نـــه بـــرا د ره

❀❀❀

نیـــکو نه در په یاد کړه
پخپل خوا زه وطن ئې دسینی په سر منلی

ځان هغسی اولاد کړه
برچې له اور تـــبره

❀❀❀

په سمه غـرچه ښو رې
چه ښه ور باندې پوه شی ستا دپاره راختلی

دا سره ګلان چه ګورې
له ها غه خون ځکره

❀❀❀

پښتون چه چېر تـه جنګ کـړی
یو توره بل ئی سپردی چه چانه دی څملولی

پښتو اویا په ننګ کړی
څرګنده ده لـه نمره

❀❀❀

پښتـــون وا ړه پښتون دی
په مکر فریبو نو دچا نه دی غو لیدلی

چه چېر ته ئی ژوندون دی
برښکـــته له خـــیبره

پښتون غښتلی قام دی
دیو مطلب دپاره ټول ولاړ دی ملا تړلی

ولاړ په ننګ او نام دی
ټول تېر له مال او سره

❀❀❀

که څوك و وا ئی بېل دی
دوی ټولو سهو کړی په غلط فکر کښی تللی

یا دا چه خیل په خیل دی
ده لـرې لـه بـــاوره

❀❀❀

ته و ګوره افغـــان ته
په خیر او عافیت وتی پخپل عزم نیولی

چه ولوینږی طوفان ته
لـــه بحـــر سمنـــد ره

❀❀❀

په دوی کښی ننګیالی شته
ته ئی وساتی خاونده لکه تا چه وی ساتلی

غیرت، توره، سیالی شته
نو رهم لـه بـد نـظره

زه او زړه:

ادبی نثر :

ښاغلی «نوری»

زړه ! ولی؟ ولی ؟ ولی داسی خوابدی ئې ؟ زه دی ومرم، څه مات څه تو ی ؟

پسرلی که نه دی منګر هوالا قریبا دپسرلی داسی ده، تراوسه لاهواد ټوله شین بڼ دی پرمځکه لادشنیلیو شین بچاوڼ هواردی، دغرو اودښتو کاڼی ډبری بلکه خاوری ئی دځلانده لمر په رڼا سره لکه دپیغلی دنتی غمی دلیری څخه څرکیږی.

زړه ! څه درشوی دی؟ ولی داسی مړاوی یې ؟

ته نه ګوری، دهواد دښکلیو غرواوشنو بڼو څخه تراوسه لاوږمی ستاوسبز موته رسیږی دمینی دزرغنو مرغو او شنو ځنګلو اوبڼواوجګو ونو څخه دخاچڼو شخول لاستاپه غوږو کښېوزی، تراوسه لانه خاچونی ګونګ اوچپ دی، نه ګل مړاوی دی.

آزړه ! ولی خوابدی یی ؟ زه دی دو د سم !

دډکو سیندو اودشنوولو اودغرو دشرشرو وشرهار نه اروی ؟ اودشپانه ددروی اوشپیلی نری ژړوونکی نغمه ستاپه غوز ونه کښېوزی ؟

زړه؟ ولی پرڅه ؟ زه دی سپلنی سم !

زړګیه ! زه دی وینم چه ته دننه زما کوګل کی روغ رمی ئی، زه دی وینم چه دبل دچوپړ دروند بارنه دی درباندی پروت، زه دی وینم چه دچا ترسره ستر ګه نه ئی لاندی ! زه دی وینم چه خپله خوری. خپله چښی ! زه دی وینم چه دخپلی مېنی څخه ډول ډول استفاده کوی ! دخپلی مېنی دخاوری څخه وده کوی ! زه دی وینم چه هغه خپلی تودی دښتنګلوی سری وینی چا ستا دزړه څخه نه دی بهولی

زړګیه ! زه دی جارسم ! ولی غمجن ئی ؟

تراوسه خوچاپه چاپیړه نه یې وهلی ! نه چا دخپلی مېنی څخه ایستلی یی نه ناچا دخپله واکه څخه اچولی یی ! نی چاستاو مېنی او یادبل دکور ټاك وټوك ته لاس غزولی دی. نه یې ستاپه وجود او کوګل غرض کړی ! داسی پر خپلواك سپوریې چه واکمن باچا یې !

هازړه ! زه‌دي و گرزم ، زه‌دی جارسم ولی حال نه‌وایی ووایه ؛ دخپل ځان اودخپل وجود اودخپلو غړو داصلاح په‌باره کی سکوت ښه‌نه‌دی .

زړه :- ! کوگله ! زما ساتندویه ؟ پر ما مهربانه ښه وایی ښه وایی ! رښتیا وایی ، تو له رشتیاوایي ماهېڅکله ستاڅخه‌درواغ نه‌دی اروېدلی ، اونه‌دی غوړه مالی کړی‌ده ، ځکه‌چه‌زه وته یووجود یو.

ځانه ! ترتا واری‌سم ! ښه‌وایی ! زه‌روغ رمی‌یم ، زماټاك وټوك ته‌چالاس نه‌دی راغزولی ، زه چادخپلی مېنی نه‌یم استلی ، که‌څه‌هم هواده دمنی‌ده ، منگر پاڼی‌شنې ، تراوسه لاسړواویخ نه‌دی وهلی ، هغه‌دپښتو اوپښتنو اوپښتنگلوی‌سري اوتودي‌وینی راپکښی سته ، !منگرڅه‌وکم!اوه ! زه‌خوستا څخه‌خبره نه‌پټوم ، ته‌زماخواخوږی‌یې ، ته‌خوپه‌ماخبرئې ، زماپه اراده پوهیږی ، زماپرده ته‌ئی ، زماساتندوی ته‌ئی ، زه‌ستا په کوگل کی دننه پروت اوخپله وظیفه پر ځای کوم ، غوږ نیسه رښتیا درته وایم : زه‌خویوازی ستا یوغړی‌یم ، زه‌خولارښوونکی یم ، ته‌پر ته له‌ماڅخه نورغړی لری ؛ تو له غړی ستا ترامر ، ستا ترحکم لاندی‌دی ، هرڅه کوی ته یی کوی ؛ ستا بی حکمه‌هیڅ یوغړی حرکت نسی کولای .

زماوجوده ! زه‌ستا دلاسه خوابدی‌یم ! زه‌ستادلاسه خواپوټه‌یم ، زه‌ستادلاسه‌مړژواندی‌یم ، ته‌ولی خپل‌غړی پر کار نه‌اچوی ؟ولی خپلو غړوته قوت نه‌ور کوی ؟ ته‌خوتل پر خپلو غړو ولاړئې ، که‌ستاغړی‌ضعیف وی ته‌ضعیفکیږی ، ستاوجود دغوغړو څخه‌جوړ شوی‌دی ، ته‌باید دوی‌پر وحدت اواتفاق اویووالی و گماری ، ته‌باید خپل غړی‌تو له وپیژنی چه‌داغړی ښه کار کوی ، دائی‌نه کوی دامی ښه‌غړی‌دی‌اودغه می‌رشتنی غړی‌دی .ستا په‌غړو کی‌لوی‌غړی سر دی کارونه‌سر یعنی هغه قوه کوی چه‌په‌سر کی ده زه یومهدی‌یم . مسئول سردی ! زما په دغو خبرو خوامه‌بدوه .زه‌ستا په‌ښو خوښ‌یم ، ستاپه تاوان خوابده کیږم . چه‌ستاغړی تو له قوی اوراست کاره اوپه اتفاق وی خوشالیږم اوباغ باغ په کیږم .

زما وجوده !په‌تا کی مسئول سردی ، یعنی‌دماغ !ځکه‌چه زما اودتولو غړوولی‌اواعصاب په‌هغه پوری تړلی دی .دهغه په‌اراده هرغړی کار کوی . سرباید‌خپل تو له‌غړي پرښه کار واچوی . دبدو کاروڅخه‌ئې وجغوری .خپل‌هرغړی‌باید صحیح اوقوی وساتی‌اودوی له فساد اوناجوړولو څخه‌وجغوری .چه‌ددغو غړوڅخه یو قوی‌وجودو مېنی‌وډ گرته راوزی : هر کله چه‌دغه‌زما خبری‌ونغوږی ! اودغسی و کړې لکه ماچه‌درته وېل !نوبه« نوری »سی !! و السلام

خزان

ښاغلی سلیمی وردګ

تازه فصلونه، شنه، چمنونه، ښکلی باغونه، هر رنګ ګلونه، داتول چه پرون وو، نن ولې نشته دی؟ هغه ونې څنګه تکې شنې وی؟ په دغو پټو کښې څومره تروتازه کروندې ولاړې وې؟ دهغو بڼ نه څومره لیرې دوشندو ګلو دعطرو په شان بویونه پور ته کېدل او ستړی ستومانه زړونه به پرې خو ښېدل؟

پرون خو په دغه باغ کښې دشنو پاڼو اورنګا رنګ ګلونو څخه پرته نورڅه نه لیدل کېدل او دانن څه وشول چه ټول وچ ډکې او لغړ ښاخونه دی او بس؟

دهغه شنه فصل په ځای خو اوس سپېره مځکه ده او دخاورو او ګټو پوټی پکښې جوړ دی. او هوغه شین چمن نن ولې وچ ډاګ بریښی؟

داځکه هودا ځکه چه منی یعنی خزان دی.

خزان دومره ظالم دی چه رنګا رنګ ښکلی ګلونه رېژوی، تکې شنې پاڼې دبدبختو او مظلومو مخونو په څېر زېړوی او بیایې په مځکه را پر ېباسی.

خزان ښائست او ښکلا ور کوی نشاط او خوښی ور کوی تازه ګلونه مړاوی کوی او پرې مین بلبلان په ویر اخته کوی عشق او مین توب وژنی. محبت په نفرت مینه په زړه بدوالی او ګرانښت په کرکه بدلوی.

خو که چېری داتول ظاهری وی مګر معنوی ښائست او ښکلا حقیقی نشاط او خوښی باطنی تازه توب رښتنی عشق او مین توب محبت او ګرانښت نه خزان ور کولی او وژلی شی او نه ترخزان لیا سخت ظالم.

هو! حقیقی ښکلا رښتنی محبت معنوی تازه توب روحی جاذبه او مینه داتول دحقیقی او مېړنی انسان اخلاق او ممیزات دی.

نو حقیقی انسان باید دغه ممیزات ټول ولری ترڅو چه دموسم خزان دزمانې د کښېدلو خزان او په اصطلاح دطالع او بخت خزان او بالاخره هر خزان چه ورسره مخامخ شی مات او په ښکلی او خوښېدونکی پسرلی بدل کړی.

هو! دا کارونه حقیقی انسان کولی شی، نو باید کوښښ وکړو چه حقیقی انسان واوسو ترڅو چه دژوندانه په دفتر کښې مودغه پلمتی او ناولی تکی ونه لیکل شی.

کوم؟ «خزان».

هغه پښتانه څه شو

لعل محمد (احمدی)

زمونږ گران نویسنده گان دسر په ستر گو او ښی تویه وی اود سوز ناری وی وائی پښتانه ولی بیرته پاتی دی؟ اوددنیا دتمدن کاروان مخ په وړاندی زغلی؟ مړه اوبی نومه خلك دخپل سعادت دپاره پاڅیدل دخپل ژوندون دتکامل اوبهبود دپاره ئی جد وجهد وکړو چه نن ورځ ئی دازادی او استقلال بیرغونه رپیږی پښتانه ئی اوری خود ناامیدی او بیرته پاتی کیدو غم او جړاور سره نشه! دخپل تاریخ پاڼو ځنی نه شرمیږی! چه زمونږ ه د کلو مزل اودهغو د ساعتو مزل ولی یو شی کیږی؟! وائی پښتنو په دنیا کښی نوم درلو ده دعلم اوعرفان خاوندان بلبل کیدل اوداسی افرادئی در لودل چه غیرت مند ننگیالی ځلمیانو ورته ویلی شو، د توری سپین رنگ ئی د غیرت او وطن دوستی، دجامعی او دقوم د لوړ والی دپاره ئی په گلابی رنگ تغیر خوړلی وو. ددی قوم افرادو په تخته ځانونه نه وینځلو او د شهادت په سرو کړو جامو کښی به ئی ځانونه تاوه ول هغه څه شول؟ او اوس ولی په مخ کښی تللی نه شو او بیرته پاته یو؟ دانقصانونه د کومی خوا ر اغلل چه جامعه ئی دردمنه اومریضه کړه او گټل شوی نوم ئی دپښتنولی د پښتنونه معدوم او سلب کړو؟؟؟ نوزه وایم چه: پښتانه دلیکو نکو د سوز ناری اوری، خلك هم گوری چه مخ کښی روان دی، دعلم اومدنیت دوره ئی هم دپخوا څخه ښه شوی ده او ښائی چه علم ورځ په ورځ زیات شی، مدنیت زور شی اوله دې خبر وله طرفه قصور نشته خوافسوس! چه زمونږ ه عمل نه ښه کیږی او یا د سره عمل نشته. دا لوی مرض چه سبب دار تقاد جامعی نشی کیدای انهدام او سقوط کوی ددې منحوسه نوم بی اتفاقی ده، ترڅو پوری چه کومه جامعه صحیح اتفاق اتحادونه لری هیڅ کله پورته کیدای نشی، مدام به قومونه ترینه وړاندی درومی او دوی به ورپسی وی داتفاق روح هلته پیدا کیږی چه پخپل مینځ کښی بغض، عداوت تر بکنی پریښودلی شی کشر او مشرو پیژندل شی، هریو د بل په خوشحالی خوشحاله او په خفگان ئی خفه شی نو بیا به د جامعی دبخت او اقبال نیټه راشی، د هر تصمیم د پاره به فتح اونصرت یاری کوی زما په عقیده کښی پښتانه ورونه لکه څنگه می چه وویل سره یوشیء او اتفاق نه کارواخلیء نو بیا به هماغه سر لوړی او دپښتنو نیکونو نوم ژوندی او تازه شی فکر دو کړ شی که یو سړی د قلادابادی قصدو کړی څومره وخت به وغواړی؟ او که یو ټولگی ئی قصدو کړی څومره زر به آباده شیء؟ همدارنگه دجامعی آبادی دیو سړی کارندی دځای دپاره ټولگی او ټولنه غواړی او دغه بیا داتحاد او اتفاق کاردی؛ په هر صورت زمونږ دپښتنو ورونو دی نصیب شی! امین!!

۲۸ د سرطان – ۱۲۳۷ – له ماما خیلو

مشاهیر :

دنیا هندله مجلی څخه:

د بهوپال مولانا برکت الله

د ښاغلی «سیفی» ترجمه

د هندوستان په سوو هغو خلکو کښی چه د خپل هواد د آزادۍ دپاره ئی خپل کورونه اومینی پرې ایښی نورو ملکوته تللی او بیرته خپل هواد ته نه دی راغلی ، دبهوپال دمولانا محمد برکت الله ددې کار او دهغه دنوم یاد گیرنه او قدر به دهمیشه دپاره کیږی او کوم خلك چه دخپلی مینی او هواد دنیکمرغۍ دپاره خدمتونه کوی دهغو دپاره له د دغو راز خلکو دژوندون حالات تل دلاری ډیوه او بل مثال وی .

ددې سبب دادی چه مولانا برکت الله په کوم وخت او زمانه کښی چه دوطن دخدمت په ډگر کښی پښه کیښودله ، په هغه وخت کښی سره ددې چه په دې لار کښی ډیرو خلکو خدمتونه کول او په دې لار کښی ئی په ډیره زړه ورتیا د راز راز تکلیفونو مقابلی کولی لیکن په دغو خلکو کښی ډیر داراز خلك هم وو ، چه دهغو سیاست تش یو جذباتی سیاست و بر څیره پردی په هغو کښی یوه بله خبره داهم وه چه له دې کبله چه د هغو د خپل هواد سره دامینه او علاقه یواځی په دې لوړ مقصد او اساس بناوه چه دخپل دغه زیار او فدکاری په اثر دوی بیرته دخپل وطن تیرشان او شوکت حاصل او ژوندی کړی نوله دې کبله که مسلمانانو به خپل دغه مرام ترسره کاوه نو هغو به غوښتل چه د مغلو غوندی یو حکومت جوړ او بیرته تاسیس کاندی او که هندوانو به غوښتل چه دغه هیله ترسره شی نو هغو به دا خبره غوښتله چه د راجپوتو او یا مرهیټو غوندی حکومت جوړ کړشی لیکن سره ددې په دغو دواړو طبقو کښی دخپل دغه جلاجلا مرام په ترسره کولو کښی نه کوم رقابت و ، او نه کومه فرقه پرستی او اختلاف ، لیکن ورو ورو ددغو متضاد خیالاتو په اثر دوی دیو بل څخه بیرته اولری شو هم داسبب دی چه مونږ د ۱۸۹۸ ع څخه تر ۱۹۱۵ ع کال پوری دهندوانو

او مسلمانانو د انقلابیانو جلاجلا ډلی په صاف ډول سره بنکاره کوویه دغه وخت کښی که ددیوبند مدرسه د انقلابیانو کور اومرکز، نو مهاراشتر او بنگال دهندوانو د انقلابیانو کورونه او مرکزونه وو اوسره ددې نه په مهاراشتر اوبنگال یعنی دهندوانو دانقلابیانو په ډله کښی د کوم بومسلمان نوم موندلی کیږی اونه ددیوبند دانقلابیانو په ډله کښی د کوم هندو نوم ایدلی کیږي ددې خبری سبب صرف هم داو چه په دغه وخت کښی د دغو خلکو په مغزو کښی دیو جمهوری حکومت فکر اوخیال نه و. له دې کبله دوی هیڅ کله دد ی خبری ضرورت نه حس کاوه چه دواړه طبقی دی په ګډه شریك کارو کړی. لیکن سره ددې هم په کوم وخت کښی چه دوی ددې مقصد دحاصلولو دپاره په ګډه او اتفاق ددې مرام د ترسره کولو ضرورت محسوس کړیدی، نو په دغه وخت کښی دغو د وطن خدمت کارانو د هندوانو او مسلمانانو په اتفاق اویو کولو کښی پوره کوښښونه کړی او زیاروونه ئې ایستلی دی اوموقع په موقع ئی په دې ایار کښی جګ خدمتونه کړیدی. دمثال په ډول د حاجی رشید احمد صاحب ګنګوهی هغه فتوای چه په دی لړ کښی ئی په ۱۹۰۵ ع کال کښی کړی اوپه هغی فتوای کښی ئی داخبره بنکاره کړی وه چه باید مسلمانانو په کانګرس کښی شامل شی، وراندی کوو. اودغه ډله دهندوانو اومسلمانانو یوه ګډه اومخلوطه ډله ده. لیکن باید مسلمانان د سرسید په ډله کښی چه بواځی دخالصو مسلمانانو ډله ده شامل شی لیکن هم په دې وخت کښی مولانا برکت الله صاحب دبهوپال اوسیدونکی دې میدان ته راګډشو او دا ډیره کمی ئی پوره کړه. دامولانا دبهوپال اوسیدونکی و او دده پلار دریاست په رسمی مامورینو کښی جګ رتبه درلوده. دده پلار خپل دغه ځوی د جګو تعلیمانو دحاصلولو او زدکړی دپاره لندن ته ولیږه اوهم ددی مفکوری په اثر مولانا خپلی ځوانی دجوش په وخت کښی لندن ته ورسید او دنورو هندوستانیانو زدکړیو او شاګردانو غوندی په ظاهری فیشن کښی مجذوب نشو بلکه انګلستان ته درسیدلو او دهغو خلکو دژوندون د ایدلو سره سم د مولانا په زړه کښی دافکر پیدا شوچه دادانګلستان غوندی کوچنی ملك ولی دومره هوسا اوخوشحاله دی اوځما وطن هندوستان سره ددې چه دیر اوی ملك دی خلك ئې خوار او په بد حال دی مولانا په دې مسئله کښی غور اوفکر شروع کړاوپه دې لړ کښی دې نتیجی ته ورسید چه دهندوستان ددې بی وزلی اصلی سبب هم دادی چه دغه ملك دانګریزانو په لاس کښی دی

او دانګلستان حکومت دژوری غوندی په دغه ملک خواه ښخه کړې ده او ددې وطن و ینی
څښېښی او ددی خبری لازمی نتیجه داده چه دانګلستان او ددوی وطن دی موړ او چاغ او قوی
وی او ورځ تر ورځی دی غټیږی او په هم دغه ډول زمونږ ګران هواد دی ورځ تر ورځی خوار
او ډنګریږی او ورځ په ورځ دې ناروغیږی په دغو وختو کښی دمهار اشتر دمشهور و
انقلابیانو څخه ګوپان کرشن ګوکهلی ډېر قوی و.

او ده به ددې عنوان لاندې چه دهندوستان مالی حالت ولی دومره خراب شو؟
ډېر مفصل نطقونه کول په اولو اولمړو ورځو کښی دغو نطقونو په مولانا برکت الله
صاحب ډېر اثر و کړ لیکن دڅو ورځو نه وروسته دی په بله ډله کښی شامل شو او هر کله چه دی
دانګلستان نه بیرته هندوستان ته راغی نو ده په بهوپال کښی یو اخبار تأسیس کړ.
په دغو ورځو کښی انګلستان ته تلل او په هغه ځای کښی تحصیل کول ډېر لوی کار
ګڼل کیده او دغو راز خلکو ته به انګلیسانو جګی رتبې ورکولی لیکن مولانا دغو شیانو ته
هیڅ اهمیت ورنه کړ او دخپل ځان سره ئې دخپل هواد دخدمت کولو فیصله و کړه. له دې
کار څخه معلومیږی چه دمولانا دوطن سره مینه حقیقی وه او دښودلو د پاره نه وه او ده
دخپل هواد او مینی سره حقیقی درد دراود او هم دا سبب و، چه مولانا په دې لیار کښی دهیڅ
راز تکلیفونو او مصیبتونو پروانه کوله.
دمولانا دغه اختیار ترڅه مودې پوری وچلید. لیکن حکومت ددغه اخبار د تیز و او
شدیدو مضامینو تحمل ونه کړی شو او حکومت دغه اخبار توقیف او مولانا ئې هم نظربند کړ.
له دې اوضاعو څخه مولانا ته داخبره معلومه او ښکاره شوه چه زه په خپل وطن کښی دننه
دننه خپل خیالات په ښه او ازاد ډول نشم ښکاره کولی له دې کبله دی د هندوستان څخه
جاپان ته ولاړ او دجاپان په یوه یونیورستی کښی دپروفیسر په حیث مقرر شو او له دی ځای
څخه مولانا دیو (اسلامکر فیرنتی) نومی اخبار به خپرولو پیل و کړ دې اخبار به دسرسید
دهغو مضامینو مخالفت کاوه چه دهغو څخه به هندو او مسلمانانو په منځ کښې داختلاف
دپیدا کیدلو ویره وه، او مولانا برکت الله صاحب به تل ویل چه: دمسلمانانو ګټه یوا ځی په
دې خبره کښی ده چه دوی دهندوانو سره یو ځای شی او دانګلیسانو دحکومت په مقابل
کښی دی محاذ جوړ او مقابله و کړی.
هر کله چه انګلیسانو ته داخبره معلومه شوه چه دغه اخبار زمونږ مرام ته صدمه رسوی

نو دجاپان په حکومت ئې په اعتراضونو پیل وکړاو په نتیجه کښې جاپان دې خبرې ته مجبور شو چه دغه اخبار بند کړی . ددغه اخبار د بندیدلو سره سم مولانا خپله کډه وتړله او د جاپان څخه ئې دوتلو په تیاری پیل وکړ . په کومه یونیورستی کښې چه مولانا پروفیسرو دمغی منتظم داخبره ته غوښتله چه مولانا له دغی یونیورستی څخه ولاړ شی . لیکن مولانا خپل وطن دې دپاره نه و، پری اېښی چه کوچنیانو ته سبقونه ور وښیی او خپله خېټه مړه کړی، دی دجاپان څخه امریکې ته ولاړ او په هغی ځای کښې ئې په خپل پخوانی کار پیل وکړ .

دده به داخبره ډیره بده راتله او دې خبری به ورته ډیر تکلیف ورکاوه چه دده دوطن دځینو معترضینو دتاثیر لاندی راغلی او نن ددې خبری په شا او خوا کښې بحثو او خبری کوی چه په کانګرس کښې شامل شی او که یه ؟ سره ددې چه کانګرس په هغه وخت کښې یو داواز نرمه او سسته پالیسی درلوده چه لدغه کبله مولانا هم کانګرس د کار یو شی نه ګڼه لیکن ده داخیال درلود چه دا دوطن یو ګډ او متفق شی دی ، ارومرو به په حکومت څه نه څه اثر ولری . په دی لړ کښې مولانا د ۱۹۰۵ع کال دفروری په ۲۱ یو مکتوب حسرت موهانی ته لیکلی و لدی خط څخه دمولانا دهغه وخت احساسات او وضعیت ډیر ښه معلومیږی د امکتوب په پاړسو ژبه لیکلی شوو چه مطلب ئې دادی :

«په دی ورځو کښې چه تاسې دانډین نیشنل کانګرس د کالنی جلسی په موقع کښې دهندو او مسلمان دیووالی په خصوص کښې کومه سرمقاله لیکلی او مضمون مو شایع کړیدی ډیره مهربانی مو کړیده . ستاسی ددغه مضمون انګلیسی ترجمه می ولوستله ډیر خوشاله شوم دټولو څخه لمړی خبره چه دهند او مسلمان داتحاد دپاره دلیل ګڼلی شی او دغه دواړه کامونه په خپلو کښې یو کولی شی دوطن مینه او داخبره ده چه دی ټول دیو جنس او یو کام څخه دی او دواړه هندوستانیان بللی شی او اصل خبره داده چه دغه دهند ټول مسلمانان هندوان وو او هم ددې هندوستان لوسیدونکی وو . او هم لدې کبله مذهبی اختلافات ددوی پخوانی اتحاد ته کومه صدمه نشی رسولی . او بر څیره پردی دمسلمانانو او هندوانو یو والی د ټولو څخه نن دې دپاره ډیر ضروری شی دی چه نن په ټول وطن کښې په عمومی ډول تباهی خپره شویده په تیرو لسو لمړیو کلونو کښې تقریباً شل ملیونه خلك دو لږی مړه شویدی او په دی خلکو کښې هندوان هم - شامل وو، او مسلمانان هم او ددی معاملی اهمیت به هله په ښه ډول

ښکاره شی چه دایران سره ددی شمیر مقابله و کړو چه پنځلس ملیونه دی اخر داغریبی او بی وزلی له کومی راغله ؟

(۱) په کم وخت کښی چه دانګلیسانو حکومت قائم شو او دانګلیسی فابریکو خاوندانو دماشینو په ذریعه ټول ضروریات جوړ کړی او بدغه ذریعه ئې دهندوستان کسبونه خاوری او برباد کړل او د (۱۸) پیړی په وروستنی او (۱۹) پیړی په لمړی برخه کښی دانګلینډ پارلمان داخبره تصویب کړه چه که دهندوستان مصنوعات انګلستان ته څوك راوړی نوله دغه مال دراوړونکیو څخه به یه سلو کښی (۷۰) اویا (۸۰) محصول اخیستلی شی او کوم دانګلستان جوړشوی مصنوعات چه هندته وړلی کیږی نو دهغو څخه به یا بالکل محصول نشی اخیستلی اویا به ور څخه څه ډیر لږ جزوی محصول اخیستلی شی او هغه به هم دهندوستان دحکومت دمصارفو دپاره اخیستلی کیږی او هم ادې کبله دهندوستان مصنوعاتو په نورو ملکو کښی ځای ونه موندلی شو .

اولدې کبله چه دانګلستان جوړشوی مصنوعات ارزان وو نو پخپله په هندوستان کښی هم دهندوستانی مصنوعاتو ځای دانګلستان مصنوعاتو نیو او دارزانتیا له کبله خلکو ددغوشیانو رانیولو ته ډیره توجه وکړه او ددې کار په اثر وروروو دهندوستان مصنوعات ورك شول او هغه هندوستان چه دمصنوعاتو او صنعت مرکز و یوازی دبزګری کارته کښیناست .

(۲) سبب دادی چه دهندوستان مصنوعات به دانګلستان سرمایه دارانو په ډیر جزوی قیمت رانیول او په نورو ملکو کښی به ئې په ډیر قیمتو خرڅول .

(۳) داچه په هندوستان کښی دکروندی او بزګری دپاره دکومو نو یوعصری چارو څخه کار وانه خیستلی شو .

(٤) سبب داچه دهندوستان حکومت تقریباً دبرش کروړه روپی دهندوستان په وزارت دمصرف کولو دپاره دانګلستان څخه دقرض په توګه داخیستلو شو او روپی د سود په عوض او دانګلیسان د مامورینو د تقاعد دپاره هر کال لندن ته لیږی .

(٥) داچه ټولی جګی رتبی یوالحی انګلیسانو ته ورکولی کیږی او کوچنی رتبی هندوستانیانو ته

(٦) چه دقانون اواندین سیول سرویس دامتحان دورکولو دپاره هر هندوستانی په دې خبره مجبور او ملکف دی چه انګلستان ته ولاړشی . داد ډیرو هغو نقصانو څخه لږه

نمونه ده چه مونږ په دې مقام کښې ذکر اوښکاره کړل اوهم دغه شیان زمونږ دخواری او بربادی اصلی او اساسی عوامل دی او دا زمونږ دور کاوی د موجباتو ډیره لږه نمونه مونږ په دی لړ اوځای کښې دی دپاره ذکر اوښکاره کړه چه دانمونه د هغوخلکو د عبرت دپاره یومثال شی چه هغوی په کانګرس کښې دشاملیدلو څخه ډډه کوی.

که مسلمانان په کانګرس کښې شامل شی اود کنس مکش په دې ډګر اومیدان کښې دهندوانو څخه دبریالی توب پندوس وړاندی بوزی نو په حقیقت کښې به دغومسلمانانو داسلام دپاره ډیر خدمت کړی وی! له دې مکتوب څخه معلومیږی چه د مولانا سیاست کوم جذباتی سیاست نه و بلکه دی د خپلو ګرانو ورونو او وطندارانو دبې وزلی او راز راز تکلیفونو غم دی ډګر ته راستلی و دینه وروسته په ۱۱ - ۱۹۱۸ ع کال چه په امریکه کښې یو انقلابی حزب تشکیل شو نو مولانا هم په دغه حزب کښې شامل شو. په دې ځای کښې ددې خبری یادول ضروردی چه ددغه انقلابی حزب ټول مشران سکان، وو لیکن مولانا ته په دغه حزب کښې ځکه شاملیدل ضروری معلوم شو چه دغه حزب دده د وطن دافرادو یو حزب و او ده په دی مسئله کښې دهندواو مسلمان اوسیك فرق نه کاوه، ددغه انقلابی حزب سکانو هم د مولانا ډیر قدر کاوه او د احترام په سترګه به ئی ور ته کتل لیکن هر کله چه ددغه حزب په آرا کینو کښې بی اتفاقی ولویده او دغه حزب خپو رشونو په دغه وخت کښې مولانا دیو داسی سړی په حیث یواځی پاته شوچه ددغی ډلی هر یو ر کن په ده باندی پوره اعتماد درلود او دده خبره به ئی منله. لیکن هر کله چه په ۱۹۱٤ ع کال کښې لوی جنګ شروع شو نومولانا فی الحال جرمنی ته ورسید او کوم اند و جرمنی ترکش وفدچه دجرمنی څخه افغانستان خواته په هغی وفد کښې دممبر په حیث شامل شو او د ترکیی په لار افغانستان ته ولاړ او دا وفد دې دپاره افغانستان ته راغلی ؤ چه د افغانستان حکومت دخپل ځان سره بوځای کړی په هندوستان حمله و کړی په دی ځای کښې مولانا برکت الله صاحب د مولانا عبیدالله صاحب سندهی او مولانا محمد میان سره په خپلو کښې دیو بل سره و پیژندل او هغوی دهندوستان په هغه عارضی ازادحکومت کښې شامل شوچه دې خلکو جوړ کړی و - په دې حکومت کښې مولانا برکت الله د صدراعظم حیثیت درلود اکه چه څرګنده ده د ي

وفد هلته دانګلیسانو دلاسه څه ډیر کارونه کړیشو، له دې کبله دلوی جنګ دخلاصیدلو سره سم مولانا روسیې ته ولاړ او په دغې ځای کښې ئې دروسی دحکومت دټولو احوالاتو او کمیونزم په شا اوخوا کښې مطالعات وکړل او په دې لړ کښې په دغو شیانو کښې ډیری ځنی دارازافکار او نظریات هم ووچه مولانا دهغو سره اتفاق نه درلودالددې کبله مولانا د روس نه بیرته جرمنی ته ولاړ او له هغه ځای څخه ئې دیو (الاصلاح) نومی اخبار په خپرونه پیل وکړ او ددې اخبار نصب العین داوچه دهندوستان خلك دانګلیسانو په مقابل کښې ودروی دا اخبار څوورځی خپریده لیکن دروپو دنیشت والی له کبله بند او معطل شو.

هر کله چه د۱۹۲۷ع کال دفروری په میاشت کښې په بروسلیس کښې اپنټی امپریلزم کنفرانس وشو نوده په دغه کنفرانس کښې دانقلابی حزب درسمی نماینده په حیث برخه واخیسته. په دې کنفرانس کښې دګډون دپاره دټولی نړۍ څخه خلك راغلی وو، او دهندوستان دکانګرس له خوا څخه په دغه کنفرانس کښې دګډون دپاره پنډت جواهر لال نهرو برخه اخیستی وه په دغه وخت کښې مولانا دنهرو سره په خپل (میری کهانی) نومی مشهور کتاب کښې هم په ډیرو ښو الفاظو کښې کړیدی. دې کنفرانس نه وروسته په سان فرانسسکو کښې ددغه انقلابی حزب اجلاس وشو او دغې جلسې ته مولانا په ډیر زیات اصرار او غوښتنې شو. په دغه وخت کښې دمولانا صحت دومره ښه نه وچه دومره لری سفرو کړیشی لیکن سره ددې هم مولانا انکارونه کړیشو. او ددغه کنفرانس ګډون ته ئې ځان ورورساوه او کوم نطق چه مولانا په دغه کنفرانس کښې کړی وداد مولانا وروستنی نطق واو په دغه کنفرانس کښې ئې غوښتنه کړې وه چه باید ټول دانګلیس دحکومت په خلاف ودریږی. وائی چه دمولانا دغه نطق دمولانا دټولو نطقونو څخه ښه او کامیاب نطق ؤ او ددغه نطق هره جمله او توری دغضب او جوش او در دمنو جذباتو څخه دکه وه، او ډیرو خلکو په دې نطق وژړل.

ددې جلسې نه وروسته دی ناروغه شو په دغه وخت کښې مولانا د(۶۵) کالو و، چه له دغې عمر څخه مولانا تقریباً (۲۲) کاله دجلاء وطن په حال کښې دیو ځای څخه بل ځای ته په منډو او سفرو کښې تیر کړیدی او په دغه لړ کښې کوم احوال او سختی او تکلیفونه چه مولانا ګالی دی داسی احوال دی چه په اروید لو ئې دتیږی څخه کلك زړونه هم

دموموغوندی ویلی کیږی. ده نه پیسی درلودې او نه داستو ګنی کوم ځای اوسره ددې په بیکانه اونا اشنا ملکو کښی به‌ترې دانګیسانو جاسوسان چاپیرو واوپه دې لړ کښی کله کله دملګریو دمخالفت سره هم مخامخ کیده لیکن سره ددې هم‌چه مولنا به دچا سره مخامخ کیده نو په ډیر ورین تندی او دخندا څخه په ډکه خوله به‌مخامخ کیده او که دده ملګری به‌دمشکلاتو څخه په‌تنګ شو او په خپلو منځو کښی به ئی په‌جنګو پیل وکړ او په یوبل باندی به‌بدبدالزامونه پوری کول‌نو به دهغوی دیوبل سره پوخلا کول اوهغوی به‌ئی پوهول‌د به هیڅ کله‌خپل مصیبتونه نه‌یادول لیکن هر وخت به دخپلو ملګریو دمصیبتونو اورویدلو ته تیارو اوهم له‌دی کبله دته‌به هرچا دقدراو احترام په سترګه کتل. ځینو خلکو به‌داخیال کاوه چه مولانا دیوراز پریشانو افکارو خاوند دی اوداځکه‌چه دده په‌هره خبره کښی به‌دروحانیت رنګ ګرځیده سره ددی‌چه دی په توله اروپا کښې اوپه روس کښې ئی هم‌ډیره موده تیره کړی وه‌دین اومذهب سره ئی ډیره زیاته علاقه درلوده اودخپلو مذهبی احکامو په‌پوره ډول تابع‌او پابندو. او ده دمسلمانانو اوهندوانو په‌اتفاق پوره عقیده درلوده اوددوی په‌منځو کښې به ئی نفرت او بی اتفاقی ته په بدنظر کتل.

ددې وروستی ناروغتیا په وخت کښې هم‌دده بی‌وزلی تردې حده رسیدلې وه‌چه دده بستره په کوچنی خونه کښې پرته وه اوله دارو درملوخو ذکرهم نه‌و. زمونږ دملك د ارادی شا ځلمی په‌دی ډول‌شپی ورځی تیرولی لیکن سره ددی هم‌ده په ډیره رونه تنډه ددی‌مصائبو استقبال کاوه ترڅوچه د ۱۹۲۸ع کال دجنوری میاشتی په(۸) نیټه‌مولانا وفات شو. دمرګ په‌وخت کښې‌ده خپلو ملګریو ته‌ویلی وو:

« مادخپل ژوندانه په‌ورځو کښې‌په پوره ایمان داری اوصداقت دخپل‌وطن د آزادی دپاره کار اوخدمت وکړ. اوزه داخپله نیکمرغی ګڼم چه ځما دعمر ډیره برخه د خپل ګران هواد په‌خدمت کښې تیره‌شوه لیکن په‌دی خبره افسوس کوم چه‌زه په‌خپلو دغو چارو کښې ناکامه پاته‌شوم لیکن سره‌ددې زه‌په‌دې خبره‌ډیر خوشحاله یم چه مانه وروسته به‌ډیر خلك ددې ملك دخدمت دپاره پورته‌شی او په ډیرصداقت به‌ددې‌وطن خدمت‌وکړی اوپه دی لار کښې به‌ترخپلو سروتیرشی. زه‌په ډیراطمینان دخپل وطن قسمت هغوته سپارم

اوځم ؟» داهغه الفاظوو چه‌دوطن دمینی دغی شهید دخولی‌په روستو خلکیو کښې و تلی او دتاریخ په‌پاڼو کښې دهغه‌څخه دیاد ګارپه ډول پاته شویدی .

دمولانا ددې ټولو حالاتو دمعلومیدلو نه‌وروسته می کله کله داخبره رایه زړه شی چه ارمان نن‌هم مولانا ژوندی وای اوپه‌دی آزاد هندوستان کښې ئې څو ورځی خدمت کړی وای. لیکن بیا دافکر می‌مغزوته راولویږی چه دهغه نیشت‌والی هم‌نن بدنه دی او داځکه چه که‌نن هغه ژوندی وای نویابه د پاکستان‌په کومه بندی خانه کښې بندی وای‌او داځکه چه‌دی دهندو اومسلمان دیووالی طرف‌دار اوحامی و اوهغه ددی راز بربادی اونفرت او بی اتفاقی تحمل‌نشو کولی. او که ده په‌هندوستان کښې استوګنه غوره کړی وای نو خلکو به‌دده په‌دی کار اعتراضونه کړی وای اوپه هغه به‌ئی رازرازبد ګمانونه کول اودا ګارونه به‌هغو خلکو کول چه‌خپل ټول عمرونه‌ئی دانګلیسانو په خدمتو او پښو مښلو کښې تیر کړی‌وو. نوله‌دی کبله داخبره ډیره ښه ده چه‌نن هغه په‌یو داراز ځای کښې دی چه ددې ټولو شیانو څخه بیغمه دی .

(پای)

د ښو نغمو لړۍ

قاضي عبدالحليم اثر افغان مدير
(سلارزاى د با جوړ)

آسمان له تانه فريانيدلو - زلفي ئې له تا نه چاپيره کړي وي - تاستوري څه له راغوختي ووتو له شپه درته ولاړ ؤو. بيگاه د نور په څه پسې ايښولي ؤو - اوس به راشي - شمال د مينکو عطر په ځان پورې کړيدي - د ونو ديانړو رباب په نرې ترنگ وهي - په باغ کښې گلونه په خندا هوسيږي ته خمار ستړې را پورته کړه - صبا دي ، ځما دزړه سره ته به له خواب ناز نه کله پاسې ؟

ماقلم ته ستا نوم وا خيست مگر ددينه خبر نه ووم چه دقلم سره ستا دزړه دوستانه ده - ځکه چه هغه ستا دنوم آوريدو سره سم کاغذ ښکل کړ اويه عبدالرؤف خان بينوا پسې ئې په ديرې احترام اوليکل روغ د وي مادخيال به دنيا کښې په يو خو لفظه شايد څوک ورته دشاعرۍ وجدانې کيفيتونه اوائي - د «چا» د حسن جلوه ستا ئيلي - اود «چا» دليدلو آرزو لرلي ده - درليږم ئې مجلهٔ «کابل» په خپله لمن کښې د نظم ادبي مرغلرې ساتي که دا مهرې يکښې ځاى اومومي - گنړم به چه د «چا» دنظر له برکته د «ب» يو تکې ځمايه حال «نواه» شوه .

●●●

شايد ته نه راځې

ذره دلمر په تماشه ده . ددې په ددې کښې - آيا داد قدرت ددلفريب ، رنگين او کيف آوره نظارو په باب دخپل مد هوش کن تحير تصوير جوړه وي ؟

که نه ديو موهوم پرستان دسر مدي نغمې غږونکې ابشار په ژلقند واوبو کښې د بيلتانه وهلي عاشق د معصومو اوښکو په شان سپينې سپينې مرغلرې دي چه غلې ئې لاند باند کوي .... . نه ..... نه .... ستا دسپين مخ په برق چه په ماسترزې نور تور شوي داورته روستو اوس هغه بسرې ذلقيږي - تا زلفې خورې کړيدي ذره د کاينات عالم سره هغه شان په بيخودي کښې ده لا بيهوشه !!!

ځه به گلونه لاس په لاس درله راولم - ته وايې گل تاته په غټو ستر گو کتلي دي ؟

بهار داوبو .... نريو بهندو اوبو په غاړه ناست دي . درا نبيل چانبيل اميلونه ئې په غاړه کښې اچولي دي - دقمرې شهباز ئې په لاس دي دسرو رباب په نرې ترنگ وهي ، ستا په «ملالو ستړزو» کښې خمار له کيفه دنغمو دي ، او که نه دعاشقانو بخت بيداره په خواب ناز تللې ئې ؟ ..... دشبنم اوخکې په سبزه رتې رتې پرتې دي - شايد دحيرت په درياب تللې نرگس په تا پسې ژړلي دي ؟ ..... دا د بهار نظام

ستا دپاره دی که نه په صحرا کښې دشنو مخملو غوړه ولوخه ناڅیده ـ دګل لاله د آتشینو ښېښو قطارهو او خه مطلب ؟..... باد صبا وئیل دجانان زلف دانه وانه شوی اوس به خرام نازشی مګرته رانغلی .....
آسمان پسی جواب او کړی ـ خزان درا اولیږی ـ خپل فرشونه دتول کړی ـ بلبلان دباغ په باغ او ګوزه وی ګـلـونـه درخصت کړی شاید ته نه راځی ؟ . . . . . ! ! !

❀ ❀ ❀

چا وئیل تا ګلونو ته خپل حال وئیلی دی ـ مابورا درپسی ګل په ګل اوګرزاوم ـ شاید تا مـنعه کړیدی ـ ځان له سره خاندی ماته غږ نه کوی مابه نرګس درپسی شوګیری او کړی ـ مابه بلبل در پسی دباغ په بیل بیل ګوټ نعری او وهلی ـ طو طیان م درپسی سر دروته او لیږل ماښام می درپسی دآسمان په برسر اوسحرم درپسی په برسر کښې دسرو لنبو په درا کښې لټون اوکړ ـ لمر غریب م درپسی تـوله ورځ سروالی بروالی اوکرزاوه ـ سپوږمی عاجزم درپسی توله شپه په غرونو اوبیا بانو نو کښې ناقلاره کړه ـ ته چرته نې ؟

❀ ❀ ❀

دآسمان ستوری یو نیم بل پیمی دلونه وهی دباغ ګلونه دیو نیم سره خاندی ـ بلبلان سره په سیل دتر ومی یو بل ته نعری وهی ـ شاید به دوی اختر دی ؟ ! !
هغه ددوه سینو زړونو دوصال ساعت ـ اشمال هرچاله غیږ په غیږ ورځی دسنبل زلف شانه شوی ـ دقمری نعری مستانه شوی ـ دګل لاله جامی رنګینه شوی ـ دباغ آو بهار دیوی په میخانه شوی مګرته را نغلی
تاوی زه به درشم . . . . . اوهو . . . . . دومره نصیب ځما چرته . . ؟
شاید ته نه راځی . . ؟

❀ ❀

« اثر » یو ځله دیدن ته د یارپریږ د ه
دا اسمانه که ګاتی لګوی کو ه

کښې به ئې هم خپل ځانونه پاك الله ته مخامخ او حاضر ګڼل ـ بنا پردی یو ناڅاپه په ټول عربستان کښې عمومي امن او امان قائم شو .

(عدی بن حاتم) شهادت ورکوی چه ما پخپلو سترګو سره د (حضرت محمد رسول الله ص) له پخواو یلو سره سم ولید چه له (صنعاء) څخه تر (حجاز) پورې به یو یوتن یواځې بې له ملګری او بدرغی سفر کاوه او بې د الله تعالی له خشیته او ویرې به بل هیڅ خوف، ویره او اندیښنه ورسره نه وه او لیاره به بیخی مأمونه او محفوظه وه (۱) .

یو اروپائی مؤرخ چه قلم ئې د اسلام د پیغمبر په نسبت ډیرې کڼړی وږی خبرې کوی او د (حضرت محمد رسول الله ص) د مدح او ستاینې په نسبت ډیر لږ خوځیږی او (مارګیولیوس) نومیږی پدغو الفاظو سره د دغه حقیقت اعتراف کوی :

« د محمد د وفاة پوقتکښې د هغه سیاسي کار غیر مکمل پاتې نشو ـ ده د یوه داسې سیاسي او »
« مذهبي سلطنت چه دارالسلطنة ئې مقرر کړی ؤ ـ اساس ایښی ؤ ـ ده د عربو د منتشرو قبائلو »
« څخه یو قوم جوړ کړی ؤ ـ ده عربو ته یو مشترك مذهب ورعطاء کړی ؤ ـ او په دوی کښې دغسې »
« یو مزی قائم کړی وه چه له کورنیو مزیو او علایقو څخه زیاد مستحکم او مستقل ؤ . (۲) . »

د باندنی خطراتو د انسداد لپاره الله تعالی عجیب او غریب سامان او اسباب پیدا کړل ـ د قریشو او د مدینې د منافقینو په اشتعال او لمسون جهودانو غوښته چه اسلام لتاړ او بیکار او له منځه لرې کړی چه په نتیجه کښې پخپله جهودان بیکار او لتاړ او ورك شول، د هجرت له دریم کال څخه نیولی د هجرت تر اووم کال پورې پر له پسې جنګونه واقع شول او بالاخر د (خیبر) پر فتح باندی د جهودانو سیاسي قوت خاتمه وموندله ، رومیانو او د شام د حدود عربي عیسائیانو د اسلام د خرابۍ او استیصال لپاره هم خپلې پښې لوڅې کړی وی ، د عربو په عیسائي رؤساؤ کښې له ګردو څخه طاقتور او زورور (غسانی) ؤ چه د رومیانو د لاس دلکړی پشان ؤ او د هغوی په ایماؤ او اشارو باندی ئې هر راز کار کاوه ـ (بهرا ـ وائل ـ بکر ـ لخم ـ جذام ـ عامله) او نور عربي قبائل د غسانی تر اثر او امر لاندی ؤ ـ برسېره پر هغه د (دومة الجندل ـ ایله ـ جرباء ـ اذرح ـ تباله ـ جرش) او د نورو ځایو وړوکی وړوکی عیسوی او جهودی رئیسان او مشران هم ؤ . د غسانیانو ډومبنی حمله په کومه طریقه چه شوی ده د هغه تفصیل پخوا لدینه [د دی کتاب په ۳۵۳ مخ کښې] تیر شو . (حارث رض بن عمیر) چه د (بصری) ټولواك دربار ته سره د اسلامي دعوت فرمان تللی ؤ په لپاره کښې د (غسانیانو) له خوا په شهادة ورسېدل . د (حضرت نبوی ص) له حضوره د هغوی د تأدیب لپاره یو دری زریز لښکر اعزام شو .

د غسانیانو یو لك تنه مسلح او مجهز لښکر، په ډیر قوة او قدرة د دغه اسلامي دری زره تنه لښکر مقابلې ته ووت . سره له دې چه مسلمانان پخپل مقابل کښې دغسې یو زور ور لښکر ولید ـ او په دی باندی هم خبردار شوی ؤ چه د رومیانو همدغو مره نور لښکر (د غسانیانو) مرستی او کومك ته نژدې په (مواب) کښې ډیره دی ، خو بیا هم دغه اسلامي جزوی لښکر د مخالفانو د دغه زور ورو لښکرو څخه و نه

(۱) : وګوری ! (صحیح بخاری شریف) .
(۲) : وګوری ! « لائف آف محمد » د مارګیو لیوس د تصنیف (٤٧١) مخ .

وېرېدل ، او څه معظم او له خپله سره تېرو مسلمانانو خپل ځانونه د جنګ په ډګر کښې په شهادة ورسول او نورو په لطائف الحيل سره خپل ځانونه بېرته واېستل - چه د دغه جنګ نوم د (موته) غزاده .

مدينه وروسته د هجرة په نهم کال کښې د (تبوك) غزا وړاندې شوه . هره ورځ او هره ګړۍ به دغسې اطلاعات او خبرې رسېدې چه د روميانو لپاره عيسائي عرب يو ډېر قوي او زور ور فوج جوړوي و هغوی ته ئې ديوه کال تنخاه لاله پخوا څخه ورکړې ده او هغوی ګرد سره مامور شوي ؤ چه پر (مدينې منورې) باندې يرغل ور وړي - دغه اخبار هم رسېده چه (غسانی) افواج درګرده د سفر او دهجوم په تيارۍ کښې مصروف او بوخت دي او دخپلو آسانو په نالولو او نورو تجهيزاتو کښې مشغول او لګيادي - نو بيا پردي (حضرت محمد رسول الله ص) سره له ديرش زرو اصحابو په تعرض بريدو کړ اوترشلو ورځو پورې د دښمنانو درانګ په انتظار کښې دعربو په سرحد اوويش کښې ډېره شول ، ليکن هېڅوك ددوی دمقابلې او جنګ لپاره را نغلل خو سره له هغه ددغه تعرض څخه دغه فائده مسلمانانو ته ورسېده چه پرته له غسانيانو څخه نورو ټولو مشرانو او رئيسانو د روميانو ملګرتوپ پرېښود اود اسلام حمايت ئې قبول کړ (١) .

دهجرة په ١١ کال کښې (حضرت نبوی ص) د مرض الموة پموقع کښې د (اسامته بن زيد رض) تر امارت لاندې د روميانو د مقابلې لپاره بيا افواج معين اوپه حرکت مامور شول - خو د دغه مهم اختتام په « صديقي » خلافت کښې وشو .

دپارسيانو دحکومت حيات چه خپل آخرې دورې ته رسېدلی ؤ د هجرة په لسم کال کښې د اسلامي داعيانو د رسېدلو سره سم بې له کومې مقابلې اوجنګه د (پارس) دحکومت مزی له (يمن) او (عمان) او (بحرين) څخه وشليد .

الغرض دنهو اولسو کلو دمتواترو او پرله پسې کوښښو اومجاهداتو په اثر اودپاك الله دآسماني تائيداتو په برکت په ټول عربستان کښې امن اوامان قائم شو - دقريشو اودجهودانو دپلمې او دسيسې طلسم مات شو - د قبائلو له منځه کورنۍ جنګونه ورك شول - دغلو او دداره مارانو ډلې او ټولې ګرد سره مطيع او آرام شول - خارجي خطراتو هم انسداد وموند او دغسې وقت او موقع وړاندې شوه چه سره له صلحې او روغې او اطمينان د الله تعالی له احکامو او فرمان سره سم داصلې مقصود په جانب توجه وکړې شي !

---

(١) ددغه ټولو وقايعو تفصيلات او حوالې پخوا لدينه د (موته) او د (تبوك) دغزا په ذکر کښې ښکلې شوې دي وګورئ ، ځمونږ ددغه کتاب د اول جلد (٣٥٣) مخ تر (٣٥٥) مخ پورې او (٣٩١) مخ تر (٣٩٤) مخ پورې .

داسلام اشاعت او تبلیغ

د کائناتو دسردار اصلی او اساسی کار په تمام عالم کښ داسلامی دعوة اعلان خپرول او انتشار ؤ اونه یواځی داسلام اعلانول بلکه پهر قسم جائز او صحیح وسائل سره گرد جهان د اسلام په حلقه کښ داخلول مقصود ؤ . لذا هغویته دتیغ اوخنجر اود فوج اولښکر څه ضرورة نهؤ . بلکه همدغومره کافی ؤ چه دحق ددعوة غږ گرد عالم او عالمیانو ته ورسوی .

لیکن په (مکه معظمه) کښ تر دیارلسو کلو نوری د اسلام اعداء داسلامی دعوة او تبلیغ په لباره کښ سداو حائل وگرځېدل دحج په موقعکښ د عربو ټول قبائل له ډېرو لرېو لرېو مقاماتو څخه راتلل . (حضرت محمدرسول الله ص) به هرې یوی قبیلی ته ورته او یواځی همدغسی مطالبه او غوښته به ئی تری کوله چه :

« (قریش) می نه پرېږدی چه دالله تعالی دغه حقانی پیغام خلق الله ته ورسوم غواړم تر څو »

« تاسی له ماسره مرسته وکړی ؟ ! اوموقع راکړی ! چه پدغه مبارك مقصد کښ موفق شم ! »

لیکن د قریشو د اشرارو دنفوذ لامله به ددغو زرگونو او لکونو سړیو څخه یو تن هم دغسی حمایت او اعانت نه حاضرېده اونه مستعد کیده .

خوسره له هغه د حق او د حقیقت دلمر رڼا او پلوشه لدغو کلکو او کثیفو وریځو څخه هم تېرېده دمستعدو قلوبو پرسطو حو باندی لویده . اود نبوت دمرکز شاؤ خوائی رڼوله . اسلام یو اځی اشتهار او اعلان ته ضرورت در لود . او دغه کار پخپله د اسلام دښمنانو پای ته ورساوه . هر کله چه دحج موقع راتله ، نو دقریشو رؤساؤ دتېرېدو راتېرېدو په عمومی ځایو کښې پخپلو مخصوصو خیمو کښ کیناستل ، اود باندنیو راتلونکیو خلقو ته به ئی دغسی اطلاعات او خبری رسولی چه ځمونږ په ښار کښ (معاذالله) دغسی یوبد عقیده سړی پیدا شوی دی چه ځمونږ دمعبودانو توهین اوسکپتیا کوی او کار ئی تر دغه ځای پوری رسېدلی دی چه « لات » او « عزی » ته هم بد وائی . او برسېره په دی پخپله همدغه زائرینو او مسافرینو به هم د (حضرت محمدص) له حال اواحوال څخه خپل ځانونه خبرول ځکه چه دبعثت نبوی آوازه او انگاځه تر ډېرو لرېو ځایو پوری رسېدلی وه .

بدعقیده ؤ نه په عربی کښ « صابی » وائی ، پهمدغه مناسبت یاپدغه سبب چه داسلام ځینی فرائض مثلا د امانځه صورت د صائبینو له اعمالو سره مشابه او ورته دی . قریشو (حضرت نبوی ص) ته د « صائبی » لقب ورکړی ؤ بالاخر دوی پهمدغه لقب سره په ټولو عربو کښ شهرت وموند . (۱)

د (صحیح بخاری شریف) په کتاب المغازی کښ له یوه صحابی څخه داسی روایة شوی دی :

« څه وقت چه کوچنی وم نو له (مکی معظمی) څخه د راتلونکیو اود تلونکیو »

« له خولی څخه به می اورېدو چه په (مکه) کښ د نبوت یو مدعی پیدا شوی دی (۲) »

په عربو کښ څه وقت چه د (حضرت محمدرسول الله ص) مبارك نوم مشهور شو ، اگر که پر عمومو باندی دغه شهرت بد اثر وکړ ، اوله دغو مخالفینو څخه یو تن هم د (حضرت نبوی ص) په حضور

---

(۱) : د (صحیح بخاری شریف) کتاب التیمم وگوری .

(۲) : د (صحیح بخاری شریف) د کتاب المغازی ٦١٥ مخ وگوری .

مشرف نه شو . لیکن په دغومره لوی ملك کښ دغسی سړی هم پیدا شول چه خپل ځانونه له اصلی و اقعی څخه خبردار کړی - چه واقعی خبره څه ده ؟ په عربو کښ د دغسی خلقو یو مخصوص جمعیت پیدا شوی ؤ چه هغوی له بت پرستی څخه متنفر او بیزاره شوی ؤ - اود حق اود حقیقت په تجسس اوپلټنه کښ ؤ لحینو کسانو تردغه حده پوری ترقی کړی وه چه حنفیان گرځیدلی ؤ چه دهغوی تذکره دهمدغه کتاب د اول جلد په (١٣٤) مخ کښ تیره شوه . (حافظ ابن حجر رح) په (اصابه) کښ دداسی متعدد اصحابو ذکر کړی دی چه له (یمن) اوله نورو بعیده ؤ مقاماتو څخه د(حضرت نبوی ص) داحوالو دتحقیق لپاره (مکی معظمی) ته راغلی ؤ اوپه مخفی ډول سره مشرف بسالا سلام شوی ؤ ، او بیرته تللی ؤ . د (حضرت ابوموسی الاشعری الیمنی رض) او د (طفیل بن عمروالدوسی الیمنی رض) په کورنی کښ د اسلام د انتشار ابتداء د (حضرت نبوی ص) د هغه تبلیغ او دعوت په اثر په عمل راغلی ده چه د (حضرت نبوی ص) له حضوره په (مکه معظمه) کښ اجرا شوی دی .

دطفیل رض بن عمر والدوسی مسلمانیدل

د طفیل بن عمر والدوسی په نسبت چه د عربو یو مشهور شاعر ؤ قریشو د بر زیار او کوښښ وکړ ، تر څو طفیل د (حضرت نبوی ص) بحضور مشرف نشی ، ځکه چه په عربو کښ د شعرا ؤ ډیر اثر او نفوذ ؤ ، اود یوه شاعر له واکه دایوره ؤ چه خپله قبیله هری خوانه چه اراده ولری ، یو ځی ،

لیکن څه وقت چه (طفیل رض) اتفاقاً د(حضرت محمدرسول الله ص) څخه دقرآنمجید قرائت واورید نو علی الفور په اسلام مشرف شو . (١) اود (طفیل رض) داسلام په اثر دده په قبیله کښ هم چه (دوس) نومیده د اسلام انتشار شروع شو (٢) مگر د (دوس) د قبیلی لحینو سړیو له اسلامه مخ واړا وه اود (طفیل رض) دعوت ئی ونه مانه (طفیل رض) خپه اومتأثر (حضرت نبوی رض) ته راغی اوعرض ئی وکړ چه :

« یا (رسول الله ص !) هغو کسانو ته چه له اسلامه مخ اړوی ښیرا وفرمایه ! »

(حضرت محمدرسول الله ص) خپل لاس پورته کړ اودعسی دعائی وفرمایله چه :

« اي الها ! ته د (دوس) قبیلی ته هدایت وکړي ! او هغوی را واستوي ! »

وروسته له دي گرده قبیله مسلمانه شوه (٣) .

دعمرو رض بن عبسه مسلمانیدل

(عمرو رض بن عبسة السلمی) هم له همدغو بزرگانو څخه دی . ده د خلقو له ژبو څخه دغه اوریدلی ؤ چه په (مکه) کښ یو سړی پیدا شوی دی چه خلقو ته ، پری خبری ورښئی . (عمرو رض) پدیر شوق (مکی معظمی) ته راغی ، په دغه وقت کښ (حضرت محمدرسول الله ص) د قریشو د ظلمو او تیری لامله پټ او گوښی اوسیده (عمرو رض بن عبسه) په یوه صورت د (حضرت نبوی ص) بحضور مشرف شو ، اوعرض ئی وکړ چه تاسو څوك یئ ؟

(حضرت محمدرسول الله ص) ارشاد وفرمایه چه :

« زه دالله تعالی رسول او استاځی یم ! »

---

(١) : (زرقانی) وگوری ! .

(٢) : دغه د (صحیح مسلم شریف) د کتاب الایمان څخه مفهوم ښیی .

(٣) : په (صحیح بخاری شریف) کښ باب قصة الدوس وگوری ! .

(عمرو رض) وویل چه : « درسول تعریف راته وفرمایی ! »

(حضرت محمد رسول الله ص) وفرمایل چه :

« ځه دالله تعالی له جانبه دخلقو دلیار ښوونی لپاره استولی شوی یم ! »

(عمرو رض) وویل چه : « تاسو خلقوته څرنګه هدایت فرمایی ؟ »

(حضرت محمد رسول الله ص) ارشاد وفرمایه چه :

« الله تعالی یو او لاشریك وبولی ! دخپلوی او دقرابت حقوق اداء کوی او بتان مات کړی ! »

(عمرو رض) پوښتنه وکوله چه : ددغه مذهب تابعان څو تنه دی ؟ »

(حضرت محمد رسول الله ص) وفرمایل چه :

« ځما تابعان یواصیل (حضرت ابوبکر رض) او یومریی (حضرت بلال رض) دی . »

(عمرو رض) عرض وکړ چه : « ځه هم ستاسو په تابعانو کښ شاملیږم ! »

(حضرت محمد رسول الله ص) ارشاد وفرمایه چه :

« اوس دغه تاته ممکن نه دی . ته ښه وګوره چه ځه په څه حالت کښ یم ؟ - او خلق »

« راسره څه وضعیت کوی ؟ هر کله چه ته ځما دبری او موفقیت خبره واوری ، نو بیا راځه ! »

(عمرو رض) بیرته ورغی - او وروسته له هجرته څه وقت چه دخلقو له ژبو څخه د (حضرت نبوی ص) مظفریت زیری ئی وارویده نود (حضرت نبوی ص) پخدمت بیا مشرف شو (۱)

دضماد بن ثعلبة اود « ازد » دقبیلی مسلمانیدل

(ضماد رض بن ثعلبة) د (از دشنوه) دقبیلی رئیس او مشر او د (حضرت محمد رسول الله ص) له آشنایانو څخه ؤ چه دجاهلیت په دوره کښ دوی سره دوستان ؤ ، (ضماد رض) ته دغسی خبر رسیدلی ؤ چه : « محمد لیونی شوی دی » څرنګه چه (ضماد رض) دم او دعاء هم کوله نود (حضرت نبوی ص) پحضور راغی او داسی ئی وویل : « راځی ! چه ستاسی معالجه وکوم ! »

(حضرت محمد رسول الله ص) د (ضماد رض) پجوا بکښ داسی وفرمایل : « الحمدلله نحمده و نستعینه من یهده الله فلا مضل له ومن یضلله فلا هادی له واشهد ان لا اله الاالله وحده لاشریك له واشهد ان محمداً عبده ورسوله ! » دغو فقراتو پر (ضماد رض) باندی خو را زیاد اثر وکړ - او دغسی عرض ئی وکړ چه دغه څه شی مو وفرمایل بیائی ووائی ! (حضرت نبوی ص) دغه پاس فقرات بیا وویل - (ضماد رض) بیا عرض وکړ چه دریم ځلی ئی بیا ووایی کله چه (حضرت محمد رسول الله) هغه دریم کرة هم وویل نو (ضماد رض) بیخی مسحور او متحیر شو او داسی ئی وویل :

« کاهنا تو خبری می اوریدلی - دکوډ ګرانو منتروته می غوږ ایښی دی - دشعرا ؤ قصائد و او اشعاروته هم ښه ځیر شوی یم خوسره له هغه می تراوسه پوری دغسی کلام نه دی آوریدلی - دغه کلام خودبحر ترقعره پوری هم خپل اثر او نفوذ غورځوی - خپل مبارك لاس راوړاندی کړی چه زه مسلمانیږم او له تاسو سره بیعت کوم ! (حضرت محمد رسول الله ص) له (ضماد رض) څخه بیعت واخیست او بیا ئی ارشاد وفرمایه چه : « دخپلی ټولی قبیلی له جانبه هم بیعت وکوه ! » لکه چه (ضماد رض) دخپلی ټولی قبیلی له جانبه هم بیعت وکړ - اود (ضماد رض) په دعوت دده قبیله هم مسلمانان شول .

---

(۱) : په (صحیح مسلم شریف) کښ باب الاوقات التی نهی عن الصلوة فیها وګوری ! .

يوځلی په کومه غزا کښ دمجاهدينو گزر دغه (ازد) پر قبيله باندی وشو . دمجاهدينو امير له لښکريانو څخه پوښتنه وکوله چه :

« آيا له تاسو څخه کوم يوسړی ددی قبيلی څخه کوم شی اخيستی دی ؟ »

« يو مجاهد وويل چه : « هو ! له ماسره ددغی قبيلی يو کوځړی او لوټه شته »

« امير المجاهدين حکم وکړ چه : « ژر ددوی هغه لوټه بېرته ورکړه » (١)

دحضرت ابو ذر رض مسلمانېدل

د (حضرت ابوذر رض) واقعه پدغه موقعکښ په مخصوص ډول سره دتذکر وړ او قابله ده ! کله چه د (غفار) په قبيله کښ چه دقريشو دشامی تجارة په لياره کښ واقعه ده دغه آوازه او انگا ځه خپره شوه چه په (مکه) کښ يو نبی الله مبعوث شوی دی ، نو (حضرت ابوذر رض) ! چه له بت پرستی څخه متنفرشوی ؤ او دحق په تلاش اوپلېټنه کښ ؤ خپل ورور (انيس) ته ئی وويل چه :

« ته (مکی) ته ورشه ! اووگوره د دغه سړی چه د نبوت مدعی دی تعليم او تلقين څه دی ؟ » .

(انيس) مکی معظمی ته راغی اوگرد شيان ئی ځانته معلوم کړل او بېرته ورغی او وې ويل چه :

« دغه پيغمبر خلقو ته داخلاقو مکارم تعليم ورکوی اوهغه کلام چه دی وړاندی کوی هغه له شاعری څخه جلا او ماسوا يوشی دی » د (حضرت ابوذر رض) تسکين لدغه مختصر جواب څخه ونشو ، نو پخپله د (مکی معظمی) په قصد وخوځيد او له خپل ځان سره ئی دخوری اوزادسفر لپاره په ژی کښ اوبه اوڅه دخوراک شيان واخيستل کله چه (مکی معظمی) ته راغی نوله وېری ئی له هېچا څخه د (حضرت نبوی ص) پوښتنه ونشو ای کولای . په محترم حرم کښ له (حضرت علی رض) سره ملاقی شو (حضرت علی المرتضی رض) هغه خپل کورته بوته اومېلمه ئی کړخو د (ابوذر رض) سره له دی چه تر درو ورځو پوری د (حضرت علی رض) په کور کښ مېلمه ؤ ، خو بيائی هم جرئت او ځغرد ونشوای کولای چه تری څه پوښتنه وکړی بالاخر پخپله (حضرت علی المرتضی رض) له (حضرت ابوذر رض) څخه دده درا تگ دسبب پوښتنه وکړه چه : « ته دڅه مقصد لپاره راغلی ئی ؟ » (ابوذر رض) اول له (حضرت علی رض) څخه دخپل مقصد ديټ ساتلو اوکتمان عهد او پيمان واخيست او بيا په ډېره وېره پر نيولی ژبه سره ئی خپل مقصود ورښکاره کړ چه بالنتيجه (حضرت ابوذر رض) د (حضرت علی المرتضی رض) پوسيله د (حضرت نبوی ص) په حضور مشرف شو اود (حضرت ص) له حانبه ورته اسلام تلقين او امر صادر شو چه : « ته اوس بېرته خپل کورته ورځه ! بيا هر کله چه ځه کوم حکم درکړم دهغه تعميل وکوه ! » ليکن [ابو ذر رض] له خپلو مسلمانېدو څخه دغومره خوښ او متأثرشوی ؤ چه حد او اندازه ئی نه درلوده نو د [حضرت نبوی ص] په حضور ئی دغسی عرض وکړ چه : « ځه دخپل اسلام اعلان همدغلته کوم بيا خپل کورته ځم ! »

الغرض [حضرت ابوذر رض] محترم حرم ته راغی اوپه لوړ غږ اوجهر سره ئی دشهادة دغه کلمه ولوستله :

اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ شاهدی اداء کوم چه نشته بل برحق معبود بی له الله

وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ اوشاهدی اداء کوم چه بيشکه محمد دالله تعالی رسول دی

ددغه مقدس غږ دپورته کېدلو سره متصل له څلورو خواؤ مشرکان پری راټول شول اوپه وهلو وټکولو ئی لاسونه پری پورته کړل .

دلته [حضرت عباس رض] پمنځکښ شو ، او [حضرت ابوذر رض] ئی دمشرکانو له اذيته وژغوره او خلقو ته ئی دغسی وويل : « آيا تاسو نه يی خبر چه ستاسی تجارتی لياره د [غفار] دقبيلی له څنگه تېرېږی او دغه [ابو ذر رض] دغفار دقبيلی يو سړی دی . » دلته خلقو لدېنه لاس واخيست . ليکن

(١) وگوری ! په (صحيح مسلم شريف) کښ باب تخفيف الصلوة والخطبة .

بله ورځ بیا [حضرت ابوذر رض] محترم حرم ته ورغی او بیائی پهمغه پرونی طریقه دشهادة د کلمی په لوستلو سره دخپل اسلام اعلان وکړ. او بیا همغه وهل اوټکول ور وړاندی شول چه پرون ور پیښ شوی ؤ. اتفاقاً نن ئی بیاد [حضرت عباس رض] په مساعی اوزیارداشرارو لهمنګلو څخه نجات وموندا (۱)

دقبیلة الغفار مسلمانیدل

کله چه [حضرت ابوذر رض] له [مکی معظمی] څخه خپلی قبیلی ته پرته ورغی. نو هغویته ئی د اسلام دعوة ورکړ. د [غفار] دقبیلی نیمائی خلق پهمغه وقت کښ مسلمانان شول، او نورو سړو یوئی دغسی وویل: «مونږ به پهمغه وقتکښ مسلمانیږو چه [حضرت محمد رسول الله ص] پخپله [مدینی منوری] ته تشریف راوړی». لکه کوم وقت چه [حضرت نبوی ص] [مدینی منوری] ته تشریف راوړ، نو د [غفار] دقبیلی پاتی سړی هم په اسلام سره مشرف شول. (۲)

دقبیلة الاسلم مسلمانیدل

د [غفار] له قبیلی سره نژدی د [اسلم] قبیله او سیده او دغو دواړو قبیلو یو له بله غلا ؤ ق او مناسبات هم سره درلودل د [غفار] دقبیلی دمسلمانیدلو له اثره د [اسلم] قبیله هم مشرفه بالاسلام شول (۳) حال داچه دغه دواړه قبیلی پخو اله اسلامه په غلا کولو او داړه غور ځوولو سره مشهورې وې (٤) او دوی په دی باندی به ښه دول خبردار ؤ چه اسلام ددغو شنیعه ؤ افعالو سخت دښمن اومخالف دی.

داوس اود خرزج اود مدینی منوری دخلقو مسلمانیدل

دحج په موسم کښ په [مکه معظمه] کښ داکسرو قبائلو اجتماع سره کیده [حضرت محمد رسول الله ص] به پدغه موقعکښ هری قبیلی ته پیل پیل ورته اوهغویته به ئی داسلام دعوت ورکاوه لکه چه د [یثرب] یاد [مدینی منوری] د [اوس] اود [خرزج] دقبائلو یو معتد به جماعت پهمغه موقعکښ په اسلام مشرف شول لدینه وروسته څه وقت چه [حضرت مصعب بن عمیر رض] داسلامی داعی په صفت [مدینی منوری] ته واستاوه شو. نود [مصعب رض] دتلقینا تو له فیوضه دخو میاشتو پهمنځکښ پر ته له دوو کورنیو څخه نور ټول خلق مسلمانان شول، له هجرت څخه وروسته څه وقت چه [حضرت محمد رسول الله ص] پخپله [مدینی منوری] ته تشریف راوړ نو دشاؤخوا ټول قبائل لکه چه پاس د [اسلم] اود [غفار] ذکر تیر شو پاسلام سره مشرف شول.

دځینو قریشیانو مشرف بالاسلام کیدل

د [بدر] له غزا څخه وروسته چه پهمغه کښ قریشو ته ماته ورپه برخه شوه او دهغو اویا تنه بند یان دمسلمانانو په لاس کښ ولویدل، ددغو بند یانو دخوشی کولو لپاره دقریشو تنګ او را تنګ

---

(۱) دغه روایت کاملاً له [صحیح بخاری شریف] څخه مأخوذ دی. په هغه طریقه سره چه د غه واقعه په [صحیح مسلم] شریفکښ منقول ده پهمغه کښ دبری نوری خبری هم شته چه لدغه روایت سره اختلاف لری خو حافظ ابن [حجر رح] په [فتح الباری] کښ ښکلی چه پدغو دواړو روایاتو کښ تطبیق ممکن دی.

(۲): په (صحیح مسلم شریف) کښ د (ابی ذر رض) دقبیلی مسلمانیدل وګوری.

[۳]: په (صحیح بخاری شریف) کښ د (اسلم) اود (غفار) دقبیلی تذکره وګوری.

[٤]: په (صحیح بخاری شریف) کښ د (اسلم) اود (غفار) دقبیلی تذکره وګوری.

[مدینې منوری] ته شروع شو او پهمدغه تقریب دهغوی ملاقات او کتینه له مسلمانانو سره اتفاق ولو پد اوبالاتر لههغوی څخه معتدد سړی مشرف بالاسلام شول .

پدغو کښې دپر سړی دغسی و چه اتفاقاً د(قرآن مجید) دتلاوت غږ دهغوی په غوږو کښېوت نو سره لههغه شدید مخالفت اوعداوة چه هغوی له اسلام اومسلمینو سره در لود ، دهغوی سخت او غټ زړ ونه د(قرآنکریم) دآروېداو پهاثر لکه موم غوندې نرم او پاچته شول .

(جبیر بن مطعم) پدغه مقصد (مدینی منوری) ته راغلی و څو دخپل (بدری) بندیانو فدیه ورکړی ادهغوی خلاص کړی اوله خپلهخانه سره ئی [مکی معظمی] ته بوځی - نوځکه پخپله [جبیر] هم له همغو بندیانوسره اوسېده - یوه ورځ [جبیر] د [حضرت محمدرسول الله ص] لهمبارکی خولی څخهدغه آیات واورېدل:

ام خلقوا من غیر	آیا پیدا کړی شوی دی دوی بیدڅه شی نه یعنی [بیفایدی اوعبث
شیء ام هم	چه پرې حساب اوعذاب هیڅ نشته یا دوی پیدا کوونکی نهلری]
الخالقون	او که همدوی پیدا کوونکی دی [چه پیدا کړیئی دی ځا نه
ام خلقوا	خپل یانور مخلوق نو ځکه نهمنی خبره دالله اودرسول الله] آیا
السماوات	دوی پیدا کړی دی آسمانونه او ځمکه [نه ده داسی
والارض بل	پیدا کوونکی دتولو الله دی] بلکه دوی یقین نهکوی
لا یوقنون	[اونه منی چهایمان راوړی پههغه باندی اوبندگی وکړی دهغه

[جبیر بن مطعم] وائی کله چه ما دغه آیات وا وریدل نو دغسی یو حالت را باندی طاری شو لکه چه زړه می الوته (١)

دروم دیری پر پخوا ویلو باندی دخلقو مسلمانېدل

د[روم] اود[پارس دجنګونو پهمتعلق کو مه پخواوینااوپیشګوئی چه [حضرت محمد رسول الله ص] په (مکه معظمه) کښې فرمائیلی وه ، هغه پوره د [بدر] دفتحی او بری یمو قمکښې واقع او تصدیق شوه او سمد (قرآن مجید) لهوینا سره اووه کاله وروسته رومیانو پر[پارس] باندی کامله فتح اوبری وموند ددغه عظیم الشانې معجزې نتیجه دغسی خرګنده شوه چه دپرو کسانو د اسلام پر صداقت باندی اقرار وکړ. (٢)

الغرض پههمدغه ډول پخپله بالطبع اسلام په نهایت متانت او تدریج سره منتشریده او خپریده. هجرت په پنځم کال کښې [قریشو - کنانه - غطفان - اسد] او نورو قبائل متحداً پر [مدینی منوری] باندی پرغل اوحمله وکړه خولهمانی سره مخامخ شول چه ددغه جنګ شهرت د [احزاب] په جنګ سره دی [٣] ددغی ماتی لهاثره دقریشو عمومی شهرت تهزیاد نقصان ورسید - اوهغه قبائل چه مسلمانېداو لپاره حاضراو تیارؤ خو دقریشوله وېرې داسلام داظهار جرئت لدوینه ورك شوی ؤ، خپلی مرکی او وفودئې واستول .

---

(١) : دغه روایت د(صحیح بخاری شریف) د «الطور» دسورة پهتفسیر اودپښتو « موضح الفرقان» په(٣٠٨٨) مخ کښې مذکور دی .

(٢) : وګوری ، په « ترمذي» کښې دسورة الروم تفسیر .

(٣) دهغه تفصیلات پخوا لدینه ددغه کتاب داول جلد په ٢٩١ مخ کښې تیر شو .

دقبیلة المزنیه دجرګی تشرف

له کردو څخه بخوا کوم وفد او جرګه چه ورسیده ، هغه د [مزنیه] دقبیلی سفارت ؤ چه یکښی خلور سوه تنه سړی شامل ؤ - او هغوی خپل دغسی عرائض وروړاندی کړل :

« که [حضرت نبوی ص] ارشاد وفرمائی نو مونږ ټول (مدینی منوری) ته هجرت کوو ! »

[حضرت محمد رسول الله ص] د دوی بجواب کښی دغسی هدایت صادر کړ :

« ناسی هر چیری چه اوسیږی هغلته د مهاجرینو ثواب مومی ! » [۱] .

دقبیلة الاشجع دجرګی تشرف

په همدغه زمانه کښی د [اشجع] دقبیلی سفراء چه تعداد ئی سلو تنو ته رسیده (مدینی منوری) ته راغلل - اود [حضرت نبوی ص] بحضور کښی ئی دغسی عرض وکړ :

« مونږ نه غواړو چه له تاسو سره جنګ وکړو ، بلکه غواړو له تاسو سره د صلحی معاهده وتړو ! »

چه ددوی دغه عرض د [حضرت نبوی ص] له حضوره قبول او منظور شو

تردغه وقته پوری د (اشجع قبیله) لانه وه مسلمانه شوی خوددغی صلحی اوروغی څخه وروسته د وی پخپل شوق اورغبت سره مشرف بالاسلام شول . [۲]

دقبیلة الجهینة دجرګی تشرف

د [جهینة] قبیله هم د همدغو قبائلو په شاؤ خوا کښی اوسیده - د [حضرت محمد رسول الله ص] له حضوره هغوی ته داسلام دعوت ورکړ شو هغوی علی الفور دزړو ټو په جمعیت [مدینی منوری] ته راغلل او پاسلام سره مشرف شول وروسته لـه هغه دوی علـی الاکثر په غزواتو کښی لـه مسلمانانو سره شریکیدل . [۳]

د (غفار) اود (اسلم) اود (مزنیه) اود (جهینة) اود (اشجع) دقبائلو همدغه داطاعت لو د مسابقت الاسلام مسئله د دغی خبری موجب شوه چه (حضرت محمد رسول الله ص) د هغوی بحق کښی د خیر دعاء وفرمایله (٤) .

د حدیبیی دصلحی او د روغی تاثیر د اسلام په توسعه کښی

د (حدیبیی) د صلحی په زمانه کښی څرنګه چه کفارو به بی تکلفه او په آزادی له مسلمانانو سره تګ او راتګ او ناسته او ولاړه در لوده نو ځکه منکرانو ته به په خلوت او جلوت کښی د مسلمانانو د تلقیناتو او ارشاداتو د اورېدلو موقع ورمیسر بده - نو د هغه په اثر له هغه څخه زیاد سړی په

---

[۱] : د[ابن سعد رح] د طبقات د جزء هغه مبحث چه « وفود » پوری متعلق دی د اول جزء دثانی قسم [۳۸] مخ وګوری .

[۲] : [ابن سعد رح] د طبقات د جزء هغه مبحث چه « وفود » پوری متعلق دی داول جزء دثانی قسم ٤٨ مخ وګوری .

[۳] : په [اصابه] کښی د [بشیر بن غرفطه رح] تذکره وګوری .

(٤) : د (صحیح بخاری شریف) په اول جلد کښی د غفار او د اسلم او د جهینة ذکر وګوری .

اسلام سره مشرف شول چه پخوا لدینه د غزواتو او د محاربا تو له سببه مسلمانان شوی ؤ (١) لکه چه بوالحی په دوو کلو کښې د مسلمانانو تعداد پرله پسی زیاد بده او اضعافا مضاعفه شوه (٢) او څه وقت چه (حضرت محمد رسول الله ص) د (حدیبیی) د روغی په اساس یو کال و روسته د عمرة القضاء د اداء لپاره (مکی معظمی) ته تشریف وړ (حضرت نبوی ص) په رکاب کښې د مسلمانانو لس زره تنه جرار لشکر تیار ؤ حال داچه یو کال پخوا لدینه په (حدیبیی) کښې له دوی سره (١٤٠٠) تنه مسلمانان ملګری ؤ (٣)

د (حدیبیی) د روغی اثر اګر که پر ټولو عربو محیط نه ؤ لکه چه پدغه معاهده کښې بوالحی (قریش) او (کنانه) شریک ؤ نو لکه هغه کسان چه مستقیما د (قریشو) تر اثر لاندی یا د هغوی سره حلیفان او معاهدان نه ؤ ، هغوی پدغه حالت کښې هم پر (مدینی منوری) باندی د یرغل او د حملی تیاری کاوه ، چه د هغوی د دفاع او شرلو لپاره مجبوراً (حضرت نبوی ص) هم څه اسلامی افواج استول خو سره له هغه هم که کوم ځای یا کوم قوم مأمون او بیخطره محسوسیده هغلته به د اسلام ناشرین او داعیین اعزامیدل خو خلقو ته د اسلام په اوری دعوت ورکړی . خو څرنګه چه دغه اسلامی مبلغینو به هم له خپلو ځانو سره د خپل ځان اود مال د ساتنی او حفاظت لپاره څه احتیاطی او خود اختیاری محافظین بیول ، نو لکه ارباب السیر دغه تبلیغی مرکو او جماعتونه هم «سرایا» وائی او په «سریه» ئی تعبیروی .

د مکی معظمی د فتحی اثر د اسلام په انتشار کښې

ټولو عربو د (کعبی شریفی) د تولیت لامله (قریش) خپل مذهبی مشر او پیشوا ګڼلهـ او له همدی سببه هغوی کرد سره منتظر ؤ چه د (قریشو) کار له اسلام سره تر کوم ځای پوری رسیږی ؟ . له (عمرو ابن سلمة رض) څخه چه یو صحابی دی اوله (مدینی منوری) څخه اړی په یوه عمومی ګرز ځای کښې او سیده دغه الفاظ منقول دی (٤) :

---

(١) : د حدیبیی د روغی پوره تفصیلات لحمونږ د دغه کتاب د اول جلد له (٣١٠) مخ څخه شروع شوی تر ٣٢١ پوری ښکلی شوی دی .

(٢) : په (طبری) کښې امام (زهری رح) داسی وائی :

فلما کانت الهدنة وضعت الحرب	څه وقت چه صلحه وشوه او جنګیدل بند شول او خلق سره
الوزارها وامن الناس کلهم بعضهم	مأمون او بیخوفه شول او یو له بل سره ئی ملاقات او
بعضا فالتقوا وتفاوضوا فی الحدیث	خبری اتری وکولی نو هیڅ یو داسی یوه او عاقل سړی
والمنازعة فلم یکلم احد بالاسلام	نهؤ چه د اسلام پهتعلق په خبرو کښې اسلام ته راغب شوی
یعقل شیئا الا دخل فیه فلقد	نه وی لکه هومره خلق چه له ابتداء څخه تر دغه
دخل فی تینک السنتین فی الاسلام	وقته مسلمانان شوی ؤ بوالحی پهمدغو دوو کلو کښې
مثل ما کان فی الاسلام او	له هغه سره برابر بلکه له هغه تعداد څخه لا زیاد
اکثر [صفحة ١٥٥١]	خلق مسلمانان شول .

(٣) : لحمونږ د دغه کتاب د اول جلد [٣١١ ؤ ٣١٨ مخ] وګورئ !

(٤) : په (صحیح بخاری شریف) کښې د (مکی معظمی) فتح وګورئ !

كانت العرب تلوم باسلامهم الفتح فيقولون اتركوه وقومه فانه ان ظهر عليهم فهو نبي صادق فلما كانت وقعة اهل الفتح بادر كل قوم باسلامهم

عرب د (قريش) د اسلام پـه انتظار کښ ؤ ـ هغوی به سره ويل چه محمد ص دده له قومه سره پرېږدی که محمد ص پر (قريشو) غالب شو نو بېشکه چه رښتين پيغمبر دی کله چه مکه فتحه شوه نو هر قبيله د اسلام په لوری لخغايده او يو به پر بل ئی مسابقه کوله .

(ابن هشام رح) لدينه لا يه زياد و اوصافو الفاظو سره دغه مطلب داسی ښکلی دی (١) :

وانما كانت العرب تربص بالاسلام امر هذا الحي من قريش وامر رسول الله صلى الله عليه وسلم وذلك ان قريشا كان امام الناس وهاديهم واهل البيت والحرم وصريح ولد اسمعيل بن ابراهيم عليهما السلام وقادة العرب لا ينكرون ذلك وكانت قريش هي التي نصبت لحرب رسول الله (ص) وعداوته فلما فتحت مكة و دانت له قريش و دخلها الاسلام عرفت العرب انه لا طاقة لهم بحرب رسول الله (ص) ولا بعداوته فدخلوا في دين الله كما قال الله اكرم شانه واعظم برهانه (٢) :

اذا جاء نصر الله والفتح ورأيت الناس يدخلون في دين الله افواجا فسبح بحمد ربك واستغفره انه كان توابا

او عرب داسلام په نسبت پوالحی د قريشو په انتظار کښ ؤ ـ خرنګه چه قريشو د ټول ملك مشر او پيشوا او د کعبی شريفی متولی او د حضرت اسماعيل (ع) مخصوص اولاده او د عربو فائدؤ او پوالحی قريشو د حضرت نبوی (ص) پـه مخالفت جنګ نه ملاتړ لی وه ـ نو څه وخت چه مکه معظمه فتح شوه او قريشو له جنګ څخه لاس واخيست او (مکه معظمه) په اسلام سره منوره شوه عرب متيقن شول چه هغوی له (حضرت نبوی ص) سره نشی جنګيدای او نه له اسلام سره څه مخالفت او عداوت کولی شی ـ نو هغوی ټول د الله تعالی په دين کښ داخل شول لکه څنګه چه الله اکرم شانه واعظم برهانه داسی فرمائی

کله چه راشی مدد کاری دالله [لهتا سره ايمحمده او غلبه ور کول تا لره پر دښمنانو] او [چه راشی] فتحه [دمکی او دنورو بلادو مؤمنانو لره] او وينی ته خلق چه ننوځی په دين دالله کښ [چه اسلام دی] فرج فرج پس تسبيح وايه پيوست له حمد درب ستاسره [يالمونځ کوه په امر دالله سره] او تل مغفرة وغواړه له الله نه [لپاره دامت خپل يا دپاره دمائيدو دنفس او قصور دعمل او تل اوسه په استغفار] بېشکه چه دغه [الله] دی ښه توبه قبلوونکی [دمستغفرانو]

(الغرض داسلام دصداقت داسلام دسلدکی اوسهولت اودعر و تميز فهمی اودذکاوت او ذهانت په لحاظ داسلام په نظر اواشاعت کښ هغه تعطيل اوخنډ اوبطائت چه واقع شوی دی هغه علی الاکثر دقومی او کورنی

(١) : په سيرة (ابن هشام رح) کښ دهجرت دنهم کال د واقعاتو ذکر او دوفودو تذکره وګوری ! .

(٢) : دغه ده النصر ـ دسورة ـ ه زړه پوری تفسير لحمونو ـ نه پښتو کابلی چاپ ـ فوائد ـ موضح الفرقان ـ کښ وګوری ! .

مخالفت له سببه ؤ ، نو هر کله چه دبواطلو موانعو تیږی له منځه هېسته اولرې کړی شوې - بیا دحق او دحقانیت دترقی او دپرمخ تګ او داسلام داشاعت په سرعت کښ بل هیڅ څه مانع اورادع نه ؤ .

د(مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته بیا داسلامی دعوت لپاره هیڅ یوه داسی اندیښنه او خطره نه وه پاتی چه اسلامی مبلغین اوداعیان هر چېری دمخالفینو له خوا په ډېره بېرحمی او سفاکی سره په قتل ورسولی شی- نو بنا پردی د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره د (عربستان) ټولو اطرافو او اکنافو ته اسلامی دعات اومبلغین اعزام شول ترڅو خلق اسلام ته راوبولی اوهغوی ته اسلامی فضائل او محاسن وروښیی او مسلمانی ته ئی ترغیب او تشویق ور کړی .

اسلامی مبلغین اوداعیان په لاندنیو طریقو سره مقرر کړی شوی ؤ :

(اول) : دخود اختیاری حفاظت لپاره لږ څه فوجی قوة به له هغوی سره استاوه کېده ترڅو هغویته څوك څه ضرر اونقصان ونه رسوی - او دوی په آزادی او خاطر جمعی سره په اسلامی تبلیغاتو بوخت او مصروف شی .

څه وقت چه د(حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (حضرت سیف الله خالد رض بن ولید) د(یمن) په طرف اعزام شو نو له هغه سره څه اسلامی فوج هم ملګری کړ شو ، لیکن پر دوی باندی دغسی زیاد تاکید او توصیه وشوه چه له سره جبریه قوة دی نه استعمالوی !

(حضرت سیف الله خالد رض) سره لدی چه ترشپږ و میاشتو پوری په (یمن) کښ په اسلامی دعوت او تبلیغ مصروف شو ، خو هیڅ دده تبلیغ او بلنی ته غوږ کېښود ، او دده څه موفقیت په برخه نه شو . ځکه چه (حضرت سیف الله خالد رض) یو فاتح او سپهسالار ؤ او په موعظه او ارشاد او تذکیر کښ د تخصص خاوند نه ؤ - لذا د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره وروسته لدینه (حضرت مدینة العلم علی بن ابیطالب رض) اعزام شو - څه وقت چه (حضرت علی المرتضی رض) په تبلیغ او دعوت باندی شروع وکوله نو یو ناڅاپه ټول یمنی قبائل په اسلام سره مشرف شول او ګرد(یمن) په اسلامی رڼا سره روڼ او منور شو .

همدغه هغه اسلامی مبلغین او دعات دی چه علامه (طبری رح) ئی پدغو الفاظو سره تعبیر وی :

قد کان رسول الله ص بعث فیما حول مکة السرایا تدعوا الی الله عز وجل و لم یأمرهم بقتال .

د حضرت نبوی له حضوره د (مکی معظمی) اطرافو ته څه ټولنی اعزام شوی وی ترڅو خلق دالله تعالی په طرف راوبولی لیکن هغوی پجنګ سره به ؤ مامور شوی .

د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (حضرت سیف الله خالد رض) پهمدیشانی د (بنی جذیمة) دقبیلی پطرف هم د اسلامی دعوت او تبلیغ په غرض استولی شوی ؤ - لیکن څه وقت چه (حضرت سیف الله رض) د جبریه قوة پاستعمال لاس پوری کړ او دده دمقاتلی اطلاع (حضرت نبوی ص) ته ورسېده ، نو (حضرت ص) قبلی شریفی ته مخامخ ودرېد او خپل دواړه لاسونه ئی پورته کړل اوداسی ارشاد ئی وفرمایه : «ای الها ! څه دخالد له فعله بری اوبېزار یم !» بیائی (حضرت علی المرتضی رض) مامور کړ څو هلته ورشی او دهغو ګردو مقتولینو دیت او خون بها اداء کړی - تر دغه حده پوری چه په جنګ کښ د وژلیو شویو سپیو قیمت دې هم ورورسوی .

د اسلامی اشاعت په غرض هغه مسلح جماعت چه د (عربستان) اطراف او اکناف ته اعزامېده په

هغو کښ به کله (حضرت محمد رسول الله ص) د یوه یوه تن امتحان اخیسته ، هر هغه صحابی چه پدوی کښ به د (قرآن کریم) زیاد حافظؤ همغه به ئی دهغوی مشر اوامیر مقرراوه. لکه چه یو ځلی (حضرت نبوی ص) همداسی یو جمعیت چیری استاوه(۱) نو دغه جمعیت پر یوه یوه تن باندی ئی (قرآن مجید) تیراوه اوتری اوریده به ئی - پدغه جمعیت کښ یو ځنکی ؤ (حضرت ص) له هغه څخه پوښتنه وکوله چه :

« د (قرآن عظیم) کوم کوم ځایونه دی په یاد دی ؟ » .

هغه ځنکی عرض وکړ چه د (البقرة) سورة او هغه اودغه نور سورتونه می هم په یاد دی ! » .

نو (حضرت نبوی ص) دغسی ارشاد وفرمایه چه :

« همداته د همدغه فوج امیر ئي ! »

(دوهم) : دزکوة اودجزیی د تحصیل لپاره هغه عمال او تحصیلداران چه داسلام تحت الاثر ممالکونه استول کیدل دغه عمال به علی الاکثر دغومره مقدس مطهر صاف او سوچه مسلمانان ؤ چه سره له علم او فضل زهد تقدس خو را ښه واعظان او ناطقان به هم ؤ - نو دغو د اسلامی مالیاتو له تحصیل سره به دوی د تذکیر او تبلیغ وظائف به هم ښه شان انجامول . لدغو څخه د ځینو ذواتو مبارك اسامی دغه دی :

شمیر	اسماء	مقامات	کیفیت
۱	حضرت مهاجرین بن ابی امیه (رض)	صنعاء الیمن	د حضرت ام سلمة رض زوجة النبی ورور ؤ .
۲	حضرت زیاد بن لبید (رض)	حضر موت	دی له هغو اصحاب الکرامو څخه دی چه د « بدر » په غزوه کښ شریك ؤ .
۳	حضرت خالد بن سعید (رض)	صنعاء الیمن	د حبشی له مهاجرینو او له سابقین الاولینو څخه دی پر مکتوباتو له کردو څخه پخوا همدغه خالد بن سعید (رض) په بسم الله الرحمن الرحیم لیکلو شروع کړی ؤ .
٤	حضرت عدی بن حاتم (رض)	طی الیمن	یو مشهور صحابی دی او حاتم طائی ئی پلار کیږی .
٥	حضرت علاء بن الحضرمی (رض)	بحرین	یو مشهور صاحب العلم صحابی دی چه دده دعوت پاتر ټول خلق مسلمانان شول .
٦	حضرت ابوموسی الاشعری (رض)	زبید وعدن	
۷	حضرت معاذ بن جبل (رض)		
۸	حضرت جریر بن عبدالله البجلی (رض)	جند ذوالکلاع الحمیری	جریر یو مشهور صحابی دی ذوالکلاع الحمیری دیمن د سلاطینو له کوری څخه دی په یوه موقع کښ یو لك تنه سړیو هغه ته سجده (بیعت) کړی ؤ . دغه ذوالکلاع الحمیری د جریر په دعوة مشرف بالاسلام شوی ؤ او د خپلو مسلمانیدو په خوښی ئی څلور زره مریان آزاد کړل

(۱) : د ترغیب او ترهیب د اول جلد ۲۵۹ مخ د ترمذی په روایت وګوری ۱۰ . پدغه روایت کښ اګر که داسی تصریح نشته چه دغه فوج د اسلام د اشاعت لپاره اعزام شوی ؤ - یوازی داسی الفاظ یکښ مذکور دی : « بعث بعثاو هم ذووعدد یعنی حضرت نبوی ص یو لوی جمعیت واستاوه » خو له قرائنو څخه معلومیږی چه د دغه جمعیت د عزیمت مقصد یوازی د اسلام اشاعت ؤ - ځکه که جهاد مقصود وای نو دزیاد حفظ القرآن د امتحان ضرورت نه ؤ - او نه به (حضرت ص) له هره یوه صحابی څخه د حفظ القرآن امتحان اخیست .

(دریم) : ځینی کسان مخصوصا داسلام داشاعت پغرض اعزا میدل چه د تفحص له مخی له هغو څخه دځینو اسلامی مبلغین او دعاتو مبارك اسامی دغه دی :

شمیر	نوم		ددعوت ځای
۱	حضرت علی بن ابیطالب	رضی الله تعالی عنه	قبائل همدان - جذیمه - مذحج
۲	حضرت خالد بن ولید	رضی الله تعالی عنه	دمکی معظمی اطراف
۳	حضرت مغیرة بن شعبه	رضی الله تعالی عنه	نجران
٤	حضرت عمرو بن العاص	رضی الله تعالی عنه	عمان
٥	حضرت وبر بن یخنس	رضی الله تعالی عنه	ابنای فارس
٦	حضرت مهاجر بن ابی امیه	رضی الله تعالی عنه	حارث بن عبدالکلال یمنی شهزاده تولوا کځی ته
۷	حضرت محیصه بن مسعود	رضی الله تعالی عنه	فدك

(څلورم) : دقبائلو رؤساء به دنبوت دربارته حاضریدل او پاسلام سره مشرفیدل اوځو ورځی به میلمانه کیدل - اوبیا بیرته خپلو قبائلو ته ورتلل - اوهغلته به پاسلامی تبلیغ اودعوت مشغولیدل . ددغو ذواتو دځینو مبارك اسامی دغه دی :

شمیر	نوم		مقام
۱	حضرت طفیل بن عمرو الدوسی	رضی الله تعالی عنه	قبیلة الدوس
۲	حضرت عروه بن مسعود	رضی الله تعالی عنه	ثقیف
۳	حضرت عامر بن شهر	رضی الله تعالی عنه	همدان
٤	حضرت ضمام بن ثعلبه	رضی الله تعالی عنه	بنو سعد
٥	حضرت منقذ بن حبان	رضی الله تعالی عنه	بحرین
٦	حضرت ثمامه بن اثال	رضی الله تعالی عنه	دنجد اطراف

ددغوله مبلغینو او دعاتواثره له اسلام په هرځای کښ په ډیر سرعت پرمخ تګ کاوه . لکه چه پخوا لدینه موولوستل د (مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته اسلامی مبلغین او دعاة هری خواته واستول شول - اوخلق پډیره خوښی اومسرت سره مسلمانیدل - د (قرآن کریم) دغه مبارك آیات همدغه لوری ته اشاره فرمائی

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

[شروع] په نامه د الله چه خورامهربان ډیر رحم والا دی .

اذا جاء نصر الله والفتح ورأیت الناس یدخلون فی دین الله افواجا فسبح بحمد ربك و استغفره انه کان توابا

کله چه راشی مددګاری دالله [له تا سره ایمحمده اوغلبه ورکول تالره پر دښمنانو] او [چه راشی] فتحه [دمکی اودنوروبلاد دمؤمنانولره] اووینی ته خلق چه ننوځی په دین دالله کښ [چه اسلام دی] فوج فوج پس تسبیح وایه پیوست له حمد درب ستاسره [یالمونځ کوه په امر دالله سره] اومغفرة وغواړه له دغه [الله نه لپاره دامت خپل یادپاره دماتیدو دنفس او قصور دعمل اوتل اوسه په استغفار] بیشکه چه دغه [الله] دی ښه توبه قبلوونکی [دمستغفرانو]

د (مکی معظمی) له فتحی څخه یو کال او دری میاشتی وروسته د هجرت د نهم کال په (ذیجة الحرام) کښ د حج پموسم کښ د (برأة) اعلان وشو . لدغو واقعی څخه وروسته بلا استثناء ټول حجازیان په عمومی ډول مسلمانان شول (۱)

(۱) : په (طبری) کښ د هجرت د نهم کال واقعات وګوری . ۱ .

د (محمدي ص) د نبوت په یوویشتو کالو کښې یوالجی د قریشو او د جهودانو د مزاحمت او مخالفت له سببه اعلان له (حجاز) څخه د باندې ونشوای وتلای ـ او صرف یو یو دوه دوه تنه مسلمانان به په ځینو ځینو ځایو کښې لیده کیدل ـ لیکن کله چه دغه موانع او سدود له منځه لرې شول. فقط په درو کلو کښې یعنې دهجرت په (۸ ؤ ۹ ؤ ۱۰) کلو کښې له یوه جانبه له (یمن بحیرتن یمامه او عمان) او له بل جانبه د (عراق) او د (شام) تر حدودو پورې اسلام وسعت وموند.

دغه ځایونه خو د (عربستان) هغه نقاط دي چه د اسلام څخه لا پخوا هلته د عربو خورا لوی لوی حکومات قائم ؤ ـ او یدغه وقتکښې هم دغه محلات د (روم) او د (پارس) د عظیم الشان امپراتوری او ستر تولواکي تر اثر او حمایت لاندې ؤ ـ خو سره له هغه اسلام د مصالحت او مرافقت او امنیت او موعظت تر اثر لاندې خپل تبلیغاتو ته ادامه ورکړه او د خپل دغه اسلامي تبلیغ جواب ئې له هر ځای څخه په « لبیك » او مثبت ډول سره واورېده.

(یمن) د (عربستان) په تولو ولایاتو کښې له ګردو څخه ښه مور او خورا حاصلخیزه ولایت ؤ ـ او له خورا قدیمه زمانو رائیسي د تمدن او تهذیب ـ د تجارت او صناعت یو لوی مرکز ؤ. د (سبا) او د (حمیر) عظیم الشان سلطنتونه همدغلته قائم ؤ. د (حضرت نبوي ص) له ولادت څخه تقریبا پنځوس کاله پخوا د عیسوي په ۵۲۵ کال کښې حبشي عیسائیانو پر (یمن) باندې قبضه کړې وه. د (حضرت نبوي ص) له ولادت څخه څو کاله وروسته پارسیان پر (یمن) باندې قابضان شوي ؤ ـ او دلته د (پارس) یو واکمن اووالی منصوب ؤ چه پر (یمن) باندې ئې حکومت چلاوه.

د اسلامي تحریك پمقابل کښې په (یمن) کښې متعدد عوائق موجود ؤ ـ مثلا د جنسیت اختلاف چه (یمن) (قحطاني) ؤ ـ او د اسلام داعي (اسماعیلي) ؤ. د (یمن) خلقو پرخپل قدیمي جاه و جلال او تمدن او کمال افتخار کاوه ـ او تول عرب یواقعي ډول سره ددوی مشرتوب تسلیماوه ـ او په ګرد (عربستان) کښې همدوی د حکومت او سیادت مستحق ګڼل کیدل ـ په (عربستان) کښې به هر چېرې که کوم منظم او مرتب حکومت موجود ؤ، هغه به خو نسلا دهمدغې کورنۍ له افرادو څخه و ـ لکه څه وقت چه له (یمن) څخه د (کنده) د قبیلې جرګه اووفد راغی چه د (یمن) یو شاهي کورنۍ وه ـ نو د (حضرت محمد رسول ص) په نسبت ئې دغسې خیال وکړ چه ګواکې (حضرت ص) هم دهمدوی له کورنۍ څخه یو تولواك او امیر دی ـ نو دوفد رئیس له (حضرت ص) څخه داسې پوښتنه وکوله چه:

« یا رسول الله ! آیا ستاسې او ځمونږ کورنۍ سره یوه کورنۍ نه ده ؟ »

(حضرت ص) پجواب کښې ورته وویل چه:

« مونږ د (نضر بن کنانة) له کورنۍ څخه یو ـ نه پر خپلو مېندو تهمت لګولی شو ـ او نه له خپلو پلرونو څخه انکار کولای شو ! » (۱)

په (یمن) کښې د اسلام د اشاعت لوی عائق او مانع همدغه هم کېدای شوای چه (یمن) د سیاست له جانبه د پارسیانو تر اثر او نفوذ لاندې ؤ ـ او ګرد یمنی هستېدونکی مذهبا علی العموم جهودان یا عیسائیان ؤ ـ لیکن د قبول الحق پمقابل کښې دغه ګرد عوائق او موانع بلا اثر پاتې شو.

---

(۱) : په (ابن حنبل) کښې د اشعث بن قیس حدیث ـ او د (زادالمعاد) د اول جلد (۳۲) مخ چاپ د مصر وګورئ !.

په (یمن) کښ د اسلام دعوت لا د هجرت څخه بخوا رسېدلی ؤ . په (یمن) کښ د (دوس) قبیله ممتازه وه چه ئی رئیس او مشر (حضرت طفیل بن عمرو رض) اتفاقاً (مکی معظمی) ته راغی ـ او پاسلام سره مشرف شو . پهمدغه زمانه کښ د (کنده) قبیله هم حج ته راغلی ؤ ـ او د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره هغویته د اسلام دعوت ورکړ شو ، لیکن هغوی له اسلامه انکار وکړ (۱)

دهجرت په اوم کال کښ څه وقت چه (حضرت محمد رسول الله ص) په (خیبر) کښ تشریف درلود ـ د (دوس) قبیله په اسلام سره مشرف ـ او دارالاسلام ته منتقل شول . د (یمن) یو مشهوره او معروفه قبیله (اشعر) وه چه دغه (اشعر) هم د (حبشی) د مهاجرینو په معیت پهمغه زمانه کښ بی له کوم تحریکه پخپله مسلمان شو . او د (حضرت محمد رسول الله ص) بحضور مشرف وګرځېد . (حضرت ابو هریرة الدوسی رض) او (حضرت ابو موسی الاشعری رض) له همدغو قبائلو سره یو ځای د (حضرت نبوی ص) بخدمت مفخر شوی دی .

په (یمن) کښ (همدان) له ګردو څخه یوه کثیر التعداد او د اثر خاونده کورنۍ وه ـ د (حضرت محمد رسول ص) له حضوره دهجرت د اوم کال په آخر کښ [لکه چه پخوا مو ولیکل] (حضرت سیف الله خالد بن ولید رض) د اسلامی دعوت او تبلیغ بمقصد هغویته واستاوه شو) خالد رض تر شپږو میاشتو پوری د (همدان) کورنۍ ته اسلامی دعوة ورکړ ـ لیکن هغوی اسلام ونه مانه ـ بالاخر د (حضرت نبوی ص) له حضوره (خالد رض) بېرته وغوښت شو ـ او دهغه پځای (حضرت علی المرتضی رض) اعزام شو . کله چه (حضرت علی المرتضی رض) هلته ورغی نو د (همدان) ټول خلق ئی راغونډ کړل او هغویته ئی د (حضرت محمد رسول ص) مبارك فرمان ولوست چه د هغه په اثر هغه ټوله قبیله په اسلام سره مشرف شوه ـ کله چه (علی رض) د (همدان) د مسلمانیدلو خبر (حضرت نبوی ص) ته ورساوه ـ نو (حضرت ص) د شکر سجده وفرمایله او کله ئی چه خپل سر له سجده څخه را بورته کړ ، نو دوه ځلی ئی داسی وفرمایل : « السلام علی همدان ! » (۲)

په ځینو روایاتو کښ راغلی دی : کله چه (همدان) د اسلام آوازه اوغلغله واورېده و (عامر بن شهر) ئی د (حضرت محمد رسول الله ص) په حضور واستاه او ورته دغسی ئی وویل :

« که دغه مذهب ستا خوښ شی ـ نو مونږ ئی ټول قبلوو ـ »

« او که دې خوښ نشی خو بیا هم مونږ له تا سره یو ! »

---

(۱) : په (ابن هشام رح) کښ ذکر عرض الاسلام علی القبائل وګوری ! .

(۲) : دغه روایت (زرقانی) په صحیح سند له (بیهقی) څخه کوی ـ اصله واقعه د (صحیح بخاری شریف) په جزء الغزوات کښ شته ـ لکن پهغه کښ د (همدان) تخصیص نشته او نه پکښ ددوی داسلام ذکر راغلی دی . د دغی واقعی پمتعلق نور روایت هم شته لیکن هغه صحیح نه دی ـ لکه چه پخپله (مواهب اللدنیه) دغه تسلیموی چه د دغو روایاتو مفهوم دا دی چه د (همدان) خلق د (حضرت علی رض) له وېری په اسلام سره مشرف شول ـ لیکن دغه خو دراویانو حسن الظن دی او واقعه نه ده په یوه روایت کښ راغلی دی چه (حضرت ص) (همدان) ته حکم ورکړی ؤ چه له (ثقیف) سره دی تل وجنګېږی او پر هغوی باندې دې داړی وغورځوی . لیکن (حافظ ابن القیم رح) تصریح کړی ده چه دغه روایة بېخی غلط دی ـ ځکه چه (همدان) یوه (یمنی) قبیله وه او (ثقیف) خو له (مکی معظمی) سره نژدی د (طائف) یوه قبیله وه او دغسی حکم د دوو همسایه قبائلو په نسبت صادرېدای شی !

څه وقت چه (عامر رض) د (حضرت محمد رسول ص) له حضوره بېرته ستون شو نو زړه ئې له اسلامی انوارو روڼ او منورو او بالاثر دده کرده قبیله په اسلام سره مشرفه شوه . امکان لری چه دغه دواړه دوی واقعی وی او دغه قبیله د همدغو دواړو سړیو په زیار او کوښښ سره مشرف بالاسلام شوی وی .

په (یمن) کښې خلق له (حضرت علی المرتضی رض) سره مأنوس او آشنا شوی ؤ، دهجرت په لسم کال دربیع الاول [جوزاسرطان]پیاشتکښې بیاد (حضرت نبوی ص) له حضوره (علی رض) سره له دری سوو تنو سپرو (یمن) ته اعزام شو- خو د (مذحج) قبیلی تـه اسلامی دعوت ورکړی- او دغسی تاکید او توصیه ئې هم ورفرمائلی وه : « ترڅو چه د (مذحج) قبیله پر مسلمانانو باندې برید او تعرض ونکوی نه ښائی چه مسلمانان هغویته لاس ورو غځوی » . کله چه (حضرت علی المرتضی رض) سره لـه خپلو ملګریو (مذحج) ته ورسېدل ، نو د مالیاتو د تحصیلاتو لپاره ځای پځای څه سړی ئې منصوب کړل .

پدغه منځکښې د (مذحج) د قبیلی یو جمعیت په نظر راغی (حضرت علی رض) هغویته اسلامی دعوت ورواندی کړ - لیکن هغوی له مسلمانانو سره پجنګ لاس پورې کړ او د غېشو او نیزو وارونه ئې پرې وکړل چه دغه وضعیت دلیدلو په اثر (حضرت علی رض) هم مجبور شو خو خپلوملګریو ته دمدافعی امر ورکړی- پدغه جنګ کښې د (مذحج) دقبیلی شل تنه ووژل شول- اونورئې و تښتیدل ، خو مسلمانان دهغوی په تعاقب پسې ونه لوېدل - ځکه چه د هغوی مقصود تشه مدافعه وه وروسته لدې ددغې قبیلی مشران حاضر شول - او اسلام ئې ومانه - اود نورو له جانبه ئې نیابتا د اسلام اعلان وکړ (۱) .

په (یمن) کښې د (پارس) کوم رئیسان چه مقیم ؤ هغو یته به ئې یمنیان (ابناء) ویل . د هجرت په لسم کال کښې کله چه د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (وبر بن یخنس رض) دغو ته د اسلامی دعوت پمقصد و استاوه شو (وبر رض) د (نعمان بن بزرج = بزرګ) په کور کښې د هغه د ځامنو میلمه شو - او (فیروز الدیلمی - مرکبود او وهب بن منبه) ته ئې د اسلامی دعوت خطوط واستول- چه هغوی ټول په اسلام سره مشرف شول- په (صنعاء) کښې له کردو څخه پخوا کوم سړی چه د (قرآن مجید) په حفظ سره افتخار مو ندلی دی ، هغه د همدغه (مرکبود) ځوی (عطاء رض) او (وهب بن منبه رض) و (۲) .

په عام (یمن) کښې د اسلامی تبلیغ لپاره د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (حضرت معاذ بن جبل رض) او (حضرت ابو موسی الاشعری رض) لیږلی شوی و- دغه دواړه ذوات د (یمن) یوې یوې سیمی او منطقی ته استولی شوی ؤ - دغو ذواتو د خپل ورتګ پوفتکښې دهغو احکامو تعلیم او تلقین فرمائلی دی چه په حقیقت کښې داسلامی تبلیغ اصول دی . مثلا هغو به خلقو ته داسی ویل چه (حضرت محمد رسول الله ص) مونږته دغسی حکم فرمایلی دی چه :

---

(۱) : د (حضرت علی رض) (یمن) ته د دغه ورتګ قصه داحا دیثو په ټولو کتابو کښې مرقومه ده لیکن دغه تفصیل د (ابن سعد رح) له جزء المغازی څخه مأخوذ دی .

(۲) : دطبری ۱۷٦۳مخ وګوری .

له خلقو سره نرمي او سهولت وکړيء ! او له هیڅا سره سختي او تشدد مه کويء ! خلقو ته بشارت او زیري آورويء ! او هیڅوك له خپله ځانه بیموجبه مه خپه کويء ! او د هغوی دنفرت او خپګان عوامل خامخا مه ورپیدا کويء ! تاسو دواړه په اتحاد او اتفاق سره په اسلامي دعوت او تبلیغ کښې مصروف اوسيء ! تاسو به لداسي خلقو سره هلته مخامخ کیږيء چه لاله پخوا د یوه مذهب څښتن دي تاسي هغوی ته ړومبي دالله تعالی د توحید او ځما د رسالت تبلیغ وکړيء ! او اسلام ته ئي راوبولیء !

کله چه هغوی مسلمانان شول نو دویته ووائيء چه الله تعالی پر تاسي باندي په شپه او ورځ کښې پنځه وقت لمونځونه هم فرض کړي دي. کله چه هغوی لمونځ ومانه نوئي وپوهويء چه د تاسي پر اغنیاؤ باندي زکوة هم واجب دي او په تاسو کښې ځه امیریم او د زکوة مال له تاسي څخه آخلم او غرباؤ ته ئي ورکوم ـ وګوريء ! کله چه هغوی زکوة هم ومني نو تاسي په زکوة کښې د هغوی خوراښه او بهتر اموال مه اخلیء ! او د مظلومانو له ښیرا څخه وویریږيء ! چه د مظلوم دښیرا او د الله تعالی د اجابت پمنځ کښې بل هیڅ شي پرده او حائل نه دي .

(حضرت ابو موسی الاشعري رض) پوښتنه وکوله چه :

« یارسول الله ص ! ځمونږ په ملك (یمن) کښې له اوربشو او شاتو څخه شراب جوړیږي آیا دغه هم حرام دي؟ » (حضرت ص) ارشاد وفرمایه چه : « هرشي چه نشه پیدا کوي حرام دي » (١)

له (یمن) سره نژدي (دنجران) علاقه وه چه دغه (نجران) په عربو کښې دعیسویانو مخصوص مرکز ؤ . د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (حضرت مغیرة بن شعبة رض) چه د (حدیبیي) له روغي څخه لا پخوا د هجرت په اوم کالکښې مشرف بالاسلام شوي و ! ، د اسلامي تبلیغ او دعوت بمقصد (نجران) ته اعزام شو عیسویانو پر (قرآن کریم) باندي اعتراضات وکول ، (حضرت مغیرة رض) ونشوای کولای چه دهغو جوابونه ورکړي شي نو ځکه بیرته ستون شو (٢)

وروسته له هغه د [حضرت محمد رسول الله ص] له جانبه د [نجران] عیسائیانو ته د اسلامي تبلیغ او دعوت فرمان ولیږل شو چه په هغه کښې داسي ارشاد صادر شوي ؤ که بالاخر تاسي نه مسلمانیږيء او پر خپل همغه نصرانیت باندي ټینګ ولاړ یاست ـ نو د اسلام سیاسي اطاعت خو ومنيء ! او جزیه اداء کړيء ! [٣]

---

(١) : دغه پوره واقعه د (صحیح بخاري شریف) په جزء الغزوات کښې مذکوره ده مونږ د (صحیح بخاري شریف) مختلف واقعات دلته سره یو ځای کړي دي .

(٢) : ! په [ترمذي] کښې د [مریم] دسورت تفسیر وګوريء .

(٣) : دغه خبره [زرقاني] د [بیهقي] پخوا له ښکلي ده .

د (نجران) خلقو دراهبانو او مذهبي مشرانو یوه مرکه د حقیقي حال او احوال زده کو او بمقصد [مدینی منوری] ته واستوله چه ددغه وفد تفصیلي بیان وروسته لدینه راځي [۱] .

بر سیره بر نصرانیانو په (نجران) کښې څه مشرکین هم اوسېدل چه له هغوی څخه یوه قبیله خو [بنو حارث بن زیاد] وه چه د [مدان] نامي بت عابدان ؤ نو ځکه دوی په (عبدالمدان) سره هم مشهور ؤ . دهجرت په لسم کال دربیع الثاني [سرطان اسد] په میاشت کښې د [حضرت محمد رسول الله ص] له حضوره [حضرت سیف الله خالد بن ولید رض] د اسلامي تبلیغ او دعوت په مقصد هغویته ولېږل شو (حضرت خالد رض) کله چه هلته ورسید او هغویته ئې اسلامي دعوت ورساوه نو هغوی ګرد سره مشرف بالاسلام شول [حضرت خالد رض] خو شپې هلته دېره شو او هغوی ته ئې د قرآن کریم او د اسلامي احکامو تعلیم ورکړ [۲] .

دغه د اهل الیمن بې له کوم ترغیب او ترهیب دزړه په اخلاص مشرف بالاسلام کېدل دغسې واقعه ته وه چه د الله تعالی د خاص رحمت مستوجب نشي . څه وقت چه د [اشعریانو] د راتګ خبر ورسید نو [حضرت محمد رسول الله ص] مسلمانانو ته داسې زیري او بشارت ورکړ چه :

« صبابه اهل الیمن در ځي چه رقیق القلب او پاسته زړه دي » [۳] .

کله چه [همدان] مسلمان شو نو [حضرت محمد رسول الله ص] د شکر سجده وکوله او پغیاب کښې ئې دهغوی په حق کښې د خبر دعاء وفرمایله [٤] .

څه وقت چه د [حمیر] او د [تمیم] وفد د [حضرت نبوی ص] په حضور مشرف شو ، نو [حضرت ص] ورومبی له [تمیم] سره مخاطبه وفرمایله چه : « تاسې زیري او بشارت ومنئ ! » [بنو تمیم] عرض وکړ چه :

« یا رسول الله ص ! مونږ دغه بشارة منلی دی خو څه شي را عطاء کړه ! »

بیا [حضرت ص] له هغوی څخه مخ وګرځاوه چه :

« له بشارة څخه څه شي زیاد کېدای شي ؟ »

بیا اهل الیمن ته مخ وګرځاوه چه :

« [تیمم] خو بشارة ونه مانه ـ تاسو ئې قبول کړئ ! »

اهل الیمن بې اختیاره دغسې عرائض ور وړاندې کړل چه :

« یا رسول الله ص ! مونږ ستا بشارة د زړه په اخلاص سره قبلوو ! » [٥] .

بیا (حضرت محمد رسول الله ص) په عمومي ډول سره دغسې ارشاد وفرمایه :

« ایمان » خود (یمن) ایمان دی ! او پوهنه خو هم د (یمن) پوهنه ده . ! »

د (یمن) له مبلغینو څخه (حضرت علي المرتضی رض) (او حضرت ابو موسی الاشعري رض) د (حجة الوداع) په موقع کښې له (یمن) څخه ېرته ستانه شول ـ او له (حضرت محمد رسول الله ص) سره ئې حج ادا کړ ـ له دغو مبلغینو سره ډېر مسلمانان هم د حج او د زیارت بمقصد راغلي ؤ .

---

[۱] : د دغه وفد په نسبت په زړه پوري خبري لحمونږ په پښتو تفسیر « فوائد موضح الفرقان » د ۱۳۲۳ ش ه کابلي چاپ کښې له ۲۸۳ څخه تر ۲۸۹ مخونو کښې ښکلي شوي دي .

[۲] : ! د [زرقاني] د دریم جلد ۱۱٦ مخ . وګورئ .

[۳] : ! په صحیح بخاري شریف کښې باب قدوم الاشعریین و اهل الیمن وګورئ ! .

[٤] : ! [زرقاني] دغه خبره ئې د [بیهقي] پحوا له ښکلي دي وګورئ ! .

[٥] : ! په صحیح بخاري شریف کښې کتاب بدء الخلق وقدوم الاشعریین وګورئ ! .

دهجرت په اتم کال کښې (بحرین) د (پارس) تر اثر لاندې ؤ. عربي قبائل په صحرا او بوادي کښې اوسېدل چه په هغو کښې مشهوره او با اثره کورنی (عبدالقیس - بکر بن وائل - تمیم) ؤ لدغو قبائلو څخه د (عبد القیس) له قبیلې څخه (منقذ بن حبان) د تجارت په غرض دباندې وتلی و چه دده په لیاره کښې (مدینه منوره) واقع وه - کله چه (منقذ) په (مدینه منوره) کښې ښکته شو - اودده دراتګ خبر (حضرت محمد رسول الله ص) ته ورسېد - نو (حضرت ص) با لذات دده ملاقات ته تشریف یووړ . او (منقذ) ته ئې داسلام دعوت ورکړ - اوهغه په اسلام مشرف شو - اود (الفاتحة) اود (العلق) سورتونه ئې یاد کړل - او د (حضرت محمد رسول الله) له حضوره (منقذ رض) ته یو فرمان ور عنایت کړ شو - کله چه (منقذ رض) لدغه تجارتي سفر څخه بیرته ستون شو. نو تر څو ورځو پورې ئې دخپلې مسلمانۍ اظهار هېچاته و نکړ لیکن څرنګه چه د (منقذ رض) خپلې ماندینې دده لمونځ کول لیدلی ؤ. نو دخپل میړه شکایت اوچغلی ئې خپل پلار (منذر بن عائذ) ته وکړه - (منذر) له (منقذ رض) څخه دده دمسلمانیدلو په نسبت پوښتنه وکوله او ور سره ډیر بحث او مباحثه ئې وکړه خو په پای کښې پخپله (منذر) هم مسلمان شو - پدغه موقع کښې (حضرت منقذ رض بن حبان) د (حضرت نبوی ص) فرمان نورو خلقو ته هم ولوست په پای کښې ټول خلق مشرف بالاسلام شول(۱)

له مسجد نبوی څخه وروسته هغه ړو مبنی مسجد چه پکښې له ګردو څخه پخوا د جمعی لمونځ اداء کړی شوی دی هغه د (بحرین) هغه مسجد وچه په (جواثی) کښې واقع دی اولدې نه دغه خبره ثابتیږی چه په (بحرین) کښې د اسلام په ابتدائی زمانه کښې داسلام اشاعت پعمل راغلې دی (۲)

وروسته داسلام له قبوله د څورلسو تنو یو سفارت د [حضرت نبوی ص] پحضور مشرف شو چه دد وی رئیس او مشر [منذر بن الحارث رض] و څه وقت چه دغه جمعیت د [حضرت نبوی ص] در بارته ور نژدی شونو په ډیر شوق او ذوق او وار خطائی سره ئې سمد لاسه خپل ځانونه له خپلو سپرلیو څخه وغور ځول - اود [حضرت محمد رسول الله ص] پحضور مشرف - اولا سونه ئې ښکل کړل - لیکن [منذر بن الحارث رض] دډیر ادب په ملحوظ خپل ځای ته ورغی او وروسته له غسل او دجامو له بدلولو څخه د [حضرت نبوی ص] پحضور مشرف شو - او لاسونه ئې ښکل کړل - او په سترګوئی ومښل (۳) .

---

(۱) : (زرقانی) دغه خبره د (کرمانی) په حواله ښکلی ده . (په صحیح بخاری شریف) کښې چه د (عبد القیس) د قبیلې دیو سفارت ذکر راغلی دی هغه لدغی زمانی څخه وروسته دی ځکه چه لدغه روایت څخه دغه خبره هم ثابتیږی چه (عبدالقیس) ددغه سفارت له راتګه لا پخوا مشرف بالاسلام شوی ؤ . هغه روایت چه په (اصابه) کښې له (ابن شاهین) څخه شوی دی اګر که د (زرقانی) له روایت څخه مختلف دی او د سفارت د رئیس په نامه کښې هم اختلاف سره لری خو بیا هم لدغو تو لو روایاتو څخه دغه خبره ثابتیږی چه ړومبنی سفارت (عبد القیس) ته دهجرت له شپږم کال څخه دمخه تللی دی.

(۲) : د [صحیح بخاری شریف] کتاب الجمعة وګوری !

(۳) : [زرقانی] دغه روایت په جید سند سره له [بیهقی] څخه نقلوی .

دهجرت په اتم کال کښې د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره [حضرت علاؤ الحضرمی رض] د اسلامی تبلیغ او دعوت لپاره [بحرین] ته ولیږل شو ـ پدغه زمانه کښې دلته د [پارس] له خوا [منذر بن ساوا] واکمن [والی] ؤ چه مشرف بالاسلام شو او له هغه سره ټول عرب او هغه پارسیان چه هلته اوسیدل ټول مسلمانان شول [۱]

د (بحرین) پر یوه سیمه او منطقه کښې چه [هجر] نومیده د [پارس] یو حاکم ؤ چه [سیبخت] نومیده کله چه دغه [سیبخت] ته د [حضرت محمد رسول الله ص] فرمان ورسید سمدلاسه مسلمان شو [۲]

د (عمان) پر ښار باندی د (ازد) د قبیلی قبضه وه ـ او (عبید) او (جعفر) د دغه ځای مشران ؤ ـ د هجرت په اتم کال کښې د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (حضرت ابو زید الانصاری رض) چه د (قرآن کریم) حافظ ؤ ـ او (حضرت عمرو بن العاص رض) د اسلامی تبلیغ او دعوت لپاره سره له محمدی فرمان اعزام شو ـ د (عمان) هغه دواړه مشران مشرف بالاسلام شول او دهغوی د ترغیب او تشویق له سببه د هغه ځای نور عرب هم مسلمانان شول (۳)

پهغو اعرابو کښې چه د [شام] په حدود کښې اوسیدل متعدد ریاستونه موجود ؤ چه پهغو کښې [معان] او د هغه اضلاع د [فروة بن عمرو رض] تر حکومت لاندی ؤ ـ لیکن پخپله دغه [فروة] د [رومی] سلطنت له جانبه پر [معان] باندی واکمن او والی ؤ ـ کله چه [فروة بن عمرو رض] له اسلام څخه واقفیت پیدا کړ، نو مشرف بالاسلام شو ـ او د [حضرت محمد رسول الله ص] په حضور ئی دخپل اسلام د اظهار له پیغام سره یو کچر هم دهدیی پډول واستاوه ـ کله چه د رومی نصرانی حکومت ته د [فروة رض] د مسلمانیدلو اطلاع ورسیده، نو [فروة رض] ئی بندی کړ او پردار ئی وځړاوه [حضرت فروة رض] څه وقت چه پردار خیژولی کیده دغه شعر ولوست [٤] :

بلغ سراة المسلمین بانی ... اسلامی سردارانو ته ځما دغه پیغام ورسوی ! چه ماخپل جسم
سلم لربی اعظمی ومقامی ... او مشر توب او عزت ټول تر خپل خدای جاراوواری کړ .

د [شام] او د عربو پمنځ کښې د [غدره ـ بلی ـ جذام] قبائل او نور اوسیدل ـ د [بلی] په قبیله کښې د [حضرت عمرو بن العاص رض] ماما خیلان اوسیدل، نو ځکه یو جمعیت له ده سره د هغوی په اوری واستاوه شو، څه وقت چه دوی د [جذام] اوبو او لوی ناورو او ډنډونه ورسیدل نو دمخالفینو له حملی اویرغل څخه وویریدل، او [حضرت نبوی ص] ته ئی دعسی یوه اطلاع ولیږل، څوله [مدینی منوری] څخه د [حضرت ابو عبیدة رض] تر ریاست لاندی یو بل فوجی جمعیت ځمونږ د حفاظت لپاره واستوی، لکه چه دغه قوة الظهر دویته ورسید ـ داهل السیر په اصطلاح همدغه ته د «ذات السلاسل» غزا ویل کیږی .

---

(۱) : «فتوح البلدان» وګوری ! .
(۲) : په [فتوح البلدان] کښې د (بحرین) ذکر وګوری ! .
(۳) : په [فتوح البلدان] کښې د [عمان] د فتحی ذکر وګوری ! .
(٤) : په [ابن هشام رح] کښې د [فروة رض] د اسلام ذکر او د وفود ذکر وګوری ! .

عربی وفود او جرگی

هغه خلق چه د اسلامی مبلغینو د تبلیغ او دعوت له قبلولو څخه وروسته پخپله د نبوت دربارته حاضر او سوب شوی دی او د خپلو مسلمانېدلو اعلان ئی کړی دی ارباب السیر د هغوی ذکر د «وفد» او «وفود» تر عنوان لاندې کړی دی . د دغو وفودو تعداد زیاد دی ، خو [ابن اسحاق رح] یوائحی د [١٥] وفودو حال ښکلی دی . [ابن سعد رح] د اویا وفود تذکره کړی دی . [د مباطی رح مغلطائی رح عراقی زین الدین رح] هم همدغه تعداد بیانوی . لیکن د [سیرة الشامی] مصنف ډېره استقصاء کړېده او د یو سل ؤ څلور وفود حالات ئی را ټول کړی دی . اگر که پدغو کښ په ځینو ځایو کښ پر ضعیفو روایاتو باندی هم استناد کړی شوی دی او دا کثرو وفودو اسماء هم مبهم دی خو سره له هغه دغه خو مسلمه خبره ده چه د وفودو اصلی تعداد د [ابن اسحاق رح] له روایت څخه ډېر زیاد دی . [حافظ ابن قیم رح] او [قسطلانی رح] ددغو له منځه په نهایت تحقیق او احتیاط سره یوائحی د [٣٤] وفودو تفصیلات لیکی .

اصلاً د عربستان گرد اقوام او قبائل د (مکی معظمی) د وورستنی فیصلی په انتظار کښ ؤ . څه وقت چه (مکه معظمه) فتحه شوه نو هغه تردد او انتظار له منځه ورك شو او هری قبیلی غوښت تر څو پخپله دارالاسلام ته ورشی او خپله فیصله او خبره خلاصه کړی .

اهل العرب په دی باندی ډېر ښه پوهېدلی ؤ چه وروسته لدینه بل هیڅ یو قوت د اسلام د مقابلی طاقت او توان نه لری او نه څوك ترې سر غړولی شی . او سره له هغه د [خیبر] او د (خیبر) له نظائرو څخه پدی باندی هم په ښه شانی پوهېدلی ؤ چه هغوی خامخا پر اسلام باندې نه مجبور ېږی بلکه د جزیی په منلو سره یا په بلی کومی طریقی سره هم دوی له مسلمانانو سره مصالحه کولی شی او پدغو تدابیرو سره پر خپل اصلی حالت باندی هم پاتی کېدای شی .

د (مکی معظمی) له فتحی سره متصل له هره جانبه د جرگو او د سفارانو را تلل شروع شول . او ما سواء له څو سفارا تو څخه نور ټول سفارات چه د (حضرت محمد رسول الله ص) بحضور مشرف شول د پېرته تگ پوقتکښ دایمان په دولت سره مشرف شوی ؤ .

په عربو کښ له گرد و څخه داسی طاقتور قوی او مړوچ قبائل چه د هغوی اثر تر لرې ځایو پوری رسېده (بنو تمیم . بنو سعد . بنو حنفیه . بنو اسد . کنده) او د (حمیر . همدان . ازد . طی) امراء ؤ . ددغو گردو قبائلو سفارتونه او جرگی د (حضرت محمد رسول الله ص) بحضور مشرفې شولې چه پدغو کښ ځینی دملکی حیثیت خاوندان ؤ . او د هغوی مقصد یوائحی همدغو مره قدر ؤ چه فقط دیوه فاتح په حیثیت له (حضرت نبوی ص) سره خپله معاهده غوټه کړی . لیکن اکثر پدغه غرض او مقصد راغلی ؤ څو د اسلام له حقیقت او مقاصد وڅخه خپل ځانونه خبردار کړی او بیا د اسلام په حلقه کښ خپل ځانونه شامل کړی .

دغه وفود او جرگی علی الاکثر د (مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته دهجرت په ا (تم) . نهم او لسم کال کښ راغلی دی . لیکن د بیان د تسلسل له رعایته ښائی چه ړومبی دڅو نورو وفودو تذکره هم وکړه شی .

(مزنیه) دغسی یو ه لو یه قبیله و ه چه [په اتلسم پلار یعنی] په (مضر) کښ د (قریش) له کورنی سره یو ځای کېږی . (نعمان بن مقرن رض) چه یو مشهور صحابی و او د (مکی معظمی) په فتح کښ د (مزنیی) د قبیلی بیر غدار و ـ له همدغی قبیلی څخه و ـ د (اصفهان) فاتح هم همدغه (نعمان بن مقرن رض) دی . دهجرت په پنځم کالکښ دهمدغی (مزنیی) د قبیلی د (٤٠٠) تنو سړیو په سفارت د (حضرت محمد رسول الله ص) پحضور مفخر او په اسلام سره مشرف شول (۱) .

عراقی زین الدین رح پخپل منظوم سیرة کښ داسی ښکی :

اول وفد وفد المدینة ـ له گرد و څخه ړومبنی وفد چه مدینی ته راغی

سنة خمس وفد وامزنیة ـ دهجرت په پنځم کالکښ دمزنیی د قبیلی وفد ؤ

د (بنو تمیم) وفود هم پډېر ښه شان او شوکت سره راغلل ـ ددغی قبیلی گرد مشران او غټان مثلا : (اقرع بن حابس ـ زبرقان ـ عمرو بن الاهتم ـ نعیم بن یزید) ټولو پدغه سفارت کښ شمولیت درلود (عیینه بن حصن الفرازی) چه د (مدینی منوری) تر حدود و پوری به ئی هم د مسلمانانو پر اموالو داړه غور ځوله هم له همدوی سره ملگری و .

اگر که دغه خلق د مسلمانیدلو پمقصد راغلی و خو سره له هغه د عربو فخر او غرور د دوی په ککرو کښ و ـ څه وقت چه دوی د نبوی مسجد ته ننو تلل (حضرت ص) پخپل مسجد کښ تشریف نه درلود ـ دوی د (حضرت نبوی ص) د حجری شا ته ور غلل او ورناری ئی کړی چه : « ای محمده ! راوځه ! » کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) له خپله کوره د باندی راووت نو دوی وویل چه : « مونږ پدغه مقصد درغلی یو څوله تا سره مفاخره وکړو » .

(حضرت نبوی ص) هغو یته د مفاخری اجازه ورکړه .

(عطارد بن حاجب رح) چه یو نومیالی خطیب و او د (نوشیروان) په دربار کښ ده ته دخپل ښه تقریر په صله کښ د کمخاب خلعت هم ور عطاء کړی شوی و (۲) پاڅید او پر خپلو قومی مفاخرو باندی ئی یوه زور وره وینا وکوله چه دهغی خلاصه او لنډون دغه دی :

« د خدای شکر دی چه دهغه په الطاف مونږ دتاج او د تخت او خورا ډېرو »
خزائنو خاوندان یو ! او په مشرق کښ له گردو کورنیو څخه معزز او مفخر یو ! »
« نن له مونږه سره برابری او سیالی هېڅوك نشی کولی ـ هر هغه څوك چه »
« خپل ځان له مونږه سره برابر گڼی را دی شی او ځمونږ د دغو خصائصو »
« او اوصافو پمقابلکښ دی خپل خصائص را وشمېری ! »

کله چه (عطارد) خپله وینا پای ته ورسوله او پخپل ځای کښ کیناست ـ د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (حضرت ثابت بن قیس رض) ته حکم صادر شو څو د هغوی جواب دی ووائی ـ د ثابت دوینا خلاصه او لنډون دغه دی :

---

(۱) : اصابه فی احوال الصحابه د (نعمان بن مقرن رض) ترجمه د (ابن سعد رض) دجزء الوفود (۳۸) مخ .

(۲) : اصابه فی احوال الصحابة

« دهغه الله تعالى حمد وايم چه ځمکه او آسمان ئې پيدا کړي دي ! او مونږ ته ئې »
« سلطنت راعطاء کړي دي ! او له خپلو بندګانو څخه دغسي يو ښه ذات ئې »
« ځمونږ د ليار ښوونې لپاره مبعوث کړي دي چه له ګردو څخه شريف النسب »
« او ډېر صديق اد رښتين دي - او له ټولو څخه شريف الاخلاق دي- او د ټول »
« جهان غوره او منتخب دي - نو ځکه پاك الله پرې خپل کتاب نازل فرمائلي »
« دي- دي خلقوته د سمي لياري په لوري دعوت ورکوي، له ګردو څخه ډومبي »
« اول مهاجرينو او بيا مونږ انصاريانو د هغه دعوت ومانه- اواسلام ته مولبيك »
« وويل - مونږ دالله تعالى انصار اود (محمد رسول الله ص) ددربار وزيران يو! »

کله چه د مفاخري دغه ويناوي پاي ته ورسېدې نو د مشاعري وار راغي ددغه سفارت لـه جانبه د (تميم) مشهور شاعر (زبرقان بن بدر) دغه قصيده ولوستله :

نحن الكرام فلاحي يعادلنا — مونږ د قوم شرفاء يو هيڅ يوه قبيله له مونږه سره نشي برابرېداي
منا الملوك وفينا تنصب البيع — مونږ پاچايان يو مونږ د کليسا جوړونکي يو !

په رواياتو کښې راغلي دي چه يو سړي (مدينې منوري) ته راغي او يوه ويناتي وکوله د دغـه ويونکي له ښي وينا څخه ټول خلق هك پك اوحيران پاتي شول پدغه موقعکښې (حضرت محمد رسول الله ص) دغسي ارشاد وفرمايه :

« ان من البيان لسحراً يعني پـه ځينو ځينو وينا ؤ کښې د جادو او سحر اثـر وي . »

له (اصابه في احوال الصحابه) څخه معلومېږي چه (حضرت نبوي ص) د (زبرقان) دهمدغو اشعار پمقابلکښې دغسي الفاظ ارشاد فرمائلي دي- لنډه ئې دا څه وقت چه د (زبرقان) اشعارو خاتمه ومونـده د (حضرت نبوي ص) له حضوره درسالت د دربار شاعر (حضرت حسان بن ثابت رض) ته اشاره وشوه څودهغوي جواب ووائي (حضرت حسان رض) سمدلاسه پاڅيد- اوپه لوړ غږ او غوړه ژبه سره ئې دغه قصيده ولوستله :

ان الذوائب من فهر واخوتهم — د قهر د قبيلي شرفاء او د دوي نور و رونو خلقو ته
قد بينوا سنة للناس يتبعوا — دغسي ليارښوونه کړي ده چه هغوي دي ددوي متابعت کوي.

ددغه سفارت په ارکانو کښې بو تن (اقرع بن حابس) د عربو مشهور حـکم او منځکړي هم ؤ يعني د قومي مقدماتو مرافعه به همغه ته ور وړاندي کېده - او دده د فيصلي پمقابله کښې به خلقو خپلي غاړي کېښودې- او دي له اسلامه پخوا مجوسي او ګبر ؤ- څه وقت چه (اقرع) پدغه سفارت کښې له (حضرت نبوي ص) سره مخامخ شو نو داسي ئې وويل: (١)

ان حمدي لزين = د هر هغه چا مدح او ستاينه چه وکړم هغه ښه کېږي
و ان ذمي لشين = اودهر هغه چا قدح او سپکه چه وکوم هغه خوارېږي .

کله چه دغه منثوري او منظومې وينا وي پايته ورسېدي، نو د (تميم) سفارت پدغه خبره باندي اعتراف وکړ چه د (حضرت نبوي ص) ددربار خطيب او شاعر دواړه ځمونږ له شاعر اوخطيب څخه ښه اوافضل دي بيا ټول مشرف بالاسلام شول .

---

(١) : اصابه د اقرع بن حابس تذکره .

۴۷۵ ـ چه زما سره ځي، تل به توري وڅکي خوري.

۴۷۶ـ چه زيار کاږي، ګټي دهغوي دي.

۴۷۷ـ چه ژرنده ئي ګرزي، بلائي پرزي.

۴۷۸ـ چه ژوندي يم ښه مي غواړه، چه مړسوم مه راپسي ژاړه.

۴۷۹ ـ چه سپي ددنيا نه سي، ددنيا خاوند به نه سي.

۴۸۰ ـ چه ستا له کوره راځي په غلبيل کي دي راځي.

۴۸۱ ـ چه ستړي نه سي، موړ به نه سي.

۴۸۲ـ چه سروي خولۍ ډير دي.

۴۸۳ـ چه سر دي نه خوږ يږي داغ ولي پرايږدي؟

۴۸۴ـ چه سره ونه مېژي، سره به ونه ګټي.

۴۸۵ـ چه سوي تر پلوده، تازي ته غول ورغله.

۴۸۶ـ چه شپه ئي تر مينځ وي، دهغې بلا مه بېر يږه.

۴۸۷ـ چه شل ګله ور کي درې ګله ورنه کي ګل بې نه کي (۱)

۴۸۸ـ چه ښه هلته شپه.

۴۸۹ـ چه طلب ئي کوې پر پيښ به سي.

۴۹۰ـ چه عقل نه لري پر کور بې تل غم وي.

۴۹۱ـ چه عقل ئي کم وي، بار ئي دروندوي.

۹۴۲ـ چه علي درسره مل وي خطره نسته،

(۱) ددې څخه مطلب ښځه ده

۴۹۳ـ چه غل نه ئي د باچانه مه بېر يږه.

۴۹۴ـ چه غل نه تښتي، مل دي وتښتي.

۴۹۵ـ چه غواړې ئي پروا به وړې.

۴۹۶ـ چه غو ته په لاس خلا صيږي حاجت وغاښ ته نسته.

۴۹۷ـ چه غور ځي، هغه پرزي.

۴۹۸ـ چه کچني وي پر پښو ځي، چه لوي سي پراوږو ځي.

۴۹۹ـ چه کچني ونه ژاړي، مورتي نه ور کوي

۵۰۰ـ چه کرې، هغه به ريبې.

۵۰۱ـ چه کلي په نامه لرې يو خوي تر نور و ښه لرې.

۵۰۲ ـ چه کور پر غره لري هم نوي هم زاړه لري.

۵۰۳ـ چه ګرنګ مي څڅېده، چه خدای را کړه ستائي څه؟

۵۰۴ ـ چه لري دي، لري ئي، لړي دي لړي ئي.

۵۰۵ ـ چه لږ خوري هغه تل خوري. چه ډېر خوري ګنډ هېر خوري.

۵۰۶ ـ چه لو کونه وينې ځنې ځغله.

۵۰۷ـ چه لوي غاپي، کچني تر اپي.

۵۰۸ ـ چه له ماز يږي، بلا زيږي.

۵۰۹ـ چه له خدايه پټه نه وي، د بند ګانو ئي ولي پټوي.

۵۱۰ـ چه له ياره وائي له ځانه وايي؟

٥١١ - چه مربی لری مر با خوره .

٥١٢ - چه مړونه وی ، هلته کورونه وی .

٥١٣ - چه مړ سو ، هغه بړ سو .

٥١٤ - چه مشر ئې ساوې وی ، لښکر ئې گو زاوې وی .

٥١٥ - چه مشر ئې وی سپی ، د کشر څه کمی .

٥١٦ چه مشر ئې غمبروی ، اختري مازدیگروی .

٥١٧ - چه ملا وائي ، هغه کوه چه ملا کوی هغه مه کوه .

٥١٨ - چه مور دی نه وی په پلر گنی ، هوری ولی ځی لیو نی ؟

٥١٩ - چه مور لری ادکه - په صفت به ئی واده که ،

٥٢٠ - چه مور ئې بتیاری وی ، زوی ئې نه فتح خان کیږی .

٥٢١ - چه مور میره سی ، پلار پلند رسی .

٥٢٢ - چه مینه زهیروی ، کتی ئې وهه .

٥٢٣ - چه نغده دی ولیده ، څنگه دی وخندل .

٥٢٤ - چه نه کوی حبیب ، څه به و کی خوار طبیب .

٥٢٥ - چه نه کار ، په هغه دی څه کار .

٥٢٦ - چه نه دی وی دموره داسی مه وایه چه ورو ره .

٥٢٧ - چه نه خوری له باغ ، غم به ئی پر څه خوري غرمسا غه .

٥٢٨ - چه نه ځي وا به دی خلم ، چه نځي څه درو کم .

٥٢٩ - چه نه دی وی له ملا ، داسی مه وایه اغا .

٥٣٠ - چه نه لری هلك ، هغه کور دتیغ لایق .

٥٣١ - چه نه لری سړی ، نه دی کورت خوری نه غوړی .

٥٣٢ - چه نه غوا رم هغه مه راپیښوی .

٥٣٣ - چه نه لری پنگه ، مه کښینه دچاله څنگه .

٥٣٤ - چه نه مرم لا به واروم .

٦٣٥ - چه نه دی وی دپښته ، دهغو کسانو تښته .

٥٣٦ - چه نه پوهیږی ، دهغه دوي برخی .

٥٣٧ - چه نو اله خوری ، جانباز به وهی .

٥٣٨ - چه نه منې دیار پندونه ، لاس به نیسی پر سرونه .

٥٣٩ - چه نه ځنی خلاصیږي ، بربر پرور څه .

٥٤٠ - چه نوای دخدای زورونه ، دهرچاپس وه خپل کورونه .

٥٤١ - چه راوري وایه ، چه وینی مه وایه .

٥٤٢ - چه وخت دښک رسی ، تازی اسهال سی .

٥٤٣ - چه وخت د ختمې سی ، د یتیم پزه وینی سی .

٥٤٤ - چه وخوري دنرلغته ، داسی به کښینې لکه اور ته .

٥٤٥ - چه ودی نه پښتی مه کړه پیزه .

٥٤٦ - چه ورورئې نه کی - پر سپور به ئې نه کی .

۵۴۷ـ چه ولاړسې تر بلخه، د رسره ده خپله برخه.

۵۴۸ـ چه وو یشت نسې، خبر به نسې.

۵۴۹ـ چه وې غواړې پخوله، خوري بې نو پڅه.

۵۵۰ـ چه هلك ونه ژاړی، مورتی نه ور کوی.

۵۵۱ـ چه هوږه ونه خوری، د خولې ئې بوی نه ځی.

۵۵۲ـ چه هوس دی، د غونه بس دی.

۵۵۳ـ چه هوسۍ وهی دهغو تازیانو خولې توری وی.

۵۵۴ـ چه یو لور ئې تر ملاوی، مې ځنی رغوه.

۵۵۵ـ چه ئې یاد کړی په وړوك توب، هېر به ئې نه کړی په زړ توب.

۵۵۶ـ چه یو وهم، بل په رنګیږی.

۵۵۷ـ چه ئې زده کی پر پېکی، هېر بې نه کی پر نګښ.



۵۵۸ـ چه ئې نه زده د کمیسه غاړه، هغه ئې خوری په لکه غاړه.

۵۵۹ـ چه ئی زده د کمیسه غاړه، هغه لا کله شړلې ولاړه.

۵۶۰ـ چونه انار وبولی چه سر ئې په کټو کی پرې کی.

۵۶۱ـ چیری دی وهم، چیری دی باسی.

۵۶۲ـ چیری هېډو، چیری ګېډو، راځه چه سره ځو.

۵۶۳ـ چیری کس، چیری څنګل.

۵۶۴ـ چیری چه ډنګ سی، دابۍ ګوډی تر څنګ سی.

۵۶۵ـ چیری کلاله ګوره، خو خپله سیاله ګوره.

خ

۵۶۶ـ خانده خانده، ښه کوردی اوډلی دی.

۵۶۷ـ خان صاحب. یو تار ورېښم نه خوړ، لس زره روپۍ ئې وخوړلې.

۵۶۸ـ خاوره دخس د ګوره اخیست کیږی.

۵۶۹ـ خبر دخدای دپاره، لوړ دور وردپاره.

۵۷۰ـ خبره تر خبره پوری یادیږی.

۵۷۱ـ خبرې چه افغانی کوی، نې پلار کوی نې ادې کوی.

۵۷۲ـ خبر زده که بیائې و که.

۵۷۳ـ خبری ډیری سر ئې یو.

۵۷۴ـ خبری ښې کوی، لکۍ ئې کږی کوی.

۵۷۵ـ خپل سر په پخپله نه خریل کیږی.

۵۷۶ـ خپل عمل دلاری مل.

۵۷۷ـ خپل عیب داوږو مینځ دی.

۵۷۸ـ خپل که دی مړ کی، و لمرته دی نه غورځوی.

۵۷۹ ـ خپل کور، یاخپل گور.

۵۸۰ ـ خپل پرتنـگسه په کـار دی.

۵۸۱ ـ خپل دایه نس. دبل دایه‌وس.

۵۸۲ ـ خپل‌به دی وژروی، پر دی به دوی خندوی.

۵۸۳ ـ خپل‌به‌ازار سی بهزاره کیبزی نه.

۵۸۴ ـ خپل دامی خپله کې دبل دا می هم خپله کې.

۵۸۵ ـ خپل ځان دی ساته، بل ته مـه وایه چه غله ؟

۵۸۶ ـ خپل‌مال ترستر گو لاندی ښه دی.

۵۸۷ ـ خپل وطنه، گل وطنه.

۵۸۸ ـ خپل‌خپل، پردې په ډیرو ناروخپل.

۵۸۹ ـ خپل‌خپل وپیژنه، پردی پردی.

۵۹۰ ـ خپله خوله هم کلاده هم بلا.

۵۹۱ ـ خپله پښه خپله پنه پیژنی.

۵۹۲ ـ خپله لاسه گله لاسه !

۵۹۳ ـ خپله خوله په بل نه‌وچیبزی.

۵۹۴ ـ خدای دکراری مل دی.

۵۹۵ ـ خدای دناروا مل نه دی.

۵۹۶ ـ خدای دناروا ملانه تړی.

۵۹۷ ـ خدای په رشتیا خوښیبزی.

۵۹۸ ـ خدای دحق ملـگری دی.

۵۹۹ ـ خدای شرلی نه سمیبزی.

۶۰۰ ـ خدای و هلی‌د خلـگو نه شرمیبزی.

۶۰۱ ـ خدای دی په هغو پوښته چه‌لری‌ئې.

۶۰۲ ـ خدای اومړو سره وپیژانده، مړو او مړونه نه سره پیژنی.

۶۰۳ ـ خدای دی هیڅوك داسی نه که چه خپله درنه که دبل سپـکه.

۶۰۴ ـ خدای یودی، روزی‌ئې دبری دی.

۶۰۵ ـ خدای چا لیدلی نه دی، پر صنع او پر قدرتو ئې پیژنی.

۶۰۶ ـ خدای خبردی، چه ترهٔ کا پر دی.

۶۰۷ ـ خدای اوباچائې‌را کوی شیخ میرئې نه را کوی.

۶۰۸ ـ خدایه لوی‌می کې، لویی رامه کی.

۶۰۹ ـ خدایه لویه ؟ ماوسا تې بې زو یه.

۶۱۰ ـ خدای وای ته حرکت کوه، زه به حرکت کوم.

۶۱۱ ـ خرا به‌ښځه دبل ده.

۶۱۲ ـ خر پرلار که، خپله‌چار که.

۶۱۳ ـ خر پلار که، خپله چار که.

۶۱۴ ـ خرپه پالانه نه دریبزی.

۶۱۵ ـ خرپه‌اته، کوتې ئې په شپیته.

۶۱۶ ـ خرپه وهلو نه آس کیبزی.

۶۱۷ ـ خرپه غره کی بوعلی دی.

۶۱۸ ـ خرپه سباڅه خبر ؟

۶۱۹ ـ خرنه‌دی کچردی، په‌پوری دخره‌سر دی.

۶۲۰ ـ خرچه ترخره‌یانه‌سی غوزئې پریکه.

۶۲۱ ـ خرچه پردانه مړسی شهید دی .

۶۲۲ ـ خرچه ترمکې ولاړسی هغه خردی .

۶۲۳ ـ خر دباره سره خوری .

۶۲۴ ـ خر که مری ، دیګان به وړی .

۶۲۵ ـ خرله باره ولوېدی ، دګوزه ونه لویدی .

۶۲۶ ـ خرو ځان ته اریان و ، خاوند وبار ته .

۶۲۷ ـ خرې موری ، خوږی موری .

۶۲۸ ـ خر هغه دی ، ځل ئې نوی دی .

۶۲۹ ـ خره ته دی خدای ښکر نه ور کوی ، که ښکرور کی دغویونسو نه به څیری کی ،

۶۳۰ ـ خره ته ئې ویل زوی ته وشو ؟ ده ویل څه ئې کوم هغه به خپل باروړی زه به خپل .

۶۳۱ ـ خره ګله که ، بیا ګله که .

۶۳۲ ـ خړ سپی دشر مښ ورور دی .

۶۳۳ ـ خلګ په لېونی پوری خاندی ، لېونی په خلکو .

۶۳۴ ـ خوار چه خوارسی باك ئې نسته ، عزیز کرده سړی چه خوارسی تل دی ژاړی .

۶۳۵ ـ خوار په خپله خواری نه شرمیږی .

۶۳۶ ـ خوار تلتک نه در لود ، چه پیدا ئی کی تر غرمې پکښی پروت ؤ .

۶۳۷ ـ خوار کبر جن ، دخدای دښمن دی .

۶۳۸ ـ خوار خدای کړې ، سپی چا کړې ؟

۶۳۹ ـ خوار سو ، له ټره ونه لوېدی .

۶۴۰ ـ خوار سړی ابلك ئې سپی .

۶۴۱ ـ خوار کبر جن ، زوړ زنا کار خدای نه بخښی .

۶۴۲ ـ خواره وږې ، څه به وخورې دسوی دسبزی .

۶۴۳ ـ خواره بازاری ، هغه ته هغه خواری .

۶۴۴ ـ خواره سی مکاری ، چه هم جنګ کوې هم ژاړې .

۶۴۵ ـ خواره کی هغه مینځه چه د مینځی کو نه مینځی .

۶۴۶ ـ خواره سې چرګی چه له خیاله مستک نه خوری .

۶۴۷ ـ خواره به دی غواړم نه دور وردمر که .

۶۴۸ ـ خوار هندو دی چه ایمان نه لری .

۶۴۹ ـ خواره هغه کړې چه ګاللای ئې شی ، بوره هغه کړې چه ژړلای سی .

۶۵۰ ـ خواری لوری تخت به زه در کم ، بخت دی خدای .

۶۵۱ ـ خواری دمړو په شاده .

۲۵۲ ـ خواره درنګه خوړل کیږی .

۶۵۳ ـ خواښی پرزوم ریږدی ، زوم بې لور ورپریږدی .

۶۵۴ ـ خوری تخت به زه در کم ، بخت دی خدای در کی .

۶۵۶ ـ خوربی دماما دمینی دښمن دی .

۲۵۷ ـ خوری سوړسك تېغ دپولاو باسی .

۶۵۸ ـ خوږ به دی کم ، نو نه ترځانه .

۶۵۹- خوشی خواری، دلور په لمسی.

۶۶۰- خوله په غاښو ښایسته وی.

۶۶۱- خوله‌دی خپله، گل په وله.

۶۶۲- خوله په ممیزو مه امختمه کوه.

۶۶۳- خوله چه امختمه‌سی، آس نه دی چه قیضه سی.

۶۶۴- خونه که می وسوه، دیو الو نه ئی پاخه سوه.

۶۶۵- خوند دفکرو زیات دی، تر خوند دبکرو. (۱)

۶۶۶- خیراتی آس، غاښ ئی کتل؟!

۶۶۷- خپښی په خوښی، سودا په رضا

❀ ❀ ❀

د

۶۶۸- دابادغونه‌زیره‌وه‌چه‌په تعویذو کی‌ولاره.

۶۶۹- دابی دغونه او گره وه چه په ځکه ځکه خلاصه سوه.

۶۷۰- داپلا که که‌ودیدم اینکی‌می‌ښه‌ز ده.

۶۷۱- داوچاته دخیرك مورهم‌نه ښکاری.

۶۷۲- داخوله، او هغه حلوا؟

۶۷۳- دادی آره، دادی سپاره.

۶۷۴- دادنیا که د یوه سی، هغه یو به په مورنسی.

۶۷۵- دا دحافظ غونډاره ده.

۶۷۶- دادی لابله، ملا گله.

۶۷۷- دازله ئی سپور سپور کی پیاده پلی.

۶۷۸- دآس لغته آس ځغمی.

۶۷۹- داسمانی تکی ځخه ځوك ځان نسی ساتلی.

۶۸۰- داصلی کول سخته ساتنه ئی آسانه- دکمصلی کول آسانه، ساتنه‌ئی سخته.

۶۸۱- دامی سمندوله‌ده، برخه می لانوره ده.

۶۸۲- داورسوی په اور رغیږی. (۲)

۶۸۳- داور په رنامځه، دسپی پرغپامځه.

۶۸۴- داوښ په شا سپو وخورم.

۶۸۵- داوری نه شری کیږی.

۶۸۶- داوښ غلا په چوخه نه کیږی.

۶۸۷- دائی گزدائی میدان.

۶۸۸- دائی ډول دائی ژرنده.

---

(۱) ځینی وایی: خوند دچکر زیات تر پکر

(۲) انیس

۶۸۹ـ دایی ګانې چه د وې سی، د هلك سر کوز راځی.

۶۹۰ـ داسی مه وایه چه زه یم، داسی به سی لکه چه زه یم.

۶۹۱ـ د بابا د غونه زیره وه چه په تعویذ و کی ولاړه.

۶۹۲ـ دپاچازور، دخدای زور.

۶۹۳ـ دبارانه ولاړسو وناوې ته کښېنا ست.

۶۹۴ـ دباران اوریده بویه، دمسافر وتله بویه.

۶۹۵ـ د بد سره چه ښه کړې، لکه خره ته چه واښه کړې

۶۹۶ـ دبد و دلاری لاغلی، لا لیری.

۶۹۷ـ دبدی خبری بدی جواب وی.

۶۹۸ـ دبدی خبری سل کاله عمر دی.

۶۹۹ـ دبزې چه بدن کاو کی د شپانه ډوډۍ خوری.

۷۰۰ـ دبل تلتك ترنیموشپو وی.

۷۰۱ـ دبل کورنیستی نه لری.

۷۰۲ـ دبل کور چاخوار نه دی لیدلی.

۷۰۳ـ دبل کار که دی ښه و کی لاس په تور که دی بد و کی مخ په تور،

۷۰۴ـ دبل کار دایمان په رڼا کیږی.

۷۰۵ـ دبل په پرتاګه ځان نه پټیږی،

۷۰۶ـ دبل وطن یاری، دسر سوداده.

۷۰۷ـ د بل ترزوی خپله پکه لورښه ده.

۷۰۸ـ د بل کار چه ښه و کې لاس په تور چه بد ئې و کې مخ په تور.

۷۰۹ـ د بل تر و ر جو غو ښو سو ړ سك د کو رښه دی

۷۱۰ـ دبل ډ «یاجنګ» وډۍ یا پوردی یا پیغور.

۷۱۱ـ دبل غم نیم اختردی.

۷۱۲ـ د بل په لاس مار مه وژنه.

۷۱۳ـ دبل په لاس کی مړۍ غټه ښکاریږی.

۷۱۴ـ دبل کور خرابیږی زمائی په څه.

۷۱۵ـ دبل په کونه ځی په کادانه ځی.

۷۱۶ـ دبل په کو نه شرط مه تړه.

۷۱۷ـ دبل خړی سام جن دی.

۷۱۸ـ دبنده مخ دخدای دنوره دی.

۷۱۹ـ دبنده هیله ګنده ده

۷۲۰ـ د بې پیره کار بد مذهبه کوی.

۷۲۱ـ دبې کاره خدای بې زاره.

۷۲۲ـ دبې نیازه چه مرورئې، هغونه سودمن ئې.

۷۲۳ـ دپاخه او استاد یک په ورورو پخیږی.

۷۲۴ـ دپایڅی رګ نه پرېښو کېږی.

۷۲۵ـ د پر دۍ توری مصرۍ می لور پرغاړه ښه دی.

۷۲۶ـ د پړا نګ سپینی منګلی. شپنو پوڅی پرې وېشلی

۷۲۷ـ دپسرلی ترد ګلو دژمی اور ښه دی. ترنا کلا له ښځه جره بې کورښه دی،

۷۲۸ـ دپشی ان ان داروسو، دې په خاورو کی پټ کړه.

۷۲۹ـ دپیشی واول تس ته څوك ځان نیسی.

۷۳۰ـ دپیشی که داپزه پیاده‌وه، بیابه دغوښو نوم وانه خلی.

۷۳۱ـ دپښ کورچه وسو، هغونه ښه سو.

۷۳۲ـ د پښ پر دکان که ونه سو ځي، بڅر کی به درو الو زی.

۷۳۳ـ د پلار گټه دامبار کوته، د زوی گټه د زړه غوټه.

۷۳۴ـ دپوردلاس دوه کوره‌خراپیږی.

۷۳۵ـ دپیغلی شل مخه په بخچه کی دی. د پیل یوه تپه مرگ دی.

۷۳۶ـ دتخته که وولیږم، دمځکی نه‌ولیږم.

۷۳۷ـ دترکستانه‌سر نه‌راوزی، دهندوستانه نه‌زر.

۷۳۸ـ دتر بور مرگ د خدایه غواړم نه. د بل دلاسه.

۷۳۹ـ دترم‌چی څه دی، یوپو دی.

۷۴۰ـ تروری په ډیر ایرس، رنگ ئې بدکی‌داولس.

۷۴۱ـ دتش توپك څخه دوه کسه بیریږی.

۷۴۲ـ د توری وهلی به‌جوړسی، د خولی ویشتلی نه‌جوړیږی.

۷۴۳ـ دتوری ټپ جوړیږی، د بدی خبری ټپ نه جوړیږی.

۷۴۴ـ د جان پرښا دی نه یم خپل شوق اخیستی یمه.

۷۴۵ـ دجولا منډه ترموږی‌پوری وی.

۷۴۶ـ دجولاټوپ ترشا مېخه دی.

۷۴۷ـ دځوانی یوه نشته‌ده، نه‌چه همیشه‌ده.

۷۴۸ـ دچازویه، څه دی‌بویه

۷۴۹ـ دچا دروازه مه‌ټکوه په گوته، ستا دابه نه وهی په لغته.

۷۵۰ـ دچاچه یوه ستر گه ړنده‌سی، پر بله لاس ایږدی.

۷۵۱ـ دچاودی‌په‌پلمه، دصوفی غوړه سوه کولمه.

۷۵۲ـ دچادی‌نه‌سی په‌سړی کار ـ چه‌پلار زوی‌شی اوزوی پلار.

۷۵۳ـ دچرگ په اذان نه سهار کیږی.

۷۵۴ـ دچرگ‌غوړه‌ښوروا، په‌مرچو په‌دنیا.

۷۵۵ـ دچغال ترناز دزمری څیرل ښه دی.

۷۵۶ـ دچیدی به لاس‌وانخلم چیدی که‌می سر پرچېدی پرې سی چېدی.

۷۵۷ـ دخاورو ولاړ سوپرایرو کښیناست.

۷۵۸ـ دخبرې یوخوند وی.

۷۵۹ـ دخپل‌وطن گیدړدبل وطن تر زمری ښه‌دی.

۷۶۰ـ دخپل کاله‌خور اولور کړمېږنه‌وی.

۷۶۱ـ دخپل خپلوی ښه ده، نژدېکت ئې ښه نه‌دی.

۷۶۲ـ دخپل کورغل نه‌نیول کیږی.

۷۶۳ـ دخپل‌بام واوری‌دبل په‌بام مه‌اچوه.

۷۶۴ دخپله نه رغیږی.

۷۶۵ـ دخپلی کمبلی سره پښې‌سمی غزوه.

د پښتو چاپ شوی کتابونه

(۱) پښتانه شعراء لومړی ټوک، لیکونکی عبدالحی حبیبی او ملګری .
(۲) پښتانه شعراء دوهم ټوک لیکونکی صدیق الله رښتین اوملګری .
(۳) د پښتو سیند . لیکونکی محمد ګل مومند
(٤) دژبې لیاره « « «
(٥) په پټه د پټو پلټنې « برهان الدین کشککی
(٦) پټه مینه « « «
(۷) لس زړه لغتونه « محمداعظم ایازی اوملګری
(۸) سپګلی پښتو « امل محمد کاکړ اوحبیبی
(۹) قواعد پښتو « محمداعظم ایازی
(۱۰) پښتوژبه لومړی ټوک « مولوی صالح محمد
(۱۱) « دوهم « « « «
(۱۲) دپښتو کلی لومړی « « امین الله زمریالی، خادم
(۱۳) « « دوهم « « «
(١٤) « « دریم « دتالیف ځانګه
(١٥) « « څلورم « عبدالرؤف بینوا «
(١٦) « « پنځم « ګل پا چا الفت
(۱۷) د پښتو کلی شپږم « صدیق الله رشتین
(۱۸) د کوچنیانو اخلاقی پالنه مترجم قیام الدین خادم
(۱۹) نیکبختی لیکونکی ارسلان سلیمی
(۲۰) دپښتو لیک ښو ونکی « محمد ګل نوری
(۲۱) دپښتو ښوونکی دوه جلد « محمدعثمان پښتون
(۲۲) خود آموز پښتو ـ « دقندهار ادبی مجلس
(۲۳) پښتو متلونه لیکونکی زمریالی محمدقدیر تره کی
(۲٤) ملی هنداره دوم ټوکه « محمد ګل نور «
(۲٥) دخوشحال خان کلیات مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی
(۲٦) دعبدالقادرخان دیوان « « «
(۲۷) پښتو از نقطه نظر فقه اللغة لیکونکی یعقوب حسن
(۲۸) په ځان باور مترجم ارسلان سلیمی
(۲۹) دپښتو اصلاحات او محاوری لیکونکی محمد ګل نوری
(۳۰) لوی احمدشاه بابا مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی
(۳۱) ملی سندری لیکونکی محمد ګل نوری
(۳۲) نوی ژوندون « قیام الدین خادم
(۳۳) پښتنې مېرمنې « عبدالرؤف بینوا
(۳٤) پټه خزانه دعبدالحی حبیبی ترجمه او تعلیق او خپرونه
(۳٥) بله د پوه لیکونکی ګل پا چا الفت
(۳٦) لغوی څېړنه « « « «
(۳۷) د پسرلی نغمه « « «
(۳۸) ملی پسرلی « عبدالحی حبیبی
(۳۹) د مېنې مینه د رادیو د نشریاتو له خوا
(٤۰) دوه سره مین ورونه محمد رفیق قانع
(٤۱) دپښتو کلی لومړی لارښوونکی لیکونکی صدیق الله رښتین
(٤۲) دغنمو وږی (منظره) عبدالرؤف بینوا
(٤۳) د پښتو ادبیاتو تاریخ تر اسلام دمخه اول ټوک عبدالحی حبیبی
(٤٤) پښتو سندری ـ ټولوونکی «الفت»
(٤٥) دپښتو دادب تاریخ ـ مؤلف «رښتین»
(٤٦) د پیر محمد کاکړ دیوان ـ مدون او مقابله کوونکی : بینوا
(٤۷) د میرویس نیکه تاریخ عبدالرؤف «بینوا»
(٤۸) د د ار مستتر پښتو څېړنی پښتو کوونکی عبدالحی «حبیبی» او «بینوا»
(٤۹) د ژوندانه لاری « ښاغلی «سیفی» ترجمه
(٥۰) خان جهان لودی « « «
(٥۱) ادبی فنون ـ عبدالرؤف بینوا «
(٥۲) پښتو اشتقاقونه ـ صدیق الله « رشتین «
(٥۳) سیرة النبی د « کشککی « ترجمه

دکانک یه عمومی مطبعی کشی چاپ شو
JAN 25 1949